بسم الله الرحمٰن الرحيم

# سکروټې په ايرو کښې

(شعري ټولګه)

محمد خليل مهجور مسيد

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

د هغو بې درکه پښتنو په نوم چې تر مودو مودو په خپل وطن کښې بې درکه دي- او خوېندې، مېندې يې د راتلو لارو ته ګوري-

په تا به بوټي زرغونه وي
زۀ خواره هيله د راتلو درته لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټول حقونه دلیکوال سره خوندي دي


دکتاب نوم : سکروټې په ایرو کښې

لیکوال : محمد خلیل مهجور مسید

اول چاپ : ۲۰۲۱م

کمپوزنګ : ریاض ساحل(03412311323)

ټائټل : حمدالله (خوازه خېله بازار، سوات)

شمېر : ۱۰۰۰

بیعه : ۲۵۰ روپۍ

د مېلاوېدو درک:

- یونیورسټي بک ایجنسي پېښور
- اباسین کتاب پلورنځایې (قصبه کالونۍ) کراچۍ
- صاحبزاده سټېشنرزاېنډبک سیلرز ډېره اسماعیل خان
- عبدالله بک ایجنسي بولان مارکېټ ټانک-خېبر پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرلیک

بسم الله الر حمٰن الرحیم

وایي د مشرانو خبرې د کاڼي کرښې وي - متل دای - " د لمر پهٔ وړانګو کښې ډېوې بلؤل کار د حماقت دای" بېشکه ساده توب خو خود دای چې پر آسمان ځلانده لمر وي ،او یو څوک پهٔ ورغوي ډېوه ګيې ګرځوي خلکو ته د لمر وړانګې ښایي -- بالکل همدغسې د ادب د یو ادنا وګړکي تاثرات د یو لوړ ادبي شخصیت په باب بې معنا او بې ارزښته وي -

د یو چا په ژوند ، شخصیت،علومیت او چوپړ لیکنې هسې هم مشکل کار دای او بیا چې یو زده کوونکی د ښوونکي په حقله یا مرید د خپل پیر په باب قلم پورته کوي په تور ژمي تخرګونه خولې کوي او بیا چې د هاړ تاودهٔ سبا، بېګا وي او پهٔ هسې تاودشت کښې په ایرو کښې د سکروټو چڼؤل وي - خولې څهٔ چې لکه د اهنګر په بټۍ کښې د اوسپنې ویلوَل دي -

موږ د غرونو خلک یو غرونو کښې ګرځېدل راګرځېدل سره بلد یو- کله کله به چې په ځګو غرو ختلو بیا مو اول د لارې تعین کولو چې له کوم لوري به خېژو-

د علیقدر محترم زما پیر او غایبانه استاد محمد خلیل مهجور صېب شخصیت هم هغه لوړ غر دای چې سړای وارخطا کوي چې د شتمن شخصیت یې په کوم اړخ اول خبره پېل کړم -

د عالیقدر محمد خلیل مهجور صېب پېژندګلوي زموږ و خلکو (وزیرستانیانو) ته څهٔ خاص اړتیا نهٔ لري ځکه چې دې هغه د نوم او نېکنامۍ سره زموږ واړهٔ زاړهٔ بلد دي- البته د وزیرستان نه بهر پښتنو ته د ور پېژندلو په خاطر دې علیقدر له تعارف پېل کؤم -

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علیقدر خپل نوم محمد خلیل دای په کلي - ګاونډ کښې د استاد خلیل یا ډاکټر خلیل په نوم پېژاندهٔ شي- او د ادب په نړۍ کښې یې ځان ته د مهجور تخلص خوښ کړای دای-مهجور صېب په قام مسید/ ماسید دای-په ماسید کښې منزای دای او بیا پهٔ منزي کښې د برومي خېل قبیله سره تعلق لري- د وزیرستان په منځنۍ منطقه ډیلې/ شنکۍ کښې یې د مارچ په 15مه نېټه کال 1951 کښې د نوموړي اروابناد محمد یعقوب خان په دیني کورنۍ کښې سترګې وغړولې- د عالیقدر مهجور صېب نیکهٔ چې وزیرستان کښې د " ابا" پهٔ نوم پېژندهٔ شو یۀ لوی ولي الله تېر شوای دای- همدغه لامل دای چې پهٔ ګرده منطقه کښې د علیقدر کورنۍ ته خلک د قدر پهٔ نظر ګوري -

استاد مهجور صېب لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کښې تر سره کړې بیا تر اتم ټولګي پورې دې کړمه مډل اسکول(منځنۍ ښوونځی) کښې پاتې شو او د هایي سکول (عالي ښوونځی) کانیګرم نه یې په کال (1965-66) کښې د لسم ټولګي سند تر لاسه کړو -

دا رنګ یې د ټانک کالج ( پوهنځی) کښې د دولسم ټولګي پورې زده کړې وکړې او بیا کال 1969 کښې یې په واڼهٔ کښې د ډسپنسر د تربیې سند واخیست -

د ډسپنسر د تربیه نه پس هغه په کال 1970 کښې جمرود خېبر ایجنسۍ کښې په دارالمعلمین / ایلیمنټري کالج کښې داخله واخیسته او په تکمیل یې په کال 1971 کښې د نوښار تحصیل اضاخېل کښې په حېث د یو معلم / ښوونکي کار پېل کړ -

بیا د ښوونکي په حېث وزیرستان ته راغې او د خپل کلي سره دوه درې کلومیتره نژدې هایي سکول شنکۍ کښې یې د درس او تدریس کار پېل کړو- هغه د تدریس په علومو کښې د سي ټي او بي ایډ سندونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستي دي - مهجور صېب تر ريټايرمنټ پورې د درس او تدريس مبارکې دندې سره وابسته پاتې شو او بيا په کال 1998 م کښې د کورني مشکلاتو لامله د حکومتي خدماتو نه رخصت/لاس واخيست-

عليقدر مهجور صېب د درس او تدريس نه علاوه په نورو وختونو کښې د طبابت کار هم کاوۀ - هغه يو تکړه منلے حکيم او طبي ماهر هم داى د کلي په خوا کښې د " ډيلې بازارګوټي" کښې يې تر هغه وخته دغه انساني خدمت کاوۀ چې نابېره په ګړد وزيرستان ىوه توره سيلۍ راغله او وزيرستان ړنګ شو- مهجور صېب هم لکه د نورو کليوالو په نۀ زړه له کلي کډه وکړه او اول ټانک - ډېره اسماعيل خان کښې دېره شو چې د وطن د رغېدلو/جوړېدلو اميد يې پاتې نۀ شو د سمندر و غاړه کراچۍ ته يې کډه وکړه او نن سبا د کراچۍ په ستر ښار کې د ژوند پاتې سبا بېګا اړوي - او باوجود د ناروغۍ او زړبوډۍ د خلکو پۀ کلک اصرار او غوښتنه دارو درمل مريضانو ته ورکوي-خداى متعال ج دې صحت ورکړي چې له قبضه يې تر ډېره برخمن و اوسو- آمين

مهجور صېب لا د اتم ټولګي زده کوونکے ؤ چې شاعري يې پېل کړې- عليقدر اولنى نظم د ۱۴ اګسټ په ورځ کال1964 کښې د «د آزادۍ پۀ ورځ» سرخط لاندې مډل سکول کړمه کښې پېش کړو- دې هغۀ ډېره شاعري ضايعه شوې ده - عليقدر وايي پۀ زرهاو اشعار يې د نژدې تېر وختونو ستر زيانمن جنګ او جدل لامله ضايه شؤل- او يوه حصه يې بچ پاتې شوه - چې هغه يې هم ډېره په منت زارۍ او خوارۍ تر لاسه کړه - دا هغه ټوټې ټوټې را ټوله کړې شوې شاعري ده چې د پخوانو وختونو رنګ پرې غالب داى - البته څۀ مواد داسې هم شته داى پکښې چې د حالاتِ حاضره درک پکښې موندل کېداى شي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



پۀ دغه شعري ټولګه "سکروټې په ايرو" کښې د هغو زمانو ليک هم شته داى چې عليقدر د شپږم - اتم ټولګي زده کوونکاى ؤ-د هر زمان يو ځانګړاى خپل انداز وي چې د ګړد ژوندون احاطه کوي-د يوې ټولنې ادبي رنګ هم هرومرو دې هغې طرز يا انداز تر تاثر لاندې رادرومي- استاد مهجور صېب د خپل دور يو تکړه او ځيرک شاعر داى - د عليقدر شعري ټولګه دې خپل دور عکاسي کوي او پۀ ډېر ښکلي انداز کښې يې د خپل دور ترجماني کړې ده -

لکه څنګه د وخت پۀ تېرېدو بدلون يو قدرتي عمل داى همدغسې د ادب انداز هم د زمانې د غوښتنو سره بدليږي را بدليږي-

د عليقدر شاعري کښې ډېره سادګي ده د ټکو انتخاب يې خوندور داى عام فهم ليک يې کړاى- مشکل پسندي نۀ خوښوي- د قام، اولس په ژبه کښې شعر يې ليکلاي - ده تر خپله وسه کوشش کړاى چې په شعر کښې د ابهام نه ځان و ژغوري ګونګاى شعر نۀ وليکي - مهجور صېب د قام اصلاح غواړي ظاهره خبره ده قامونو کښې عوام زيات وي د خواصو په پرتله - ځکه ده کوشش کړاى چې ببخي ساده الفاظو کښې خپل پېغام تر اولس ورسي-ځکه چې د ده د شاعرۍ اصل موخه يا هدف د قام اصلاح ده- ځان ښوونه يا داسې شاعري نه ډېره کوي چې د قاموسونو له سينو را ايستلي، پور را وړي،ګران او پردو ټکو باندې بار وي - باوجود د دې چې هغه يو معلم پاتې شواى او د پنځو ژبو معياري پښتو ،اردو ، عربي، فارسي او انګليسي ليک لوست کښې پوره مهارت لري -

د عليقدر مهجور صېب په ليک کښې د پخوانۍ املا رنګ غالب داى - پخوا زمانو کښې به د شعر دننه جوړښت پۀ حواله د قيود او حدود پابندي کېدله خو دومره هم نۀ وه څومره چې نني وختونو کښې لکه د "ينګې" پړاى تربنه جوړ شواى داى- دا وجه ده چې د عليقدر مهجور صېب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شاعرۍاو هم پۀ املا کښې د کلاسیک دور اثار جوت ښکاري- علیقدر له اویاو بره عمر کښې راهي دای ځکه و سپېڅلو پخوانو پخوانو ته نژدې پاتې شوای- لهذا په کتاب کښې به پخوانی رنګ غالب وي خو د دې دا مطلب هم نۀ دای چې مهجور صېب د نوي انداز سره بلد نۀ دای خدای متعال ج دومره استعداد ورکړای چې د منثور او منظوم لیک پۀ هر صنف کښې یې طبع ازمایي کړې حتا چې ازاد نظم او د هایکو غوندې نوي طرزونو کښې هم ساه بندي نۀ محسوسوي- خو متاسفانه چې پۀ وطن راغلې د بدبختۍ سیلۍ د علیقدر رنګا رنګ ګلدستې نۀ وای ماتې کړې-

دلته که زۀ د یوې نۀ هېرېدونکې خاطرې/ یاد ذکر نه وکړم- لوی خیانت به وي زما د خپلو احساساتو سره او هم د علیقدر د عمرونو لیکنو سره چې خاورو کښې خاورې شوې دي- هغه داسې چې،مجهور صېب ټینګار راباندې وکړ-چې وزیرستان ته لاړ شې زما د کور زیارت هم وکړه که زما کوم لیک درته په لاس دراغے هغه درسره خوندي کړه او ما ته یې را ولیږه- خدای توفیق راکړ وراغلم د کور دروازه کښې کولپ ؤ- خلاص مو کړ انګڼ کښې ودرېدم داسې راته محسوس شوه کومه هدیره کښې ولاړ یم د کور دیوالونه غمځپلي وو-تا به ګمان کاوۀ د کور هر کونجای ماتم کوي- د علیقدر د ناستې ځای/ کوټه زنځیر مو خلاص کړ- لکه د خوبونو پۀ دنیا کښې سرای ګډ شي-لکه څوک دې چې دریاب ته ور دیکه کړي او د اوبو پۀ ځرخني کښې راګېر شي- په کټونو بسترې پراتې وې خو لکه د خاورو مخونه/ غلافونه ور واغوندي -د علیقدر لمارۍ له کتابونو ډکې وې خو د واینو/ اینو زور ؤ- زیاتره کتابونه واینو خاورې کړې وو چې و کوم کتاب ته به دې ګوتې وروړې د خړو دوړو سره به پر زمکه راتوی شو - ځینې کتابونو باندې د کوټې چت نه د باران ځاځکي را څڅېدلي او پۀ لمارو کښې داسې ویلې شوو وو چې تا به ګمان کاوه د لمارۍ خپله حصه ده -

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د جنګ هغه برکات او ثمرات را معلوم شول چې مونږ ته پهٔ برخه کښې و رسیدل -

د علیقدر فقط یو نظم چې دهٔ 1970ء عشره کښې د حیات اباد/ پېښور په یوه روغتون کښې لیکلای وهٔ چې علیقدر د ناروغۍ پر بستر پروت ؤ نور د دومره لویې خزانې څخه زهٔ خالي لاسونه را ووتم کومه چې علیقدر مهجور صېب له کال 1965 راهیسې خوندي ساتله او وخت پهٔ وخت یې په خپلو زرینو خیالاتو احساساتو پراخوالی ورکاوهٔ- نن پکښې پرته له خړو خاورو او دوړو بل څه پهٔ لاس نه راغلل- دا هغه لویه سانحه ده چې د یو لیکوال فکرونه او احساسات پکښې وژل شوي دي- جنګونه که یو لورای انسانان وژني - ورانۍ جوړوي بل لورای که انسانان ژوندي هم پاتې شي د هغوي فکرونه ورله و وژني-د علیقدر مهجور صېب د دغې لویې ادبي اثاثې په ضیاع که مونږ د هغهٔ د لیک هر هر ټکای و ژاړو - ازاله یې ممکنه نهٔ ده-

نور دې جنګونه نهٔ وي - جنګونه د بربادۍ نوم دای- جنګونه د تباهۍ نوم دای-

د علیقدر مهجور صېب کوم چاپ اثار نشته البته غېر مطبوعه مـوادو کښې د "جامدین کاکا لیکونه" د وزیرستان د آزادۍ په زیار او قربانیو یو ناول " زما بې وسي او زما آزادي" او یوه واړه غوندې افسانه "تللي تللي خلک" شامل دي -

د علیقدر شعر او شاعري ډېر اړخیزه ده -د جلا جلا رنګونو یوه شنه سره زرغونه ده- د دینیت ، قامیت، وطنپالۍ،د بې وزلو انسانانو په بدحالۍ د ژګیروي - د استبداد په خلاف د سرغړونې او په اوړو کښې د مالګې په مقدار چې د شعر خوند پر خپل ځای وساتي،د رومانیت یوه اعلا مرقع ده-

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دلته د مهجور صيب د هر اړخيزې شاعرۍ نه د حوالو او اشارو په صورت کښې په مثل د "مشت نمونه خروار" را وانخلو ،لوستونکي خوند نۀ شي ترېنه اخيستلای-

عليقدر په نظم - غزل دواړو کښې برلاسي لري او په دواړو صنفونو کښې د مقصديت او پيامبرۍ صفت څرګند او واضح ساتي - د بېځايه هرزه ګويۍ- مبالغې او صنايع و بدايع نه د قلم نوکه ژغوري او شعر کښې د خوند سره د پند موخه هم نۀ هېروي - عليقدر وايي لا د اتم ټولګي زده کوونکی وم چې د تخيل وړو وړو مېږو نارامه کړم- ظاهره ده چې څوک دومره وړوکوالي کښې د شعر ښاپېرۍ ته په نظر کښېوځي تر زړبوډۍ به څومره تجربات ځان سره خوندي کړي ځکه د يو هسې شاعر په شاعري کښې پاخوالای هم و کوم صناعي توريو کښې ژباړلو ته اړتيا نۀ لري -

ځواني د هر چا ميراث دای څوک هم ترېنه بې برخې کيدلای نۀ شي - او د ځوانۍ عمر هغه ښايسته عمر دای چې تر اخره يې هم سړای ارمان کوي -

د مهجور صيب کتاب کښې اولنۍ برخه کښې غزلونو ته دويمه کښې تودو نظمونو او د پای برخه کښې يې قطعات او هايکو ته ځای ورکړای-

ځکه دلته د مهجور صيب د ځوانۍ د غزلونو څخه نمونې را اخلو -

عليقدر غزل هم داسې ليکلي چې په هر بيت يې ځانته مقاله ليکله شي- دې هغۀ په غزل کښې هم د قاميت - وطنپالۍ رنګ غالب دای - زياتره غزل يې د رومانوي رنګونو نه پاک دي ټکي يې اسان مګر په معنا ترينګلي کارولي دي -ګويا غزل يې هم انقلابي دي -

يوه غزل کښې د خپلو احساساتو ذکر داسې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه خو مې خيال د پاتې شويو ارمانونو ساته
ډېر پوره شوي دي مرګيه بس يو څو پاتې دي

په ګل وطن راغلي د کړکېچن وختونو او يادونو په باب وايي:

يو ښکلې باب شي د تاريخ ترې جوړېدلای اشنا
دومره قيصې د رنګو پنګو هديرو پاتې دي

د خانانو زامنو ته مخاطب شوای چې تاسو پښتونولي ته کومه تيره و وهله - وايي :

ما ته پۀ کومه خلۀ پېغور د بې ننګۍ را کوې
د خان زامنه تا کښې هم څه د پښتو پاتې دي

بل ځای ورته وايي:

ستا د کوټ او پتلون قدر د خان زويه دلته نشته
چې جامه يې د پښتون وي که شپانۀ دي قدرمن دي

د پښتونخوا د غرونو لوټمارانو/ شوکمارانو څخه مو خبروي - وايي

خزانې د پښتونخوا د غرونو يوسي
د دې دنګو دنګو غرونو غلۀ هم شته دي

کله کله د رومانيت نرای رنګ پرې غالب شوای چې ببخي په پړدو کښې خوندي دای لکه وايي:

روغ سړای يمه په څه نۀ يم دلبره
خو پۀ زړۀ د ننه ښه نۀ يم دلبره

چې مهجور دې لټوي تۀ نۀ موندېږې
چې مې غواړې بيا به زۀ نۀ يم دلبره

د رقيب تنګ نظري يې په ګوته کړې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقیب ژاړي چې مهجور او جانان یو ځای
دهٔ په سترګو دي لیدلي سره ګرځي

بل ځای د محبوب بې نیازي او سر زوري ته اشاره کوي :

ما چې زلفې یادې کړې سپین مخي راته وویل
بیا ګوره په سپینه ورځ د شپې خبره و نهٔ کړې

د وخت د مذهبي خلکو نه هم پوښتنه کوي ورته وايي:

وژل چې د مېرېي ملا صاحبه ګناه بولې
روا شو قتلول ستا پهٔ تقریر د هغو خلکو

د وخت تېري زیاتي ته مخاطب دای وايي:

د ګلونو لو مې ګډ شو ځکه ژاړم
خپل پردي چې دا پهٔ ما کوي دا څهٔ دي؟

له غاصبانو پوښتنه کوي -او وايي :

غریب بنیان کښې هم خولې دای تهٔ خپل کوټ وګوره
دا پهٔ ګرمۍ کښې پهٔ غریب پورې خندا نهٔ ده څهٔ ؟

ستاد پنځوستورو هوټل کښې شته شراب او کباب
وچه ډوډۍ ما له تنبو کښې هم روا نه ده څه ؟

د پښتنې خورکۍ پهٔ بې سترۍ او بې مهاره آزادۍ باندې ژړا کوي او داسې منت زارۍ کوي-

خورې پښتنې بې ستره مه ګرځه پیدا کړه
کومه غیرتي جذبه چې وه ملاله ترور کښې

بل ځای بیا و پښتنو پېغلو ته مخاطب شوای:

څه خو ګرم یو خپل څه د حالاتو پهٔ قصور کښې
ورو شوه حیا ختمه د پښتون په لور او خور کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وزيرستان تاريخي حماسي وختونو ته يې هم اشاره کړې او خپل اتلان يې نازولي دي- وايي:

خوند ؤ د غزا د تېرو تورو پۀ پرکار کښې
پروت چې شهيدان وو سرې سيورې د پرېغل کښې

د وزيرستان پۀ ورانولو يې کچې خفه داى او غالباً د هر غزل په يو نيم بيت کښې يې ذکر کړاى داى - وايي:

چې کوم کوډ کر پۀ ګران وزيرستان وکړلي کوډې
کوم ځاى چې بـه ګلونـه ټوکېدل هلتـه مورچـه ده

د وطن پۀ تنکو ګلالو پسې ژړا کوي او ظالم ته منت کوي چې دا د تنکو ګلونو لو پرېږدي -وايي:

زړۀ دې کاڼى داى ظالمه څه بې وختـه دې تيار کړو
دا تنکى ځواني يې ګوره دا زلمى د مرګي نۀ داى

د پښتون په وېش يې زړۀ آرې داى- وېش کوونکي ته داسې وايي:

د پښتون پۀ لر او بر کښې چې وېش پوخ شي
شا بـه زور ورکـړه تورمخيه خپل دېوال تـه

د پښتو ژبې په ناقدرى د باباګانو ژړا خوبونو کښې ويني- وايي:

ما خوب ليدو چې څوک پښتو د دوزخ ژبه بولي
پۀ دا خبره سمدستي روح د حمـزه و ژړل

د پښتونخوا په بدحالى له واکدارانو پوښتنې کوي او پېغور ورکوي- وايي:

د کشمير ظلم دې لمحه لمحه پۀ خلۀ داى جاري
په پښتونخوا چې کوي ظلم بې زبان يې که نه؟

او بل ځاى بيا د پښتونخوا و بدبختى ته اشاره کوي او وايي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا کړې د دین په نامه بڼه چا د دنیا پۀ هیله
چا نه دي و ژغورو د ګرانې پښتونخوا ګرېوانه

د کلي وطن و لباسي غمخور خلکو ته داسې ګویان دای چې:

غم د خېټې دای د قام پۀ نوم اخستی
د وطن هر یو واکدار ته فکر وکړه

د وطن غنم پلوري جېبونه ډک کړي
ووټ دې ورکړو اوس دا پلار ته فکر وکړه

د علیقدر په غزلو کښې پند او نصیحت هم شته دے- هغه د شعر د لارې د وعظ کار هم تر سره کړای - وایي:

احترام د هر سړي کوه مهجوره
خو د هر سړي نه پلار مه جوړوه

بل ځای د راز خوندي نۀ ساتلو په باب وایي:

د راز ورغومي به دې شي ټول د لېوانو خوراک
د زړۀ له شپول دې د رازونو که رمې و ایستې

بل ځای د دنیا بې ثباتي ته اشاره کوي او لاروي ته وایي -

رنګ ځلي چې ګورې نو بیا دومره فکر هم کوه
دا هم د چا ښکلي وجودونه وو چې خاورې شؤل

د وخت پاخه متلونه یې هم د شعر په جامه ښکلي کړي دي یو ځای کښې لیکي:

چې ژنهای مشر شي د کلي تباهۍ له بس دای
ژنې د کلي شؤل مشران اورونه ولګېدل

د ننني دور خودغرضۍ او ځانځانۍ ته یې ډېر عجیبه توري موندلي دي ته به وایې په آب زر نویسته دي- وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقــــدس د هـــر تـــړون دومـــره خیـــرن شـــو
چـــا تـــه "خپـــل" وئـــیلے نـــۀ شـــمه شـــرمېږم

د پشتون روایاتو او اقدارو بې قدري په کلکه غندي -یو شعر کښې وایي:

پښـــتنې شـــملې مـــې داســـې راتـــه اووې
"مـــه مـــې ږده پـــه داســـې ســـر چـــې ټيټـــوي مـــې"

علیقدر مهجور صیب په خپلو غزلو او نظمونو کښې د خپل وطن ذکر فکر د شعر لازمه برخه ګڼي وایي:

چـې ویـر د وران وزیرسـتان مـې پـۀ غـزل کښـې نـۀ وي
لکـــه چـــې ذکـــر د جانـــان مـــې پـــۀ غـــزل نـــۀ وي

بل ځای بیا په لوستونکي ټينګارکوي چې زما لیک و نورو ته هم ورسوه- وایي:

خپـــل یـــې و لـــولئ او بـــل تـــه یـــې هـــم ورســـوئ
قیصـه د قـام چـې د نقصـان مـې پـۀ غزل کښـې نـه وي

او بیا همدغه غزل کښې د ګرد افغانیت په باب لیکي او ذکر یې پر ځان فرض ګڼي-

ردي ټـــوکرۍ تـــه یـــې ور واچـــوئ او مـــه یـــې لـــولئ
چې درد او غـم د خپـل افغـان مـې پـۀ غـزل کښـې نـۀ وي

د نـام نهـاد خونـدي چالبـاز غمخورګربـوان تـه لاس اچوي د ګـړدې بدبختۍ سرغنه یې نوموي او ورته وایي:

لاړل ســـتا بچـــي ســـبلونو د لنـــدن تـــه
شـــاګردان دي پـــه ســـرو وینـــو لامبـــل غـــواړي

د خپل کلي وطن نه د مهاجرت پـه بـاب ببخي زیات خفـه دای او ځان ته پېغورجنې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل "بوړي" ټوپک په خوا کښې مړۀ واى
خو مونږ له توپو تښتېدلي نه واى

زړې جامې او دا زړه لوپټه
خوريې خورزۀ خور مې ليدلي نۀ واى

و خپل قام ته مشورې ورکوي چې له بدبختيو رابهر شي لاره ورته ښايي او ورته وايي:

يا خو د وخت د سامري د غوا بچاى مه پرېږده
او يا ګيله پۀ خپلو څښو هاروني مه کوه

په وزيرستانۍ لهجه کښې يې طبع ازمايي کړې او ښۀ خوندور نظم غزل يې ليکلي دي:

د وزيرستانۍ لهجې دې يوه غزل مقطع کښې وايي:

ميدون دې مينې کشې بې خوفه بې خطره ګرځي
مهجوره تل کوي بې تيرې ننګيولي مشقينه

مهجور صيب په پښتو ميئن شاعر داى هغه د پښتو په باب کار کول غواړي او ملګري غواړي:

يو جماعت راته پکار داى د پښتو د تبليغ
يو څو کسانو ارادې د سه روزې کړې دي

بل ځاى بيا وايي:

زياتوب د علم غواړي نورې ژبې زده کول هم
ليکو، لولو او وايو پۀ پښتو کارونه کيږي

پښتون د ځان احتساب ته مراجعه کوي چې خپل ګوګل کښې سر د ننه کړي- وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون دې خپل کتاب د عمل و لولي څه وایي
فرقې فرقې پښتون دای عذابونه دي وریږي

د وزیرستان د راتلونکي په حواله خوشبین نهٔ دای بلکې خدای مه کا څه بل رنګ پېشنګویي کوي:

پهٔ ګران وزیرستان کښې لا پاسته نوي ازغي دي
مهجوره خلک وایي سرهٔ ګلونه دي وریږي

کله کله شاعر د ځان سره پهٔ ترمو ترمو ژاړي ځکه چې د حالاتو نزاکتویني د قام بربادۍ ویني د راتلونکي په باب یې علامې څوروي دا ځکه چې شاعر سترګور وي-هغه ، هغه څه ویني چې ډېر کم یې بل څوک ویني-مهجور صېب داسې په زړه بار درانه ساعتونه داسې بیانوي- وایي:

چې زړهٔ له غمه شین شي نو له سترګو اوښکې څاڅي
په شین آسمان چې وربځ نه شي باران کله وریږي

او بل ځای د خپل ترلي کور دروازه ویني چې یوچا ماته کړه او په خندا خالي انګن ته ګډ سو:

چې په یو ګوزار د بوټ یې ور زما د کوټې مات کړو
سپاهي وخندل چې یاره دروازه خو داسې نهٔ وي

د مهجور صېب غزلې د پند او خوند نه ډک دي مګر د نظم انداز یې ډېر جارحانه او زوراور دای- د هغه یو یو نظم د ګرد کتاب مخای دای ځکه چې دومره په لوی پېغام ترینګلي دي -که د لیک د اوږدوالي نه نهٔ وېرېدلای ما به له هر نظم نمونه درته وړاندې کړې وای خو یرېږم لوستونکي به ووایي چې بیا د کتاب و لوستلو ته کوم حاجت پاتې شو-

په لنډ ټکو کښې د عنوان / سرخط لاندې د هر یو نظم په حواله یو دوه تمهیدي ټکي لیکم نور یې تاسو پخپله ولولئ -

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم "تبره ورځ" کښې مهجور صیب د تیرې ورځې نه روزداد پوښتي او اخر کښې د پښتون او د غلام خلکو د راتلونکي لپاره ارادې او ولولې پوښتنه کوي -

دا رنګ د مهجور صیب یو بل نظم "پوښتنې" کښې هم د مزدور او مقهور خلکو د سپېرۀ نصیب په باب پوښتنې شوې دي چې کله به له بدبختیو برات ومومي -

"اوس مه راځه لالیه" سرخط لاندې نظم کښې هم د پښتون بې وزله ژوند ته اشاره ده چې یو پښتون خپل محبوب ته ټینګارکوي چې زۀ خو هسې هم د حالاتو ښکار یم تۀ مه راځه تۀ راسره ځان په بدبختیو کښې مه شریکوه-

د مهجور صیب یو اوږد او شاهکار نظم " د پرېغل پۀ تناظر کښې جنوبي وزیرستان ته"هم پۀ لولو ارزي -

"اې مسکنه د غازیانو اې مورچې د باتورانو" کښې وزیرستان ته مخاطب شوی دای - تاریخي حوالې دي پکښې او د پرېغل د جګوالي په تناظر کښې د قام د ارادو چګوالای غواړي - او له پردو یې آزادي مطلوب ده-

دا رنګ یو بل تود خوندور نظم

" جنوبي وزیرستان ته دعا او خواستونه " چې پخوانی نظم دای چې هغه وخت وزیرستان د بدبختیو توري سیلۍ نه و ځبولای- دغه نظم کښې مهجور صیب و خپلو خلکو ته خواستونه کړي دي د جوړښت او یووالي خبره یې کړې ده- بلا مبالغه یو اعلا نظم دای -

"د آزادۍ په ورځ " سرخط لاندې نظم کښې د یوې بورې مور روداد بیانوي چې د آزادۍ په ورځ په خپل شهید زوی پسې ژړا کوي- داسې توري یې کارولي چې د کاڼي زړه هم نرموَلای شي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل تود نظم چې بیخي یې هر ټکاى نارې وهي" بلنه" داى - دغه نظم کښې علیقدر مزدور او محنت کش خلکو ته بلنه ورکوي- او بیا غټانو غاصبانو ته غږ کوي خپل حساب کتاب راوړئ-

اې خوارانو غریبانو راشئ راشئ - هغه بلنه ده چې د ډېرو خوبونه تښتوي-

د "راشه " سرخط لاندې لیکلاى نظم یې بلا ارزوګانې لري- هر بند یې جدا جدا غوشتنه کوي- ډېر تود او خوندور نظم داى-

مهجور صیب تل د خوارانو ملنګانو او بې کسو خلکو طرفدار پاتې شواى داى شعر کښې د دغو طبقو ذکر د ده د کلام خاصه ده-

د "راپک"سرخط لاندې نظم کښې علیقدر د یو ګړدبون روداد بیانوي چې له خلکو خېرات غواړي- دا کردار ربښتونى داى او دا ملنګ زموږ ډېرو خلکو پیژندلو- علیقدر وایي چې راپک که جېب کښې کلدارې لرلئ راپک نه خلکو به ورته راپاخان وېیل- ډېر ترخه احساسات دي دغه ذکر شوي نظم کښې-

د علیقدر یو بل نظم داى چې عنوان یې داى - "زخمي ګوته " -دغه نظم کښې مهجور صیب د یو غریب اشپز / پاختني روداد بیان کړاى چې ګوته یې غوڅه شوې وه او په تنور یې د غوښې ګوتې سره روټۍ پخولې- ترخه او زړه سواند احساسات یې راجمع کړي دي-

"څوک دے؟ " سرخط لاندې نظم یې ډېر مشهور نظم داى چې په کال 1970 کښې "روزنامه شهباز " کښې هم خپور شواى ؤ -

یو بل خوندور نظم " د کاروان منځې په سر" کښې د یو مزدور په ژوند او کړاوونو خبره کوي دا هغه زمانه ده چې د کوټکي او کانیګرم سړک نواى نواى جوړ شواى ؤ خلک د سړک په جوړښت خوشحاله وو او مهجور

(c) ketabton.com: The Digital Library



صېب ته هغه مزدور سترګو کښې وړاندې وړاندې کېده چې دغه تور سړک يې د تارکول په تودو فوارو کښې ورته جوړ کړای-

د خپل کلي يو لېوني په مرګ يې نظم ليکلای دای "د لېوني پۀ مرګ"- دا دومره تريخ او خوږمن نظم دای چې زړه سواند خلک د اوښکو په نذرانه او فاتحه مجبوروي- دا د هغو زمانو يادونه دي چې عليقدر وانه کښې د ډسپنسر ټرېننګ کوي او کلي ته په رخصتي راغلای-

"د خان جېل" د طنز يوه نمونه نظم دای چې مهجور صېب ځان ته همدغسې جېل خوښ کړای-

يو بل نظم "غمژن اختر" کښې عليقدر د غمجنو کورنيو په باب ليکنې کړې دي دا هغه زمانه ده چې د پاکستان نوي زره پوځيان انډيا زنداني کړي وو- د زندانيانو د ژوند مرګ په حواله د دوی کورنۍ غمجنې وې او غېر يقينې صورت حال جوړ ؤ-د دغې وختونو اختر دوي څنګه لمانځلای نظم کښې ثبت شوای دای-

"يو شاعر ملګري ته وصيت" کښې عليقدر د خپلې شاعرۍ خوندي او ژوندۍ ساتلو په باب يو شاګرد ته ليک کړای - چې زما په حال ځان خبر ساته او شايد هغه ملګرای يا شاګرد يې اخته دای او دغه کتاب يې د عملي کړنو ژوندای ثبوت دای ي- ان شاءالله

يو بل سپېکي سپېکي نظم. "بغاوت "چې دغه مهجور صېب هغه زمانه کښې ليکلای چې ذوالفقار علي بهټو د پښتونخوا او بلوچستان حکومتونه مات کړي وو-

"د پرېغل د څوکې بازه " سرخط لاندې ليکلای نظم اوږد دای او ډېر عجيبه انداز کښې يې د وزيرستان خلک مخاطب کړای - د يو دومره خوندور او سبق اموز نظم دای چې قاري تر پايه پورې سترګې نۀ شي ترېنه اړولای واقعي د صفت وړ نظم دای-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما اول هم ذکر کړای چې علیقدر غریب یار دای مظلومیار دای څکه یې د لیک زیاتره برخه د غریب او بې وزله خلکو متعلق ده او د غاصبانو پر ضد قوي ضرب دای -

"دهقان ته " نظم کښې هم مهجور صبب د یو کروندګر په خولې خولې ژوند خبره کړې او د دۀ له خولو مستفید غاصب یې غندلای -

د مهجور صبب اخیرنے خو پۀ اصل کښې اولنے اوږد او ژوندای نظم "پښتون ته " تر عنوان لاندې لیکلای شوای دای دغه نظم کښې علیقدر پښتنو زلمو ته تېرې هېرې خاطرې ور یادې کړې دي او لکه آیینه یې ورته مخامخ کړې چې پښتون پکښې خپل ځان و ویني-

دا ډېر ګټور او خوندور لیک دای باید هر پښتون ته و رسي او د زړه پۀ سترګو یې ولولي- مبالغه نه ده- د خوند او حېرانتیا خبره خو دا ده چې دغه نظم علیقدر کال ۱۹۶۶م کښې لیکلی چې دے د اتم ټولګي طالبعلم ؤ-

د "سکروټې په ایرو کښې" اخري باب په قطعاتو او هایکو پېرلای چې لکه د منګیز په لمن په زرزري تیلو ګلدوزي وشي-

قطعات یې هم بې پنده یا بېخونده نۀ دي لنډي ببتونه دي چې اوږده تمهیدونه لري-

علیقدر په یوه قطعه کښې د خپلې زړبوډۍ وېر په داسې ټکو کښې کړای-

پوی د ژوند پۀ نه بیګا نۀ پۀ سبا شؤم
ان تر دې چې کم و بېش زۀ د اویا شؤم

د ځوانۍ ارمان سلګۍ وهي پۀ زړۀ کښې
د ځوانۍ ارمان کؤمه چې بوډا شؤم

بل ځای کښې ډېر حکیمانه انداز کښې سیاستمدارانو ته وایي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــــور تـــه لالـــچ د دولــــت مــــه راکـــوئ
زمـــــور دا خپلــــه غريبــــي ښــــه ده

نـــور مـــو لـــه کـــاره پـــۀ جلســـو مـــه باســـئ
زمـــــونږ دا خپلــــه مــــزدوري ښــــه ده

عليقدر ډېر تېز او تُند طنز کوي چې مدمقابل يې ځواب نۀ مومي-
د وزيرستان د کړکېچنو حالاتو په وخت په کډه کښې يو کليوال سره خبره سپينوي-

يـــو تربـــور مـــې پـــۀ" تورمانـــدي " کښـــې خبـــره وکـــړه
کور کښې دې مړۀ واى خو چې دومره لرې تللي نۀ واى
مـــا ورتـــه اووې چـــې لا اوس هـــم ډېـــر راغلـــي نـــۀ يـــو
وې يې چې کـور د مرګـي رنګ کړې چې ښاغلي نۀ واى

بل ځاى بيا پېغورجنه کښې وايي-

چـــې پښـــتو د کليوالـــو پـــۀ شـــان نـــۀ کـــړې
بيـــا پښـــتون چـــې ځـــان تـــه و نـــۀ وايـــې ګـــوره

د" ترلـــې" مـــې د کمخـــو ســـره ســـم نـــۀ دي
ســـــتا دا ښــــکته للېــــدلي بريــــت تربــــوره

کله کله د زلميتوب تبجنې ولولې په قطعه کښې للو کوي- وايي:

پـــلار تـــه دې وايـــه چـــې انکـــار و نـــۀ کـــړي
پښـــــتون زلمـــــے يمـــــه زۀ مـــــړي کـــــوَم

خـــو زۀ هغـــه پښـــتون هـــم نـــۀ يمـــه چـــې؛
پـــۀ ســـرو منګولـــو پـــۀ تـــا پـــړي کـــوَم

کله کله قطعاتو کښې شوخي خوندي کړې لکه يو ځاى وايي -

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وې چې ښۀ د کار خلک دي
د ښۀ کردار، د ښه ګفتار خلک دي
جانان مې رو غوندې پۀ غوږ کښې ووې
"دا شاعران هم ښۀ وزګار خلک دي"

قطعات دې دومره بس وي ځکه چې ما پېل کښې د مشت نمونه خروار وعده کړې وه -

هايکو يو ښځي نواى انداز داى د منظوم ليکنو- پوهان وايي د جاپان تخليق داى-

عليقدر مهجور صېب په دغي نوي انداز کښې هم د خپل قلم زور ازمېيلاى داى او پکښې برلاسے شوے دے-

د نمونې په حېث يوه هايکو راوړم نورې ستاسو په حواله کوُم-

کوشليي ځووني زيېږه پګړۍ دې پۀ سر
داسې کشېژي لکه ولېژدې چې
پۀ دواکي جېنګ دې منې زيېړې ګېډۍ

په پاى کښې به دومره ووايم چې د روغ بادشاه خيال صېب د نظم يو بېت داى "کاش چې ويجاړه پښتونخوا کښې مې زېږون نۀ واى "کاش چې پښتون نۀ واى"

زۀ وايم کاش چې د مهجور صېب په وزيرستان کښې او بيا پۀ منځني وزيرستان کښې زېږون نۀ واى ځکه چې- دا د ادب په حواله هغه سپېره شاړه خاوره ده چې د بلا ناوړه، بېخونده، بې رنګه دودونو پۀ والکه کښې ده دا هغه ترخه خاوره ده چې شاعر اديب پکښې د ما في الضمير اظهار نۀ شي کولاى دا هغه منطقه ده چې شعروشاعري يا ادبي هلو ځلو ته د ډمتوب نوم ورکوي زموږ دغو بېخونده تربتو رسمونو رواجونو زموږ د مهجور صېب غوندې ډېرې قيمتي ملغلرې ضايعه کړې - د احساساتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګونه پکښې کېږي او ډېر لیکوالان لا نن هم په خپل لیک/ تخلیق پورې داسې پۀ وېره ترهه ګرځي ته به ګمان کوې کوم لوی مجرم دای یا یې غلا کړې ده-

خدای متعال ج دې وکړي نور زموږ تکړه د تخلیق خاوندان راڅخه ضایعه نۀ شي د شاعرانو/ لیکوالانو ضیاع د یو قام د شعوري اثاثې ضیاع ده دا هغه سترګور او ځیرک خلک دي ، چې د زمان او مکان معمولي خوځښت هم ډېر پۀ شدت محسوسوي او قام ته اګاهو پېغام او خبرتیا ورکوي دا بېله خبرې ده چې اورېدونکي- لوستونکي لا ورته بابولالې ووایي لا د خیالي دنیا خبرې-

په هر صورت موږ له راتلونکي کهول څخه هیله لرو چې دوی په دغه حواله پامته دار و اوسي او دومره ځنډ نۀ کړي چې د لعلونو خزانو ته توري پنجې و رسي-

د ادب یۀ ادنا زده کوونکي پۀ حېث خو زما وړاندیز دا دای چې پۀ مرګ د یو بل کالیزې یا تلین لمانځلو نه به دا خبره سل واري غوره او بهتره وي چې پۀ ژوند یو بل سره و پېژنو- یو بل سره و نازؤو او یو بل ته مینه او احترام سره ورکړو- ځکه چې:

دا جهـــــان دخپلـــــوی کـــــور دای
ځانځـــــانی لـــــره خـــــو ګـــــور دای

په سوچه او توده پښتونواله مینه
سره د ټولو ادابو او احتراماتو
مظلومیار ماسید
ډېره اسماعیل خان/ پښتونخوا
28م جولایي ۲۰۲۱م
د هاړ ۱۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهجور صاحب چې زهٔ څو مره پېژانهٔ

بسم الله الرحمن الرحیم

دا دې 89-1988 خبره دو چې کله دې مو په پي - ټي - سي پوسټ اردر وشهٔ- هغه هن دې مهجور صاحب و کلي ته نژدې هایي سکول شنکئ بندې- دغه وخت دې شنکئ هایي سکول هېډماسټر دې مو ساکه نیېیهٔ/ماما قدرمن او ګرون محمد دین صاحب وهٔ چې په قوم نظر خېل دای - زه نوای نوای وهٔ او دا علاقه شې هن بالات نهٔ وهٔ - ایستوذون بندې مې نظر اچووهٔ- چې پهٔ محترم مهجور صاحب مې سترګې ولاګېدې یو غایبونهٔ خوشبویي او پیژندګلي احساس روته کېدهٔ ماما مې تعارف ورته کووهٔ چې دا نورعالم دای دا هن یو شهٔ شاعر دای- هغه ریځې نه ووم پیژندګلي سره وشوه او بیا دې سفر او پرادې کلي وطن واختیري مې په دهٔ پورې په خوند بداله شوه ځکه چې داسې ملګرای مې میندلي چې زه دې دهٔ او دای دې مو په ژاغېدو سره پېدلي - د شعر و شاعرۍ خووژهٔ تروهٔ ووم سره وېشل- دهٔ مو ته اول وور دې "راپک" خدای بخشلي بندې لیکلای نظم تېر که چې په دغه کیتوبهٔ شې هن شته دای- ډېر زیوت ځینې متاثر شوهٔ او ډېر زیوت خوند یې روکهٔ -

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دې مهجور صاحب په شخصيت بندې ليکل کاوۀ- اول خو داسې مناسب ټکي نه ميندا وۀ او بيا که ميندل هن شي پته نشته داى -داى ووى قبيل کوو که نۀ-

د مهجور صاحب شخصيت رڼا ربۀ دو کيمه سيوره - تياره يې په شخصيت نشته ،سپين ، صادق، همدرد ، زړسوبيان ، دې خور غريب يور ملګراى ۀ دې خپل پردى غمخوراى، دې خپلې زمه ورى پابند ، پرهېزګار، او سخي سړاى وۀ، تل انصاف خواشَوينکاى وۀ- مو په سکول شې داى يادګېرنه کړاى وۀ چې سنيئر/جونئير ايستوذونې وې ډېر قدر کووۀ- تعليمي تکړاوولاى خداى ډېر وير وۀ په سکول شې وو چې چا ته هن د سبق په حواله څه مشکل پېش شۀ مهجور صاحب ته ووى وشولي- دې سکول بچيون بندې يې ډېر قدر وۀ او خداى داسې رعب وير کړاى وۀ چې دې سکول په ګېټ وو رو نناوتلي يوه خاموشې وو جوړه شوه يوۀ بل وو سره وېل خليل صېب روغاى ،سنبال شۀ- دا رعب او درانشت وو ويلې نۀ وي چې دا پوس ټولې خوبې خداى وير نصيب کړيې وې -

ډېر محنتي او مخلص ايستوذ وۀ دۀ کله هن په سکول شې د خپل پردې پيرډ ايسوب نۀ داى کړاى چې کلاس شې وو ايستوذ نه وۀ په خپل مخ وو وير نناوتلي او سبق وې بچيون ته ويلي-
مهجور صاحب د هر مظلوم طرفدار شخصيت لري-

دې سکول نه علاوه دې دۀ پرايوېټ کلېنک هن وۀ چې موسپېشين نه بعد وو يې خلوصاولي- خو داى مو چېرې نه داى ليدلاى چې سکول ټايم شې کلېنک ته تللاى وي حالانکې دې سکول ټايم شې وو هن بيمورون دې سکول په چاردېواري رو بدال وي انتظار ووى کووۀ خو دۀ کله هن پېرډ نه پربياش- البته که چېرې وې داس موقع ميندله چې فارغ وو وۀ ايستوذون وو موجود وي بيا وو کله کله بيمورون ته پۀ ګېټ وېر و ووت -

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر دې لرې لرې نۀ وو خلک ورته روتۀ خداى يې لوس شې شفاء اچوليې وه- دې ميډيکل پريکټس نه علاوه داى يو ډېر مشهور حکيم هن داى چې دې حکمت دې شهرت نه يې ډېر لرې لرې خلق خبر داى-

جامې ډېرې دې چې قلم يې بيان پسې نۀ رسې ، ژبه / نوکه يې وچيژي-

دې مهجور صاحب کورنۍ يوه لويه ديني کورنۍ دو- دې دۀ نيکه خداى بخشلاى يو بزرګ وۀ دې خپل وخت ځکه په ټوله علاقه شې خلک دۀ ته او دې دۀ کورنۍ ته دې قدر په نظر کسې-

دياته وو دې يوې خبرې وضاحت وکۀ چې دې دۀ شاعري تر وېسه پورې خوندي سوتلې وجه دا دو چې داى دې يوې ديني کورنۍ سره تعلق لري او دې ميږ خلک په پټې سترګې شاعري په بده مني- حالانکې دې مهجور صاحب شاعري شې خو دې ګل او دې بلبل قيصه هن ډېره کمه دو ليا دې نشت باروباره دو - هغه يو قومي ملي پاشتين او مذهبي شاعر داى- خو بيا هن دې شاعرۍ بدنومي ټکي داى دامره و ځانډووۀ چې نن پنځه پنځوس کوله نه بعد دې دۀ کيتوب چاپ کيژي- خو بيا هن شه دو چې کيمه شاعري يې پوتې دو هغه محفوظ شي او د ژوند په زړېېدې شې يې ارموند پيره شي - البته داغه ظلم نور مناسب نۀ داى-

دې مهجور صاحب شاعري هن داسې خوندور خواناى داى چې هر قسم شيريني پکشې شته داى- ليک يې ډېر پوخ او مطلبي داى- دې قافيه رديف شاعر نۀ داى بلکې هر شعر هر غزل هر نظم يې د مقصد نه ډک داى - لهجه يې بيخي ساده دو خو شعر يې ډېر زورآور داى-

په پيره غزل شې يې يو هن داسې شعر نۀ ميندېژي چې په قافيه ردىف يې ځون خلوص کړاى وي- او دې شعر دې مطلب خيال يې نۀ وي سوتلاى-

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې زړې زمونې شاعر داى- په هغه زمونه شې چې خداى بخشلي حمزه بابا او نورې درانې تکړه شاعرونې وو ادبي غونډې جوړولې دۀ هن په شې شرکت کولي- او دې غزل ستر بابا حمزه عليه رحمه هن شاباسي وير کړي دي دغې نه دا پته لګي چې دې وزيرستان په ادبي دنيو شې چې ليا تياره وه هغه تيارې شې مهجور صاحب يو جاوات ستوراى داى-

دې دۀ دې شاعرۍ دې معيار اندازه دغې نه هن لاګيدله شي چې دې حمزه بابا په دور شې دې دۀ کلامينه په روزنامه شهباز پېښور او نورې مشهورې رسالې شې روتلل-

خو افسوس دا داى چې دې ميژ وطن شې او بيا په ټول پاشتونۀ شې دا بدبختي شته داى چې شاعر سره يې بدي دو- زۀ يايۀ که مهجور صاحب غوندې شاعر په بل قوم شې واى نن وې دې ادب پۀ تاريخ شې يو باب واى او يو نوم وې واى- خو وزيرستان داى او پشتونستان داى چې ژوندي يې بې قدره دي خو مړي يې قدرمن دي-

ميژ ژوندي نۀ سره پرېژدي خو پۀ مړينيې شۀ پاله نازيژي- دا دې قدر او مينې يو بې مطلبه انداز داى-

مهجور صاحب نن سابو لژ بيمور داى خداى دا وکوو دا کيتوب يې دې خواشولۍ او صحت سبب وګرځي- آمين

په غونډه مينه
نورعالم ماسيد
ډېره، پښتونخوا
يکم جولايي 2021م

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد خليل مهجور صيب غائبانه پېژنم

ادب يوه داسې دنيا ده چې څوک ور داخل شي نو تاريخ يې ملګرے شي تل يې ياد ساتي- داسې خلق دمرګ نه وروستو هم لکه ژوندي ياديږي-

ډېر محترم مهجور صيب پۀ وزيرستان کښې يو ځلانده ستورے دے- هسې هم دغه خاوره ډېره ځربه ده د ادب په حواله ، لېکن متاسفانه مونږ څخه خپل تاريخ خوندي ساتلے شوے دے، لکه پير روشان چې لوى ليکوونکے،ستر مبارز او لوى قهرمان تېر شواى داى، هم د دغې خاورے نه ؤ- د ټول پښتون اولس پۀ سر يې ننګ کړے دے- تر دې حده چې خپل زامن او خپلوان يې قربان کړل ، خو د مغلو پۀ خلاف يې د پښتون قام د ساتنې هڅه جاري وساتله -

دغه شان ملا پېونده هم د دې خاورې ځوان ؤ چې د انګرېز پۀ شان دښمن يې هم مېړانه منلې ده-

محترم مهجور صيب هم د دغه زنځير يوه کړۍ ده- مهجور صيب زۀ غائبانه پېژنم- د هغه شاګردانو او نورو نژدې ملګرو څخه مې د هغه د شخصيت پۀ حقله ډېر څۀ اورېدلي دي، لکه محترم مظلوميار صيب، نورعالم مسيد صيب او داسې نور-

وايي مهجور صيب د يوې ديني کورنۍ سره تعلق لري- دغه لامل ؤ چې دۀ تر اوسه پورې خپل کلام چاپ نۀ کړې شو ، چې هسې نه څوک زما کورنۍ ته بد و وايي . ولې چې شاعر ته زمونږ په ټولنه کښې چا پۀ درانه سترګه نۀ کتل ، اوس لږ شعور پېدا شوے دے- نو ځکه دا غنيمت دے چې اوس پۀ دغه وخت مونږ ته دمهجور صيب ليکلے کلام پۀ لاس راشي نو دا تاريخ يوه برخه به جوړه شي او دغه نوي نسل لپاره به يو لوى سبق و ګرځي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو چې ما ته معلومه ده چې مهجور صیب یو د لوړې پایې معلم یا ښوونکے پاتې شوے دے . نن یې هم شاګردان قدر کوي- د خپلې ډیوټۍ ډیر پابند معلم ؤ- او ورسره یو لوی طبیب هم ؤ، چې په وزګار وخت کښې به یې خلقو ته د تداوۍ دارو هم ورکؤل -

مهجور صیب کال ۱۹۶۵م څخه د شعر وشاعرۍ سره تعلق ژوندے ساتلے دے- د هغه وخت په رسالو کښې به یې کلام چاپ کیدو- د لویو لویو شاعرانو سره یې لیدۀ کاتۀ شوي دي لکه اروابناد امیرحمزه شنواري به دې هغۀ لیک ته ډیر په درانۀ سترګه کتل-

مهجورصیب نظم ، غزل او هائیکو ډیر په ښۀ انداز سره تړلي دي -

مهجور صیب پۀ قام مئین سړے دے لکه وایي-

زړۀ خــو مــې غــواړي چــې دې و ســتایمه
خــو دا لفظونــه بــه لــه کومــه غــواړم

پښــتونه ځوانــه کــه دې پــلار غونــدې شــوې
نــو ســتا پــۀ پــلار پســې بــه و نــۀ ژاړم

مهجور صیب زاړۀ وختونه لیدلی دي نو ځکه پۀ شعر کښې داسې وایي:

کلــه کلــه یــادیږي تیــر وختونــه
ښــۀ وختونــه خــو افســوس پــۀ شــمیر وختونــه

مهجور صیب د غریب اولس پۀ حال ژړا کړې ده لکه وایي:

چــې کــور کښــې ډیــوې مــړې وي پتنګــان کلــه راځــي
غربــت چــې ترحــد زیــات شــي نــو یــاران کلــه راځــي

مهجور صیب د خپل وطن وران ویجاړ حال داسې بیانوي:

مهجــوره دا پــۀ وهــم او ګمــان کښــې د چــا نــۀ وه
چــې خــړ وخــت بــه پــۀ ګــل وزیرســتان کلــه راځــي

مهجور صیب پۀ خپل شعر کښې خپلې بیمارۍ او د عمر ذکر داسې کوي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه بیمـار یـم لـڼ مـې خیـال پـۀ مـاه و صـال کـه
د اویـا کـالونو تېـر شـۀمه تـۀ خیـال کـه

مهجورصيب د غزل او نظم سره هائيکو هم ډېر پۀ ښۀ انداز ليکي لکه د حالاتو پۀ تناظر کښې وايي:

دا ببـــر ســـر څېـــرې ګرېـــوان ولـــې ؟
مـــا وې چـــې دا لېـــونے ســـتا مينـــې کـــړم
اشـــنا مـــې وېـــل چـــې دهشـــت ګـــر ليـــدۀ شـــې

مهجور صيب په خپله شاعري کښې د قام سره مينه، د وطن سره مينه ښکاره کړې ده ، پۀ غريب باندې ترسېدلے دے ، د ظالم نه يې ډېره ګيله کړې ده- زۀ دمهجور پۀ ليک ويارم چې وزيرستان کښې هم د نورې پښتنې سيمې پۀ شان دا سې خلق شته چې مونږ ورباندې وياړ کولے شو-

يو اخري شعر چې دۀ پکښې د راتلونکي وخت وېنا کړې ده:

لـر پښـتون کـه سترګې پټې کړي چې خبـر دے زۀ خـو بـچ يـم
د بمونـــو دغـــه بـــوى بـــه را رســـيږي پېښـــور تـــه

مهجور صيب د رومانيت خبرې ډېرې پۀ حياناک انداز کښې کړې دي- چې د دۀ حيا او ديندارې ثابتوي - مختصر ده چې د مهجور صيب پۀ شاعرئ کښې ما دې هغه شخصيت وليدۀ چې د ګڼو اوصافو مجموعـه ده - او لوستونکو ته هم بلنه ورکوم چې د مهجور صيب کلام د زړۀ پـه سترګو ولولي ځکه چې دې هغه پۀ کلام کښې خوند هم شته او پند هم-د غزل،نظم هر شعر يې په معنا پای ته رسي-

اوربدلي مـې دي مهجـور صـيب نـن سبا نـاجوړه دے رب العـزت دې روغ صحت ورکړي چې دا د وختونو راهيسې ځلانده بل مشال مونږ ته زموږ ته راتلونکي په حواله د رڼا وسيله و ګرځي - آمين

محمد اقبال محسود شکتوئ وال2021-7-3

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مهجور صیب سره د هغۀ پۀ لیک کښې لیدۀ کاتۀ

د محمد خلیل مهجور صیب نوم مې څو ځله لۀ مظلومیار صیب اورېدلی ؤ ــ هغۀ به چې کله د مهجور صیب د شعر پۀ حقله خبره کوله نو ورسره به یې دا افسوس هم کاوۀ چې کاش هغۀ ځان پټ نۀ وای ساتلی ــ کاش د خلیل صیب دولس زره شعرونه ضایع شوي نۀ وای.....هغۀ به بیا بیا دا خبره کوله چې کاش د هغۀ شعرونه د کتاب پۀ پاڼو کښې محفوظ شوي وای. نن که یو لوری د مظلومیار صیب هغه ارمان تر سره کېږي نو بل لوری ، پته نشته د مهجور صیب د اوږدو مودو راهیسې پۀ سینه کښې ساتلي ارمان به څۀ کېفیت وي. ډېر د خوښۍ وختونه دي چې د مهجور صیب پۀ شعري ټولګه کار روان دی. مظلومیار صیب ما ته د کتاب مسوده وړاندې کړه او د لیک غوښتنه یې وکړه. ما ورسره هو کړه وکړه او دا زما د خوش بختۍ انتها ده چې زۀ د خلیل صیب پۀ کتاب لیک کوُم. زۀ پېشګي معذرت غواړم. ځکه چې پوهېږم چې د خلیل صیب پۀ شعر لیک کوُل زما د وس خبره نۀ ده.

د خلیل صیب شعر دومره ډېر اړخونه لري چې سړی ورته ګوته پۀ غاښ پاتې شي. زۀ نۀ شم کولی چې د هر اړخ سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انصاف وکړم خو بیا هم هڅه کوم چې په لنډو ټکو کې په څو اړخونو خبره وکړم -

شکسپئر په یوۀ نظم کښې خبره کړې چې انسان په ژوند کښې تر څو مرحلو راتېرېږي د هرې مرحلې خپل احساسات وي.د وړوکوالي خپل ضرورتونه او احساسات وي د ځوانۍ جذبات او احساسات بیا اکثر د "memory long" حصه جوړه شي خصوصاً د شاعر.د شاعر شعري ژوند زما په خیال د هغۀ وخت نه ساه په اخستو شي چې کله هغه د یوې ښکلا د یو احساس اسیر شي. او ښکلا پخپله یو وسیع مفهوم او معنا لري.چې دلته یې ژباړل د لیک د مرام برخه نه ده.زما خیال دی چې د خلیل صیب د ځوانۍ د وخت اکثر شعرونه ضایع شوي دي.د "جانان" په حقله ډېر شعرونه د دۀ په کتاب کښې نشته خو بیا هم دومره شته چې د سړي تنده پرې ماته شي.د مثال په توګه دا څو شعرونه....

سپین مخونه قرارونه د زړۀ یوسي
وړي د سترګو نه خوبونه شوندې سرې.

تا د لوظونو د کتاب نه چې معنې اوویستې
ما په نا کړیو ګناهونو هم توبې اووېستې

د مجنون خیرې ښکلی ښکاري په صحرا ګرېوانه
په تا "روپۍ"مزه کوي اې د لیلا ګرېوانه

تۀ مې یو ساعت لۀ زړۀ نه بهر نۀ کړې
وایه کله ستا په زړۀ کښې هم غرېږم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نخښېـ مـو د يـو ځـای د ناسـتو ورانـې ويجـاړې شـوې
لارې مـــو د تلـــو او د راتلـــو ورانـــې ويجـــاړې شـــوې

د پـــــاکې مينــــې پـــــۀ جهـــــان اورونـــــه ولګېـــــدل
پـــــۀ خـــــوارۀ ټکــــي د جانـــــان اورونـــــه ولګېـــــدل

ســـتا يادونـــه کـــه دي نـــوي کـــه زاړۀ دي قـــدرمن دي
دا زمــا پــۀ پښــتون زړۀ کښــې مېلمانــۀ دي قــدرمن دي

ستا جـامې هـم ښـکلې ښکاري، ستا د مـخ ځـواب هـم نشـته
کـه دې تـورې غټـې سـترګې کـه بانـۀ دي قـدرمن دي

عشـق تـر يـوۀ کـس پـورې محـدوده نـۀ وي بلکـې د هغـۀ د ذات سـره تړلـې هـر څيـز د عشـق وطـن وګـرزي -د چـا د يـاد سـره تړلـې لار،د چـا و قـد ورتـه چينـار و نښـتر او د چـا د سـترګو د رنګونـو سـره تړلـي د الګـړ د اوبـو رنګونـه.... ان تـر دې چـې ټـول وطـن د سـړي جانـان شـي د وطـن مينـه د جانـان لـۀ مينـې زوروره ده- مهجـور صـېب هـم د وطـن مينـې زخمـي کـړی دی.هجـرت کـول او د خپـل وطـن پرېښـودنه د ژونـد ترخـه الميـه وه د مهجـور صـېب احساسـات ټـول زخمي زخمي دي پۀ هر غزل کې يې د خپل وطن مرثيه ليکلې.

نــــــۀ يــــــې زوی نــــــۀ يــــــې لېــــــور شــــــته
پښــــــــــــتونخوا ده هغــــــــــــه کــــــــــــونډه

صــــفت کــــوه د ګورګوټــــو زلفــــو شــــاعر دې مــــنم
فکــــر کــــوه د پښــــتنو هــــم ترجمــــان يــــې کــــه نــــه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وبېر د وران وزیرستان مې پۀ غزل کې نۀ وي
لکه چې ذکر د جانان مې پۀ غزل کې نۀ وي

ردي ټوکرۍ ته یې ور واچوئ او مه یې لولئ
چې درد او غم د خپل افغان مې پۀ غزل کښې نۀ وي

زغملې نوره نۀ شو دا ګرمي وزیرستانه
سړه هوا به کله پۀ مونږ لګي د پرېغل نه

د چا سپېرو سترګو خوړلی دی امکان نشته
ودان به خړ وزیرستان شي! نه هېڅ کله نه

مهجور صیب د چاپېریال د سیاسي حالاتو نه هم ځان بېخبره نۀ ساتلی او کمال یې دا دی چې پۀ چا پورې یې ځان نۀ دی تړلی هغه چې څۀ ویني هغه وایي چې څۀ محسوسوي د هغې اظهار کوي. د ستایلو او غندلو پېمانه یې د تعصب نه مبرا ساتلې ده.

د اسلام دې یوه خبره هم ونۀ کړه
ملا جانه هسې لاړې اسمبلي ته

اسلام نشته تش پۀ نوم اسلام اباد دی
اسلام نه وایي پۀ نوم مسلماني ته

لاس د خپلو پښتنو هم پکښې وینم
پښتونخوا چې زۀ دې ګورم برباد ي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل چې د مبړې ملا صاحبه گناه بولي
روا شول قتلول ستا پۀ تقرير د هغو خلکو

چې کشمير کشمير دې هر وخت وظيفه ده
پۀ دا خلۀ خو يو ځل ياده پښتونخواه کړه

مهجور صيب د خپل کلتور کلک داعي دى د حالاتو د وجې زمونږ پۀ کلتور کښې چې کوم بدلون را روان دي دغې بدلون مهجور صيب سخت دړدولی -

د مغرب تهذيبه خوار شې
پښتنه دې کړه بربنډه

خدايگو چې گهړۍ ورسره هغسې خوند نۀ کوي
خوند چې د بنگړو وۀ پۀ مړوند د پېغلې جل کښې

گيله به څوک کړي د خيرن نظر نه
چې پښتنو پېغلې پردې ماتې کړې

ستا پۀ حيا چې قسمونه خورمه
پښتنې خورې ستا پښتو ته گورم

ورکې لوپټې شوې پښتنې وينم سرتورې شوې
لاړل پښتانۀ او غېرتونه وو چې خاورې شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهجور صیب د انسان سره د مینې داعي دی د هغه مینه د انسانیت سره ده.د هغه مینه سوچه ده د سرمایه دارانه نظام په وجه چې په انسانانو کښې کوم تفریق روان دی د هغې سخت خلاف دی .مهجور صیب همېشه د مزدور په درد دردېدلی ښکاري۔

غریب بنیان کښې هم خولې دی ! ته خپل کوټ وګوره
دا په ګرمۍ کښې په غریب پورې خندا نه ده. څه ؟

بابا "روټۍ روټۍ" دا چغې د دې کور نه راځي
په دا مانۍ کښې دا سندرې دا ګډا نه دا څه

څوک یخو سیورو کښې خوبونه کوي
څوک په سره نمر په ځان خولې ماتې کړي

بل ځای وایي چې:

زه دا نه وایم اشنا چې هر ژوندی د مرګي نه دی
چې سامان د بل د ژوند کړي دا سړی د مرګي نه دی

چې نفرت ترېنه تښتېږي محبت ورغاړې وځي
دا په ژوند مئین که خپل دی که پردی د مرګي نه دی

مهجور صیب د پښتنو بې اتفاقۍ هم ډېر ځورولی ...په غزل او نظم کښې د دې بې اتفاقۍ ذکر کړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ډېر مې څوروي يو والي نۀ شته پۀ پښتون کښې
مهجوره څۀ سبق به دې څوک واخلي د غزل نه

چې به پۀ يوه خله افغانان شي نا هېڅ کله نه
چې به پوره زما ارمان شي نا هېڅ کله نه

د ليک د اوږدلي له يرې د مهجور صېب په شاهکار نظمونه خبره نه شم کولی ځکه چې په لنډو ټکو کښې يې احاطه نه شي کېدلی او بيا که په قطعاتو او هايکو خبره وکړم لکه پۀ درياب کښې غوپې وهل دي او څوک چې زما غوندې نوای لمبوزن وي د ادب په پراخ دريابونو کښې شايد تر ساحل ورسره مټ وزرې مرسته نه وکړي۔
هغه دې لوستونکي خپل ولولي ځکه چې زما و ژباړلو ته اړتيا نه لري۔ پوره پوره کتابونه هومره نظمونه دي د معناو په لحاظ۔
اخر کښې به زۀ د مهجور صېب دعا او تمنا ورسره غبرګه کړم چې الله دې روغ صورت او اوږد عمر ورنصيب کړي۔آمين

د مهجور دي ارمانونه ټول پوره خو ياران وايي
د اويا کالو شاعر تر څۀ مودې د مرګي نۀ دي

پروفيسر اکبر علي نایاب
ډېره اسماعيل خان۔ پښتونخوا
3م جولايي 2021

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما قدرمن استاجي ته

بسم الله الرحمن الرحيم

نۀ پوهيږم يوه خوشحالي محسوسؤم -فکر کؤم چې د دومره زياتې خوشحالۍ لامل څه دی خو بيا چې د ګران محترم عاليقدر استاد ډاکټر محمد خليل مهجور صيب شعري ټولګه (سکروټې پۀ ايرو کښې) د چاپ کؤلو هلې ځلې زړۀ ته راشي بيا راته احساس وشي او باوري شم چې زما په احساساتو کښې دغه ګڼه ګونه د دغي کتاب د ادب و دنياګۍ ته راتلۀ دي- خدای دې وکړي چې نور دغه اوږد انتظار د بختور پای ټکي ومومي -- اللهم آمين

د استاد او ډاکټر محمد خليل مهجور صيب د نوم سره خو به تقريباً هر سړی اشنا وي ځکه چې محترم مهجور صيب ته پروردګار د حکمت لويه برخه ورکړې ده طبابت او استاذي دواړه داسې مبارکې پېشې دي چې د سړي هره ګړۍ د انسانيت پۀ چوپړ کښې تېرېږي -

ما ته دغه سعادت حاصل دی او وياړم چې زه په ښوونځي کښې د محترم مهجور صيب پنځه کاله شاګرد پاتې شوی يم او دی مې استاد پاتې شوی-

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتهایي مخلص دیانتدار شخصیت لري که ووایم چې د عصر حاضر یو لوی برګزیده ولي انسان دی مبالغه به نهٔ وي-

د رب مهرباني ده الله ورله لویه تقوا ورکړې ده که زهٔ د محترم مهجور صېب پهٔ شخصیت خپلو خبرو ته دوام ورکړم نو نهٔ شم کولی چې زهٔ د محترم صېب د شخصیت احاطه وکړم ځکه چې د کتابونو شانتې شخصیت باندې کتابونه لیکل د قلم زور غواړي- د محترم مهجور صېب پهٔ باب یو ګړد کتاب خبرې هم کمې دي-

د محترم مهجور صېب ډېرې خاطرې راسره دي که د ټولو بیانول مې پېل کړل شاید زما د لیک مرام به وبایلم- او نهٔ کومه داسې فارمولا لا چا موندلې چې په لنډ ټکو کښې ټول ټکي ځای په ځای کړي-دې استاد محترم د تقوٰی یوه لنډه قیصه درسره شریکؤم-

محترم صېب پهٔ لاس یوه راډو ګړۍ تړله او ما ته بل ملګري ښودلې وه د استاد د تقوا حدونو ته سړی حېران شي- پهٔ پنځو کالو کښې چې پهٔ ښوونځي کښې مو تېر کړل مونږ د محترم صېب پهٔ لاس کښې هغه قیمتي ګړۍ/ سات جوته / ښکاره نهٔ ولیدله دغه د دهٔ د تقوا او پرهېزګارۍ یو وړوکی مثال دی چې لا نورې به څومره خاطرې راسره وي خو لنډه ده چې د محترم مهجور صېب پهٔ شخصیت او کردار باندې لیکل زمونږ د وس کار نهٔ دی ځکه چې پهٔ خپل کمزوري فکر او قلم کښې دومره توان نهٔ وینم خو د زړهٔ سوچه مینه ورته ډالۍ کؤم-

ذاتي پهٔ ما بېخي زیات ګران دی او د دهٔ پهٔ اړه زهٔ د رحمان بابا دا یو بیت ډېر تکرارؤم چې:

کــه دې تـــا د ښــکلي مــخ عاشــقان ډېــر دي
زهٔ پـــهٔ ټولـــو کښـــې اول یـــم دویـــم نـــهٔ یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب دې مهجور صیب ته روغ رمټ صحت نصیب کړي د
خوشحالۍ ډک ژوند ورته غواړم- امین ثم امین
د محترم صیب شعري ټولګه ( سکروټې پۀ ایرو کښې ) ما تقریباً
ټکي پۀ ټکي ولوستله داسې لیک دي پۀ ګړده پښتونخوا کښې یو نیم کوي
لکه څنګه چې مهجور صیب کړی دی- واقعي چې الله ورله ډېر څۀ ورکړي
دي- نوم د خدای، هر غزل کښې یې د پښتون قام سره د مینې اظهار کړی
دی د پښتنو غم دړد یې د ځان غم دړد بللی دی-
ځکه چې محترم صیب یو بیت کښې وایي:

ژړا بـه ستا پـۀ جـدایۍ ښـکلیه زۀ بیا کؤمـه
ماتــه لا ډېــرې مرثیـې د پښـتنو پـاتې دي

یقیناً چې د پښتنو غمونو دړدونو یې سینه غلبېل کړې ده د خپل
وطن خپلې خاورې خپل قام سره یې زړۀ لکه د مقناتیس نښتلی دي هره
پښتنه مور یې مور او خور یې خور بللې د-
او د پښتنې خور د پړدې پۀ باب محترم صیب خپله لهجه کښې وایي

پشـتانې خـورې ډېـر دې کوشـلي دي شـنکي خولینـه
پشــتو تــه کســه بـچ کـوه خپـل غېراتــي خولینــه

خیـرن نظـر وو ویرتـه کـو ځونـاور داسـې هـن شـته
پـټ سـوته مـخ او پـۀ چـا مـه وینـه بیخـي خولینـه

لنډه ده چې د خپل پښتون قام سره یې پۀ هر غزل کښې د مینې او
ورورولۍ اظهار کړی دی دا خو یې ما پۀ غزل یو څو کرښې لیک وکړ ګني
هسې خو که د دۀ پۀ غزل کتاب خبرې وشي کمې به وي او دې نه علاوه یې
که د نظم برخه وګورو نو سړی ورته انګشت بدندان شي-د دۀ د احساس
درک د دۀ د نظم نۀ کیږي ځکه چې شاعر خو هسې هم حساس وي چې نظم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورې هم دغه د پښتنو ویر او غوغا ده پکښې- نظمونه یې زړهٔ وړونکي دي لکه په مثال یو نظم چې د یوهٔ لېوني پهٔ مرګ یې لیکلی یا د یو سوالګر /ملنګ د خبراتونو پهٔ غوښتلو یې روداد لیکلی او داسې نور شاهکار نظمونه-که دلته ووایم چې هر غزل هر نظم یې د سرو پهٔ تار پېیلي دی مبالغه به نهٔ وي- الله تعالی دې نور استعداد ورکړي- محترم د جنګ پهٔ وخت د خپل کلي وطن نه کډه وکړه او نن سبا د رڼاګانو ستر ښار کراچۍ کښې د ژوند شپې ورځې تېروي-

استاد مهجور صیب ناجوړه دی د کتاب لوستونکو ته خواست دی چې په خپلو دعاګانو کښې یې هېر نهٔ کړئ-په مینه او درنښت

محزون جان

بولاړي پل کوټړي سینده

30-6-2021

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه ځلانده ستوری

بسم الله الرحمن الرحيم

نن هغه بختوره ورځ ده چې د کومې ورځې مورږ له مودو راهسې پهٔ انتظار تږي وو- چې نن زما د استاد عليقدر ډاکټر محمد خليل مهجور صېب شعري ټولګه ( سکروټې پهٔ ايرو کښې) چاپ ته برابره شوه او د پښتو ادب ځولۍ ته يوه بله زرينه تحفه ډالۍ کيږي-

هسې خو د يو چا پهٔ شخصيت ، ژوند او فن خبرې کول يو ګران کار دی خو بيا هم د خپل استاد پير پهٔ باب قلم پورته کؤل شاګرد ته پهٔ ترورمۍ کښې بې د بوې ګرځېدل دي-

د عاليقدر ډاکتر مهجور صېب پهٔ ژوند ليک کؤل زما د وس کار نهٔ دی-

ځکه چې که د محترم مهجور صېب پهٔ ژوند کتابونه وليکل شي زهٔ وايم چې دا به کم وي-خو زهٔ به دومره ووايم هغه د پښتو يوه ټپه مې ياده شي چې:

يار د تعريف محتاجه نهٔ دی
پهٔ عطرونو ګلان چا لمبلي دينه

يابل ځای کښې اباسين صېب وايي:

کـــه زمــــا د شخصــــيت حدونــــه ګــــورې
زمـــا فـــن زمـــا د فکـــر تـــر جمـــان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالیقدر مهجور صیب د وزیرستان د ادب د پاره د ملا د تیر حثیبت لري او د وزیرستان د ادب یو ځلېدونکی ستوری دی-

محترم مهجور صیب هغه وخت د ادب په مېدان کښې قدم کېښود چې زمونږ په سیمه کښې ادب د نشت برابر ؤ - او خلکو به شاعر ته په سپک نظر کتل او بل د یارانو نشتوالی ؤ- خو بیا هم محترم مهجور صیب خپل استقامت او مرام د لاسه ور نهٔ کړ او د خپلې ژبې پښتو ادب خدمت یې جاري و ساتلو لکه چې مهجور صیب وایي:

تیارې چې لرې کړو هر خوا ته مو رڼا رڼا شي
راځئ ملګرو چې د مینې مشالونه بل کړو

د دغو مشرانو استاذانو استقامت او برکت دی چې نن مونږ هم د پښتو ادب سره اشنا یو او زمونږ سیمه د ادب په ښکلا ښایسته ده.

ما به کله کله د ګران زړهٔ ته راتېر استاد محترم محزون جان صیب نه د عالیقدر مهجور صیب اشعار او غزل اورېدل چې زهٔ ډېر ترېنه متاثر شؤم او ما به د ځان سره خوندي کؤل او د دهٔ د غزلو نه به مې روستو خوند اخستو-

بیا مې چې کله په موبایل خبرې ورسره وشوې خبرې یې له اشعارو هم خوږې و درنې وې- چې یو ځل خبرې شروع کړي تهٔ به وایې د خولې نه یې ملغلرې تویېږي - زړهٔ به دې غواړي چې خبرې یې د پای ټکی نهٔ ومومي زما یې لیدل ډېر ارمان ؤ-

اخېر وخت یاري وکړه زهٔ مې زړهٔ ته نږدې استاد محزون جان سره کراچۍ سلطان اباد ته د محترم مهجور صیب حجرې ته وراغلم د محترم صیب لیدل زما د ژوند تر ټولو خوندره خاطره وه.زما په خپلو سترګو د یقین نهٔ راتلو- د عالیقدر صیب خوش مزاجي او مینې معصومیت تاثرات داسې وو لکه ما چې ټول عمر د دهٔ صحبت کښې تېر کړی وي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوراني څهره او خوږې خبرې لکه د شاتو- محترم صیب ډېر علیل ؤ خو بیا یې هم ټوله ورځ زمونږ سره په حجره کښې تېره کړه په هغه لنډ وخت کښې چې ما کوم فیض ترې حاصل کړو زما د ژوند تر ټولو لویه سرمایه ده- زۀ په دې ویاړم او خوښي محسوسؤم چې ما ته د علیقدر سره د صحبت شرف حاصل شو او مونږ ترې ډېرې زدکړې وکړې-

مهجور صیب یو عالم، مینه ناک، ځیرک او وطنپال شخصیت دی-

تل د پښتنو په دږد دردېدلی دی لکه چې مهجور صیب وایي

پردي جنګ کښې د ګل غوندې ځوانۍ چې د چا لاړې
په ورانه پښتونخوا کښې کوم ویر د هغو خلکو

محترم صیب بل ځای وایي:

نۀ یې زوی نۀ یې لېور شته
پښتونخوا ده هغه کونډه

د مغرب تهذیبه خوار شې
پښتنه دې کړه بربنډه

مهجور ستا مینه کښې سوځي
نۀ لوګی شو نۀ غر غنډه

بل ځای محترم صیب وایي چې:

غم د هرې لوپټې به درسره وي
چې جینۍ د پښتونخوا دې خور او لور شي

زړۀ مې چوي چې غریب د ګران وطن مې
د ظالم د لاسه پړمخې نسکور شي

او بل ځای کې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماضـي يـې پېـژنم او حـال تـه يـې چـې ګورمـه زۀ
پـۀ مسـتقبل د پښـتونخوا مـې بـاور پـاتې نـۀ شـو

او ځان د حالاتو پخپله قصوروار بولي او پښتني پېغلې ته وايي-

څۀ خـو ګـرم يـو خپـل څـۀ د حـالاتو پـۀ قصـور کښـې
ورو شـوه حيـا ختمـه د پښـتون پـۀ خـور او لـور کښـې
خـــورې پښـــتنې بـــې ســـتره مـــه ګرځـــه پېـــدا کـــړه
کومـــه غېرتـــي جذبـــه چـــې وه ملالـــۍ تـــرور کښـــې

او پۀ اخير کښې لاس په دعا يم چې خداى دې ګران مهجور صېب ته د څۀ مودې لپاره روغ او د خوښۍ ژوند ورکړي آمين ثم آمين
او د خپل ليک اختتام پۀ دې يوې ټپې سره کوم چې:

ناروغه ياره خداى دې روغ کړه
خلک به وايي بخت يې خوار دى يار يې مرينه

پۀ درانښت
امان مانتوى وال وزير
بولاړي پل کوټړي سيند
4-7-2021

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

زما د کتاب په حقله زما ملګرو ډېر په زړه پورې لیکونه کړي دي-
خو په تېره تېره ګران مظلومیار صېب( نور ملګري دې خفه کېږي نه) د پوره کتاب یوه هنداره ئې لوستونکیو ته وړاندې کړې ده-
خدائے دې د ده په عمر کښې برکت، په قلم کښې زور او په پښتو ادب کښې لوړ مقام نصیب کړي- امین-
زه دا نه وایم چې زما نورو ملګرو څه زیار نه دے کړے-دوي ډېر قدرمن لیکونه کړي دي- چې زه ورته د قدر او ویاړ په نظر ګورم-
زما په خړه پړه او ګډه وډه شاعرۍ ستر پوهاند پروفېسر اکبر علي نایاب صېبچې کوم خوندور لیک کړے دے- زه د هغه د شکریې ادا کولو توان هم نه لرم- نور به زه دلته خپل مشر شاعر ملګرے نور عالم صېب هم د شکریې په زانګو کښې وزنګوم- او دعاګانې ورته کوم- زه د غائبانه لیک د ښو احساساتو د پاره د اقبال شکتوئي وال صېب ،مخزون جان صېب اؤ امان مانتوئي وال صېب هم ډېره ډېره مننه کوم- او دعاګانې ورته کوم-

این دعا از ما و از جمله جهان آمین باد

محمد خلیل مسید له کراچۍ نه

ضروري یادګېرنه:په کتاب کښې ځائے په ځائے چرته د پنجابي ذکر شوے دے- هغه څه په بدنیتۍ یا د سیاسي ګوند سره د تړون په وجه هرګز نه دے-زه محب وطن پاکستانے یم- او چرته د پاکستان د سالمیت او یو والي مخالف نه یم- ما تر اویا کالو پورې د کوم سیاسي ګوند سره نه خو تړون لرلے دے- او نه د ملک خلاف په کومې سرګرمۍ کښې مې برخه اخستې ده- (مهجور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعا

ايمان كلك په محمد ص اخر زمان را
او صفت ته يې بيا ژبه د حسان رض را

صداقت خدايه نصيب مې د صديق رض كړې
نمونه د عدل هم عمر رض په شان را

نعمتونه د دنيا فراوان راكړې
سخاوت لره بيا زړۀ هم د عثمان رض را

قوت ماته د خيبر شكن حيدر رض را
وړوكوالي كښې بيا پوهه د ايمان را

ربه زمكه يم پيدا يمه له خاورې
اطاعت لره لويې لكه اسمان را

دغه سوال مې خدايه ستا په در قبول كړې
ما مهجور ته ربه صبر عالي شان را

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هيڅ يؤ کس د خوا ؤ شا مې باور پاتې نۀ شو
ګرانه اشنا آن چې په تا مې باور پاتې نۀ شو

د زلفو مار چيچلے يؤ دې هم پرې روغ نۀ کړلو
ياړو والله ستا په هودا مې باور پاتې نۀ شو

چې هر ظالم ته په رکوع او په سجده دې وينم
ستا خو په آ او هم په دا مې باور پاتې نۀ شو

په سپينه ږيره مې بتان د زړه کعبه کښې پراته
د خپل زړګي په پياوړتيا مې باور پاتې نۀ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ماته یؤ څه ځان ته بل څه خوښوي ملګرو
په دغه شیخ په دا ملا مې باور پاتې نهٔ شو

چې مې د شپې د ور په درز د کور دننه ګورې
ستا د تنخوا په دا سودا مې باور پاتې نهٔ شو

ماضي يې پېژنم او حال ته چې يې ګورمه زهٔ
په مستقبل د پښتونخوا مې باور پاتې نهٔ شو

چې کور ته راشې د تبلیغ نه نو بیا بل څه کوې
عبث په سبل ستا د دنیا مې باور پاتې نه شو

مهجور چې ګرانې پښتونخوا ته تل دعا کؤلې
قبولې نهٔ شوې په دعا مې باور پاتې نهٔ شو

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلـــۍ دلـــۍ مـــې لا پـــه زړۀ د اندېښـــنو پـــاتې دي
یـــاره خطـــرې د رقیبـــانو د فتنـــو پـــاتې دي

څـه خـو مـې خیـال د پـاتې شـویو ارمـانونو سـاته
ډېـر پـوره شـوي دي مرګیـه بـس یـۀ څـو پـاتې دي

ژړا بـه سـتا پـه جـدایۍ ښـکلیه زۀ بیـا کومـه
مـا تـه لا ډېـرې مرثیـې د پښـتنو پـاتې دي

د پښـتو نخښـه یـې شـملې تـا بـه ضـرور نېغـۀم
لا مرحلـې د حفاظـت د لوپټـو پـاتې دي

یـۀ ښـکلے بـاب شـي د تـاریخ تـرې جوړېـدلے اشـنا
دومـره قیصـې د ړنګـو پنګـو هـدیرو پـاتې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ يـــې تراوســـه هـــم عظيمـــې خزانـــې ګڼمـــه
ماســـره پنـــډې د يـــادونو پخوانـــو پـــاتې دي

لېـــونے غـــواړي لېونتـــوب د ازادۍ خوندونـــه
ورکـــوي زور يـــو ځـــوکړۍ د زولنـــو پـــاتې دي

مـــا تـــه پـــه کومـــه خلـــۀ پېغـــور د بـــې ننګـــۍ راکـــوې
د خـــان زامنـــه تـــا کښـــې هـــم څـــه د پښـــتو پـــاتې دي؟

ســـپرليه اوس هارونـــه نـــه جـــوړۀم ولـــې راغلـــې
لا خـــو ځـــو شـــپې د چـــادلارې د کتـــو پـــاتې دي

پـــوی شـــه مهجوره!کـــه بېـــدار دې پښـــتون وروړنـــۀ شـــۀلو
چـــې دې وختونـــه د ســـلګو او اســـوېلو پـــاتې دي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا یادونه که دي نوي که زاړۀ دي قدر من دي
دا زما په پښتون زړۀ کښې مېلمانۀ دي قدرمن دي

تۀ تپوس د هغو مۀ کړه چې هر څه زما په زړۀ دي
ما د پاره چې هر څه هم ستا په زړۀ دي قدر من دي

ستا د کوټ او پتلون قدر د خان زویه دلته نشته
چې جامه یې د پښتون وي که شپانۀ دي قدرمن دي

په ژړا مې هم زړګے چې ترینه نۀ سپکیږي یاره
ستا غمونه که هر څومره هم درانۀ دي قدرمن دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا جامې هم ښکلې ښکاري ستا دمخ هم ځواب نشته
که دې توري غتې سترګې که بانهٔ دي قدر من دي

پېوندو او فقیرا اپي ښکلوي يې خلق ځلي
چې ژوندي وو قدرمن وو او چې مړهٔ دي قدرمن دي

يم امين د روایاتو د تېر شوو پښتنو زهٔ
زما کور په صندوقي کښې لا پراتهٔ قدرمن دي

یوسف مخیه په راتلو دې یم خوشحاله خو په تلو نه
ما مهجور ته دې که تلهٔ دي که راتلهٔ دي قدر من دي

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وړو وړو څيزونـــو غلـــۀ هـــم شـــته دي
او د ډکـــو صـــندوقونو غلـــۀ هـــم شـــته دي

دا مـــنم د ځنګلونـــو غلـــۀ هـــم شـــته دي
خـــو د خوشـــيو ګړنګونـــو غلـــۀ هـــم شـــته دي

يـــۀ نظـــر وربانـــدې واچـــوي زړۀ يوســـي
زړور داســـې د زوړونـــو غلـــۀ هـــم شـــته دي

خيـــال کـــوه او ډېرهوښـــيار اوســـه ګـــل مخيـــه
ستـــا پـــه چـم کښـــې دګلونـــو غلـــۀ هـــم شـــته دي

خزانـــې د پښـــتونخوا د غرونـــو يوســـي
د دې دنګـــو دنګـــو غرونـــو غلـــۀ هـــم شـــته دي

پټـــوي د خُلـــې خبـــرې هـــم مهجـــوره
کـــه منـــې چـــې د شـــعرونو غلـــۀ هـــم شـــته دي

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغ سـړے يمـه پـۀ څـۀ نـۀ يـم دلبـره
خـو پـه زړۀ دننـه ښـۀ نـۀ يـم دلبـره

چـې پـه کـاڼي دلانـه يمـه ويشـتلے
بختـور يمـه سـپېرۀ نـۀ يـم دلبـره

غـم خـو دا دے چې لا ستا پـه دې کښې شـک دے
چـې دې زۀ حـلا ل پسـۀ نـۀ يـم دلبـره

کـه مـې نـور خلـق کـافر بـولي بـاک نشـته
د مـلا صـاحب پـه خلـۀ نـۀ يـم دلبـره

چـې تـنکے ځلمے پـه سـرو وينـو کښـې پـروت وي
خـدايېګو ټولـه شـپه اودۀ نـۀ يـم دلبـره

پـه اودس کښـې دې ديـدن تـه زۀ راځمـه
مـه کـړه خيـال بـې اودا سـۀ نـۀ يـم دلبـره

چـې مهجـور دې لټـوي تـۀ نـۀ مونـدېږې
چـې مـې غـواړې بيـا بـه زۀ نـۀ يـم دلبـره

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے خدایــــه ســــاتندوی شــــی د تقــــدیر د هغو خلقــــو
چــې روغ شــي زخمــي زړونــه پــه تــدبیر د هغو خلقــو

په عشق اوملي ننګ کښې چې رحمان اوخوشحال خان شي
شــهرت دې پــه دنیــا کښــې عــالمګیر د هغــو خلقــو

خپــل وطــن کښــې حــق د پښــتنوغواړي نــواو ګــوره
لاس کښــــې زولنۍ پښوکښـــې زنځیـــر د هغو خلقـــو

نازونــه هــم چــې وړے شــي او شــمله هــم ټیټــوي نــهٔ
د ښـــــکلیو محفلونـــــه دي جـــــاګیر د هغو خلقـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل چـــې د میـــرې مـــلا صـــاحبه ګنـــاه بـــولي
روا شـــو قتلؤل ســـتا پـــه تقریـــرد هغوخلقـــو

پـردي جنـګ کښـې دګـل غونـدې ځـوانۍ چې د چـا لاړې
پـــه ورانـــه پښـــتونخوا کښـــې کـــوم ویـــرد هغوخلقـــو

چـې هـیڅ یـې هـم د جنـګ ترهګـرۍ سـره کـار نـۀ ؤ
د ختـــو مېلـــې ږنګـــې کړےخنزیـــر د هغـــو خلقـــو

چې خپـل جانـان یـې خپـل شي او رقیـب لـه منځـه اوباسي
مهجـــوره کـــه منـــې چـــې زۀ یـــم پیـــر د هغـــو خلقـــو

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیـــا چـــې زړۀ مـــې نـــن ژړا کـــوي دا څـــه دي
یـــار د چـــا ســـره خنـــدا کـــوي دا څـــه دي

د تنکـــي ځلمـــي مـــرګې کـــه ظلـــم نـــۀ د ے
بیـــا چـــې دا پـــه پښـــتونخوا کـــوي دا څـــه دي

کـــور مـــې رنـــګ شـــو در پـــه در چـــې ګرځـــوي مـــې
ظالمـــان پـــه خلـــۀ د چـــا کـــوي دا څـــه دي

زمـــا کـــور کښـــې دي د ســـرو وینـــو ډنډونـــه
د ے پـــه خپـــل کـــور کښـــې ګـــډا کـــوي دا څـــه دي

د ګلونـــو لَـــو مـــې ګـــډ شـــو ځکـــه ژاړم
خپـــل پـــردي چـــې داپـــه مـــا کـــوي دا څـــه دي

پـــه بـــدل کښـــې د وفـــا دې هـــم مهجـــوره!
چـــې دې یـــار ځـــومره جفـــا کـــوي دا څـــه دي

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ دې ټول نازونه ورمه دا وفا نۀ ده څه؟
تۀ مې بېګا سبا رټې دغه جفا نۀ ده څه؟

غریب بنیان کښې هم خولې دے ته خپل کوټ اوګوره
دا په ګرمۍ کښې په غریب پورې خندا نۀ ده څه؟

,, بابا روټۍ روټۍ،، دا چغې د دې کور نه راځي
په دا ماڼۍ کښې دا سندرې دا ګډا نۀ ده څه

حق د واکدارو دے منم د دنیا ټولې مزې
زما د پاره یې روا هم تمنا نۀ ده څه؟

ستا د پنځو ستورو هوټل کښې شته شراب او شباب
وچه ډوډۍ ماله تنبو کښې هم روا نۀ ده څه؟

چې په دې ملک کښې ترې تر ټولو زیاته وینه توی شوه
مهجوره پېژنې زمونږه پښتونخوا نۀ ده څه؟

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مازغـــه مـــې تنبـــتېدلي ســـره ګرځـــي
چـــې رقيـــب زمـــا د ښـــکلي ســـره ګرځـــي

ســکه ورونــه چــې پــه يــۀ کــور کښــې اوســيږي
پکـــار نـــۀ ده چـــې تـــر ينګلـــي ســـره ګرځـــي

يـــۀ جهـــان شـــي غربـــو نيـــولے بـــوره مـــور چـــې
د يـــۀ ســـري زوی د ځلـــي ســـره ګرځـــي

پـــام کـــوه لکـــه چـــې ورکـــه چرتـــه غـــواړي
يـــۀ ســـړے د تـــا د کلـــي ســـره ګرځـــي

رقيـــب ژاړي چـــې مهجـــور او جانـــان يـــۀ ځـــاے
دۀ پـــه ســـترګو دي ليـــدلي ســـره ګرځـــي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـا تــه دي پــه ټــول عمــر خــوږې خبــرې اونــۀ کــړې
چـا تــه دي خــوارۀ پــه نــوم تــر خــې خبــرې اونــۀ کــړې

وچــې ربنــتیا وایــه پــه چــا ښــۀ لګــې کــه بــد لګــې
چــرې پـــه لونـــده ژبـــه لونـــدې خبـــرې اونـــۀ کـــړې

مــا چــې زلفــې یــادې کــړې ســپین مخــې راتــه اووئیــل
بیــا ګــورې پــه ســپینه ورځ د شــپې خبــرې اونــۀ کــړې

برنــد مــې پــه غوښــتنه شــو،وې خبــردار شــه یــاد لــره
بیــا چــې پــه دا خلــۀ زمــا د خلــې خبــرې اونــۀ کــړې

زړۀ مــې چــې بــې واکــه شــي پــه واک ســترګو تــه اووایــه
دغــه کلــک ســړي تــه چــې پســتې خبــرې اونــۀ کــړې

څــه ربېــاره یــار تـــه وایـــه هغـــه څـــۀ چــې زه وایـــم
ګــوره ســم ســړے یــې چــې کــږې خبــرې اونــۀ کــړې

ښـۀ شـوه چـې دې اوخنـدل مهجـور تـه د عـادت خـلاف
نـــن دې پـــه تـــرۀه تنـــدې تـــروې خبـــرې اونـــۀ کـــړې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــرور د ے شــیطاني صــفت دهــوکې دي خطرنــاکې
بــې ځایــه غــورې ترې او لافــې دي خطرنــاکې

بــې فکــره پکښــې مــۀ ګرځــه اشــنا وزیرســتان د ے
دا غرونــه پــالې نــارې او کنــدې دي خطرنــاکې

مــنم چــې ســتا وســله ده زوراوره خــو دا واوره
زمــونږه پخــوانی زړې وســلې دي خطرنــاکې

رقیــب پــه غصــه راغــے پــه اوږه توپــک نیــولے
پــه مــونږ وینــي چــې نــن مــې ارادې دي خطرنــاکې

مسـلم پـه لا الـه بانـدې جنګیـږي بـې وسـلې نـه
کــافر پــه دا یقــین چــې یــې فتنــې دي خطرنــاکې

مهجــوره! هــدیرو د شــهیدانو کښــې ډېــر ګرځــه
دښــمن تــه تــر ژونــدو دا هــدیرې دي خطرنــاکې

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیـــال چـــې نـــۀ کـــړي نـــوره منـــده
شـــــي جذبـــــه د تخلیـــــق شـــــنده

نـــۀ یـــې زوی نـــۀ یـــې لېـــور شـــته
پښـــــــتونخوا ده هغـــــــه کونـــــــده

د مغـــــرب تهذیبـــــه خـــــوار شـــــې
پښـــــــتنه دې کـــــــړه بربنـــــــده

مهجـــور ســـتا مینـــه کښـــې ســـوځي
څـــه لـــوګې شـــي څـــه غرغنـــده

««««»»»»

ډي ائي خان 2005م

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه خو ګرم یو خپل څه د حالاتو په قصور کښې
رو شوه حیا ختمه د پښتون په لور او خور کښې

لونړه د حوا ته هم اسمان له شرمه شین شو
ما چې څه لیدلي په دا سترګو دي لاهور کښې

یؤ چوپتیا وي بل کښې لوبې ماشومان کوي
فرق دے فقط دا په یوه مېله او په کور کښې

زوی چې څومره خوړ او خوش اخلاقه وي نوسیال یې؛
نشته دے په ورور نۀ په عزیز نۀ په تربور کښې

خوري پښتنې بې ستره مۀ ګرځه پیدا کړه؛
کومه غېرتي جذبه چې وه ملاله ترور کښې

خوري یې د غریب نهر بچي نو غورځوه یې مۀ
نیمه سوځېدلي هم روټۍ ستا په تنور کښې

مینه که ګناه وي نو بې شکه ګناهګار یمه
نور څه ګناه نۀ وینم لالیه په مهجور کښې

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیـــال کـــوه نظـــره پـــه شـــپو تـــورو د مـــزل کښـــې
ډېـــرې بلاګـــانې دي د زلفـــو پـــه ځنګـــل کښـــې

خـدایګو چـې ګهـړۍ ورسـره هغسـې خونـد نـهٔ کـوي
خونـد چـې د بنګـړو ؤ پـه مړونـد د پېغلـې جـل کښـې

تـــب جنـــې مـــې جـــذبې کـــړي د ســـرو وینـــو قطارونـــه
خـوب کښـې وینـم ځـان چـې پـه ژړا یـم پـه محفـل کښـې

خونـــد ؤ د غـــزا د تېـــر و تـــورو پـــه پړکـــار کښـــې
پـروت چـې شـهیدان وو سـړے سـپوري د پربغـل کښـې

تـــورې ســـترګې مـــهٔ راځـــه ځـــه چـــل د ســـپېلنو کـــوم
ډېـرې سـپېرې سـترګې دي زمـونږ پـه چـاپېر چـل کښـې

خپـــل بچـــي دې ګرځـــي د لنـــدن مســـتې هـــوا کښـــې
زوی د غریـب جـوړ کـړې خودکشـۍ تـه پـه چـل ول کښـې

ذکـــر د بنګـــړو پـــه ځـــای د ســـرو وینـــو پکـــار دے
دا کـــه نـــهٔ وي خونـــد نشـــته مهجـــوره پـــه غـــزل کښـــې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينــه ښــۀ وي چــې د مينــې پــه دســتور شــي
بــې دســتوره مينــه هــر چــا تــه پېغــور شــي

غــــم د هــــرې لــــوپتې بــــه درســــره وي
چــې جينــۍ د پښــتونخوا د لــور او خــور شــي

زړۀ مــې چــوي چــې غريــب د ګــران وطــن مــې؛
د ظـــالم د لاســـه پـــړ مخـــې نســـکور شـــي

چــې رڼــا د مــخ ښــکاره کــړې بيــا مــې بــولې
زۀ موســـیٰ شـــمه کوڅـــه دې کـــوه طـــور شـــي

پــه نفــرت کښــې خــو تربــور هــم زمــا ورور دے
خــو پــه مينــه کښــې خپــل ورور زمــا تربــور شــي

مهجـــور هغـــه بـــد قســـمته شـــاعر زۀ يـــم
چــې ژړا مــې د زړګــي هــم ټنــګ ټکــور شــي

«««««»»»»

مئ کال 1972م

يادګېرنه: دلته د موسیٰ او کوه طور هسې د تشبهـ په توګه استعمال شوي دي- زما مطلب دا هر ګز نۀ دے چې ګنې پيغمبر نۀ منمه او نۀ کېدے شي-هسې نۀ چې څوک راباندې د کفر فتوا اولګوي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــــا د راتلـــــو خپلــــې وعــــدې مـــــاتې کـــړې
مـــا هـــم پـــه نـــۀ زړۀ ګلدســـتې مـــاتې کـــړې

چـــا چـــې د بـــل د کـــور ویـــړې مـــاتې کـــړې
د خپـــل محـــل یـــې هـــم تنبـــې مـــاتې کـــړې

خبـــــر ککـــــرو د هوښـــــیارانو تـــــه خبـــــر
کـــــه لېونیـــــانو زولنـــــې مـــــاتې کـــــړې

ګیلـــه بـــه څـــوک کـــړي د خیـــرن نظـــر نـــه
چـــې پښـــتنو پېغلـــو پـــردې مـــاتې کـــړې

څـــوک یخـــو ســـپورو کښـــې خوبونـــه کـــوي
چـــا پـــه ســـره نمـــر پـــه ځـــان خـــولې مـــاتې کـړې

دې تـــــا کچـــــه غونـــــدې ځـــــوانۍ د خلقـــــو
ډېـــرې پخـــې پخـــې تـــوبې مـــاتې کـــړې

زمـــا پـــه کـــور کښـــې مـــړې ډېـــوې مهجـــوره!
د رڼاګـــــانو سلســـــلې مـــــاتې کـــــړې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ستر ګو د دوربین کښې دا څه بله فلسفه ده
په ګل کښې هر بلبل ته د حبیب محب قیصه ده

قلم چې د صابر وینې د زړۀ څڅوي بېت شي
زړګے هم د شاعر په خدا ے چې سمه غم کده ده

په سترګو د خوشحال کښې شاعري حېض الرجال دے
غزل کښې د رحمٰن د درویشانو یؤ قیصه ده

نازیږي ابدالي چې دا رازونه د شاهۍ دي
په خیال کښې د بابر ژوند د خوندونو یؤ موقه ده

حمزه جنت ته هم بې پښتو نۀ دروم ي یارانو
غني ته پښتونخوا بس د لعلونو خزانه ده

ژوند ے هلاکو خان یا چنګېز خان شو داسې ښکاري
په ګران وزیرستان باندې یې کړې بیا حمله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبـه راځـي د چـا د لوريـه خـړې يـې پـه چـا کـړے
معلـــوم دي کـــار کـــونکي خـــو د ټـــول کلـــي کـــړه ده

چـې کـوم کـو ډکـر پـه ګـران وزيرسـتان وکړلـې کـوډې
کـــوم ځـــاے چـــې بـــه ګلونـــه ټوقيـــدل هلتـــه مورچـــه ده

چـې نيـا هـم پکښـې نـاوې ښـکارې ماتـه خنـدا راشـي بـس
لـــــړه چـــــې وي ټيـــــډي کمـــــالي تـــــوره برقـــــه ده

اے د وخـت چنګيـزه سـتا بـه هـم راځـي نېټـه د مـرګ
اے نـن خـو دې پـه خلـۀ نـوم اخسـتل هـم يـوه فتنـه ده

څـه کـار چـې چرتـه اوشـي ګنـاه ګـار بـې ګنـاه نشـته
څـوک هـم چـې مـخ تـه راغـے نـو خطـا کـړې هغـه ده

مهجـور تـه دې قسـم وي چـې څـه برخـه پکښـې واخلـي
پکـــار د پښـــتونخوا چـــې قصـــيده کـــه مرثيـــه ده

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ دا نـۀ وایـم اشـنا چـې هـر ژونـد ے د مرګـي نـۀ د ے
چې سـامان د بـل د ژونـد کـړي دا سـړے د مرګـي نـۀ د ے

مفکـر شـي خـاورو لانـدې خـو فکرونـه يـې ژونـدي وي
چـې د قـام فکـر کـوي چـې چرتـه د ے د مرګـي نـۀ د ے

زړۀ دې کـانړے د ے ظالمـه څـه بـې وختـه دې تيـار کـړو
دا تنکـی ځـواني يـې ګـوره دا ځلمے د مرګـي نـۀ د ے

چــې نفــرت ترينــه تښــتيږي محبــت ورغــاړه وزي
دا پـه ژونـد مـين کـه خپـل د ے کـه پـرد ے د مرګـي نۀ د ے

د دې ځــوان د زنګــدن هــره ســلګۍ د ارمــان ډکــه
ربــه دا د ارمــانونو ډک زړګــے د مرګــي نــۀ د ے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـهٔ خـو خپـل سـپي تـه بېګـا سـبا شـاوده ورکـوه خـان يـې
غريـب دې نهـر مـړ شـي خـو سـتا سـپے د مرګـي نـهٔ دے

تـهٔ چې ملـک هـم ټـول يؤبـولې بيـا پـه يـو ملـک کښـې دننـه
دا پښـتون دې خېـر دے مـري خـو پنجـابے دمرګـي نـهٔ دے

يـؤ تـه بـم پـه لاس کښـې ورکـړې بـل کـاپـۍ او کتـاب لـولي
د يـؤ مـرګ سـتا ضـرورت دا بـل بچـے د مرګـي نـهٔ دے

مصـــور تـــه مـــرګے راشـــي تصـــويرونه کلـــه نـــهٔ مـــري
چې ظلمونـه کـړي تصـوير مهجـوره! دے د مرګـي نـهٔ دے

د مهجـــور دي ارمانونـــه ټـــول پـــوره خـــو يـــاران وايـــي
د اويـــا کـــالو شـــاعر تـــر څـــه مـــودے د مرګـــي نـــهٔ دے

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لویو خلقو د فکرونو سره لوبې کؤم
لکه ماشوم د کتابونو سره لوبې کؤم

له مجبورۍ ورځ په خندا تېروم خلقو سره
د شپې ژړا کوم غمونو سره لوبې کؤم

اکثر د هجر په دوزخ کښې یم خو کله کله
ستاد وصال د جنتونو سره لوبې کؤم

بندي خاني افسره مهٔ ویرېږه تښتمه نهٔ
زهٔ د مړوند د زنځیرونو سره لوبې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يمـــه پښـــتون زمـــا بـــې ســـرو ســـاماني مـــۀ ګـــوره
زۀ طـــاقتور مغـــرور ملکونـــو ســـره لـــوبې کـــۇم

پـــه ســـپينه ږيـــره چـــې اســـتازې د مرګـــي ووينـــم
زه د نيمګړيـــو ارمـــانونو ســـره لـــوبې کـــۇم

شـــايد چـــې خلقـــو تـــه بـــه ښـــکارم ليـــونے غونـــدې زۀ
زۀ د ځـــوان مرګـــو د قبرونـــو ســـره لـــوبې کـــۇم

مهجوره!کلـه هـم چـې څـوک زمـا پـه خوا کښـې نـۀ وي
ســـتا د خـــوږو خـــوږو يـــادونو ســـره لـــوبې کـــۇم

«««««»»»»

اګست کال 2006م

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــري چرتـــه ځوابونـــه شـــونډې ســـرې
شـــرموي ســـرۀ ګلابونـــه شـــونډې ســـرې

کـــــړي دنیـــــا د زړۀ بدلـــــه را بدلـــــه
راولـــــي انقلابونـــــه شـــــونډې ســـــرې

ســـپین مخونـــه قرارونـــه د زړۀ یوســـي
وړي د ســترګو نــه خوبونــه شــونډې ســرې

ګرانـــې! وایـــه د چـــا خوبنـــه دې تـــالا کـــړه
دا چـــې راغلـــې ســـره لاســـونه شـــونډې ســـرې

تـــورې زلفـــې تـــورې ســـترګې چـــې څـــه بـــولې
دي د میـــو ډک جامونـــه شـــونډې ســـرې

تصـــور د ښـــکلي یـــار کـــوه مهجـــوره!
تـــورې زلفـــې ولونـــه ولونـــه شـــونډې ســـرې

«««««»»»»»

جماعت هشتم مډل اسکول کړمه کال1964م

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغــرب تهــذیب چــې اورســېد کمــال تــه
اوس بــه دورمــي ننــداره یــې کــړه زوال تــه

تــا راکــړې چــې وه نخښــه مســافره
ژاړم هــر ســبا بېګــا هغــه رومــال تــه

د پښــتون پــه لــر و بــر کښــې چــې وېش پــوخ شــي
شــابه زور ورکــړه تــور مخیــه خپــل دېــوال تــه

چــې شــنې ونــې یــې پــه ســر بانــدې ګــډا کــړي
تــا تــره لغــړ ســر نــۀ رســي شــوال تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــزدوري بـــه کـــؤم زۀ خـــړو جـــامو کښـــې
پښـــتنې ســـتا د پـــردې ســـتا ښـــکلي شـــال تـــه

ګـــډې وډې ليـــوني زړۀ تـــــه رادرومــــــې
د ښـــو بـــدو انتظـــار کـــؤم ســـتا خيـــال تـــه

پيغـــام ورکـــړه د يـــؤ والـــي پښـــتنو تـــه
د ژونـــدون اعتبـــار نشـــته نـــوي کـــال تـــه

د پښـــتون پـــه ماضـــي مـــه ژاړه مهجـــوره!
کـــړه يـــې فکـــر مســـتقبل تـــه ګـــوره حـــال تـــه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـا کـه ایښـے بیـا پـه زلفـو کښـې ول نـۀ وے
زۀ لګیـــا بـــه د تیـــارو پـــه مـــزل نـــۀ وے

عاشـــقي بوالهوســـي بـــه ســـره یـــو وو
کـــه پـــه مینـــه کښـــې ؤ دار تـــه ختـــل نـــۀ وے

کـاش چـې نـۀ وے رقیبـان او ښـکلي ډېـر وے
دا سـپېره ازغـي پـه ځنـګ کښـې دګـل نـۀ وے

کـــس نـــاکس بـــه نـــۀ لیـــدې پښـــتنې خـــورې
کـــه بـــې وختـــه دې وتـــل رواتـــل نـــۀ وے

زړۀ مـې غـوارې چـې ښـکاره مـې مینـه نـۀ شـي
چـې هیڅـوک مـې پـه دې لاره کښـې مـل نـۀ وے

د مهجـــور پـــه عاشـــقۍ بـــه څـــوک خبـــر ؤ
کـــه لـــیکلے یـــې دا ښـــکلے غـــزل نـــۀ وے

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــوره دي غـــوا ړم ابـــادي ډېــر مـــې پـــه تـــا وژړل
بــس زيــاتي ګــل اوســې مــا ډېــر پــه پښــتونخوا وژړل

دا د ســـلګو چـــې نـــامعلوم غونـــدې اواز اورمـــه
چـــې دا بـــاز ګشـــت زمـــا د ويـــر ؤ کـــه بـــل چـــا وژړل

مــا خــوب ليــدو چــې څــوک پښــتو د دوزخ ژبــه بــولي
پـــه دا خبـــره ســـتر حمـــزه تـــر مـــخ زمـــا وژړل

دلتــه ځوانــان پــه وينــو ســره هلتــه يــې بــورې مينــدې
پـــه چغـــو چغـــو مـــې پـــه آ او هـــم پـــه دا وژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـوک پـه مـلا پسـې لګیـادي څـوک منبـر مـاتوي
پـــه بـــې وســـې مـــې د منبـــر او د مـــلا وژړل

مالـــه ژړا وه توبـــه کـــړې د خنـــدا نیـــت مـــې ؤ
خـو دې خپـل لـوټې لـوټې کـور تـه مـې نـن بیـا وژړل

تــئ نــا پــوره ارمــان تــه نــئ ګــورې نېمګــړې دنیــا
کـــه چـــا مرګیـــه د ارمـــان پـــه نیمګړتیـــا وژړل

مـــا ټـــوقې نـــئ دي زده مهجـــوره پـــه قســـم اومنـــه
مـــا چـــې پـــه چـــا هـــم وژړل مـــا پـــه رښـــتیا وژړل

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره کښې ناست یم لاروۍ ته ګورم
د چا بې پامه تېرېدو ته ګورم

ما ته د مینې مزل ګران ښکاري چې؛
د زمانې سړو تودو ته ګورم

ستا په حیا چې قسمونه خورمه
ښتنې خورې ستا پښتو ته ګورم

مصیبت نهٔ دے مصیبت د مینې
زهٔ په دې چل خپلو پردو ته ګورم

وائې ظالم چې کله زهٔ مهجوره!
د غریبانو ؤ سلګو ته ګورم

«««««»»»»

کال 1972م

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه ربنتیا چې ته غلط په دې ګمان یې که نه
دا نور د زمکې دي او یؤ ته د اسمان یې که نه

ظالمه زړۀ خو دې لا غواړي نورې سرې وینې هم
وایه پښېمان په دې بې وخته مرګ دځوان یې که نه

چې د کاروان منځې د سر نه ښکه پورته ګورې
څه ژړېدلے په رنګ پنګ وزیرستان یې که نه؟

د کشمیر ظلم د لمحه لمحه په خلۀ دے جاري
په پښتونخوا چې کوي ظلم بې زبان یې که نه

صفت کوه د ګوړ ګوتي زلفو شاعر یې منم
فکر کوه د پښتنو هم ترجمان یې که نه؟

ته په تشبیه او په تلمیح باندې ځان مۀ کړوه
مهجوره وایه خوښ په امن او امان یې که نه!

««««»»»»

یادګېرنه:کشمیر زما هم د زړه سر غدار نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے سـرېه لـړ خپـل کـار تـه فکـر وکـړه
چـې پـرې نـور ځـې هغـه لار تـه فکـر وکـړه

غـم د خېټـې دے د قـام پـه نـوم اخسـتے
د وطـن هـر يـؤ واکـدار تـه فکـر وکـړه

سـتا د کـور د پـردې خيـال نـۀ سـاتي ګـوره
د خپـل کـور دې څوکيـدار تـه فکـر وکـړه

دا زړګـے مـې دے جـوړ وران وزيرسـتان کـړو
خـدائے تـه ګـوره لـړ دې خـوار تـه فکـر وکـړه

د وطـن غـنم پلـوري جيبونـه ډک کـړي
ووټ دې ورکـړو اوس دا پـلار تـه فکـر وکـړه

وطـن خـوار شـو هـر څـه لاړل سـوئيزر لېنـډ تـه
اے مجهـوره دې سـرکار تـه فکـر وکـړه

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیصــه د خــوږې مینــې اختتــام تــه کلــه رســي
رڼــا د داســې نمــر ده چــې ماښــام تــه کلــه رســي

دا داســې وخــت تیــري ده د اســرار او رمــوز ډکــه
چــې وخــت ورتــه ولاړ وي دا انجــام تــه کلــه رســي

فرهــاد او شــیرینۍ او د لیلــیٰ مجنــون خبــرې
پــه داســې کنــایو کښــې څــوک پیغــام تــه کلــه رســي

ژونــدون داســې ســفر دے مســافر تــه پتــه نشــته
د نمــر ســپوږمۍ پــه تــګ کښــې بــه مقــام تــه کلــه رســي

شــاهي ســترګو لیــدلے څــه کمــال ؤ پــه ایــاز کښــې
ډیــر لــوے لــوے وزیــران هــم دې غــلام تــه کلــه رســي

یــؤ بــل تــه د یــارۍ نمائشــي غــاړه وتــل څــو؛
د لــرې نــه پــه زړۀ دعــا ســلام تــه کلــه رســي

تـۀ نـوے مـین نـۀ یـې اے مهجـوره! هسـې زړۀ خـورې
ســتا شــعر د تــازه مــین کــلام تــه کلــه رســي

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــدام بــه نــۀ وي دا ځــواني دا هــم پــه خيــال کښــې ســاته
د دنيــا هــر څــه دي فــاني دا هــم پــه خيــال کښــې ســاته

پښـــــتنې خــــورې دا خبـــــره تاتــــه نـــــۀ ده بايـــــدۀ
,, زمــا صــورت زمــا مرضــي، ،دا هــم پــه خيــال کښــې ســاته

د خــــان زامنــــه دا خــــاني درتــــه د پــــلار پــــاتې ده
او ســتا تــر ژونــد بــه وي خــاني دا هــم پــه خيــال کښــې ســاته

تمــه د ګــل تــرې مــۀ ســاته د چــا پــه زړۀ کښــې چــې تــه
کــرې بېګــا ســبا ازغــي دا هــم پــه خيــال کښــې ســاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ټوقې نه دي دا ,, کورونا ،، حفاظت ترې کوه
د نن سبا دا بیماري دا هم په خیال کښې ساته

دخان زامنه د غریب بچي یې خوري قسم دے
خوراک دې کم کړه د خپل سپي دا هم په خیال کښې ساته

دا تورې زلفې ډېرې مه چېړه زما نظره
وي په ځنګل کښې ازمري دا هم په خیال کښې ساته

چې دالهام سلسله کله هم شي بند مهجوره!
بیا په زور مه کړه شاعري دا هم په خیال کښې ساته

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زخمـــي زړونـــو تـــه ازار مـــه جـــوړوه
خـدا ے تـه ګـوره نـن سـینګار مـه جـوړوه

تـــورې زلفـــې تـــار پـــه تـــار مـــه جـــوړوه
شـــنه خالونـــه پـــه قطـــار مـــه جـــوړوه

نـن مـې یـاد کـړه چـې ژونـد ے یـم ګرانـه یـاره
پـس لـه مرګـه مـې ،،یـاد ګـار ،، مـه جـوړوه

پـــوخ ســـړک د امیرانـــو تـــر بنګلـــو ځـــي
د غریـــب تـــر کـــوره لار مـــه جـــوړوه

حُســـن هغـــه چـــې ښـــکلا وي ډېـــر مخیـــزه
یـــؤ ســـپین مـــخ یـــې هـــم معیـــار مـــه جـــوړوه

کـــه دېـــوال د ختـــو کـــور مـــې د ے پرېـــوتے
هـــر ســـړي تـــه پکښـــې لار مـــه جـــوړوه

احتـــرام د هـــر ســـړي کـــوه مهجـــوره!
خـــو د هـــر ســـړي نـــه پـــلار مـــه جـــوړوه

«««»»»»

جمرود کال 1970م

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــا د لوظونــو د کتــاب نــه چــې وعــدې اوویســتې
مــا پــه نــاکړیو ګنــاهونو هــم تــوبې اوویســتې

ســتا پــه تراخــو او پــه خــوږو خبــرو ســم پوهېــدم
رېبــار هوښــیار ؤ پــه تراخــو کښــې یــې خــوږې اوویســتې

اســـتعماري لمـــن دې چـــا تـــه ځنـــډولې چـــې ده
د خوشـــحالۍ پـــه بهانـــه دې تـــرې جـــامې اوویســـتې

د راز ورغـــومي بـــه دې شـــي ټـــول د لېوانـــو خـــوراک
د زړۀ لـــه شـــپول دې د رازونـــو کـــه رمـــې اوویســـتې

شـــاید کمـــے زمـــا د لوریـــه د اظهـــار وي پکښـــې
زمـــا د شـــعر نـــه هـــر ســـړي بېلـــې معنـــې اوویســـتې

د زړۀ ملنګـــــه تـــــش کچکـــــول لا د ارمـــــان ګرځـــــوې
د زیـــارتونو دې پـــه ډېـــر طلـــب کـــولمې اوویســـتې

د تـــورو زلفـــو پـــه ځنګـــل کښـــې خطرنـــاکې منـــډې
مهجـــوره! هســـې دې پـــه ځـــان بانـــدې خـــولې اوویســـتې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجنـــون څیــرې ښــکلې ښــکارې پــه صــحرا ګرېوانــه
پــــه تـــا روپـــی مـــزه کـــوي اے د لـــېلا ګرېوانــــه

تهـــی دې پـــرې دې څـــه ېبوســـه ،بـــې ځښـــتنه غونـــدې
لاره کښـــې پـــروت یـــې بـــژه بګیـــرې اې د چـــا ګرېوانـــه

هیلـــه د چـــا د راتـــګ شـــته خوکـــه دا هیلـــه نـــۀ وه
نـــن خـــو مـــزې کـــړه خبـــر دې نشـــته دے ســـبا ګرېوانـــه

چـــا کـــړې د دیـــن پـــه نامـــه بـــژه چـــا د دنیـــا پـــه هیلـــه
چـــا نـــه دې وژغـــورو د ګرانـــې پښـــتونخوا ګرېوانـــه

دلتـــه مـــې ورور پـــه وینـــو ســـور دے هلتـــه کونـــډه مـــې خـــور
د چـــا د چـــا پـــه غـــم دې وخیـــرم زمـــا ګرېوانـــه

مهجـــور تـــر څـــو بـــه پـــټ غمونـــه پـــټ لـــه خلقـــو ســـاتم
پرېـــږده چـــې څیـــرې دې نـــن ووینـــې د نیـــا ګرېوانـــه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکـــار پـــه ژبـــه دې چـــې وشـــي قیمتـــي خبـــرې
یـــا د الله یـــا د رســـول او یـــا قـــامي خبـــرې

تـــهٔ خامخـــا کـــوه پښـــتونه د خپـــل حـــق خبـــرې
کـــه نـــهٔ دې اورې د تـــور مخـــې ده مرضـــي خبـــرې

پښـــتون کـــه یـــؤ نـــهٔ شـــي پنجـــره بـــه پښـــتونخوا وګرځـــي
وې بـــه خبـــرې د پښـــتون بـــس د طـــوطي خبـــرې

معیـــار د حُســـن یـــؤ ســـپین مـــخ نـــهٔ دے فقـــط لالیـــه
دا ډیـــر اړخونـــه لـــري نـــهٔ د یـــؤ مخکـــي خبـــرې

پیغـــام شـــپېلۍ کښـــې د ســـاتنې د رمـــې ورکـــوي
پیغـــام د قـــام ســـاتنه جـــوړ کـــړه د شـــپونکي خبـــرې

راوړې ســـپېره نصـــیب مهجـــوره! د پرېغـــل لـــه خـــوا نـــه
اوس نـــورې پرېـــږده بـــس کـــوه د یوکـــاڼکي خبـــرې

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



څــه لــه مــې چېـړې ګلــه! يادونــه وو چــې خــاورې شــؤل
ګـل چې شـوې غنچـې نـو لا ګلونـه وو چـې خـاورې شـؤل

ړنـګ څلـې چـې ګـورې نـو بيـا دومـره فکـر هـم کـوه
دا هــم د چــا ښــکلي وجودونــه وو چــې خــاورې شــؤل

ورکــې لــوپټې شــوې پښــتنې ويــنم ســرتورې نــن
لاړل پښــتانه او غېرتونــه وو چــې خــاورې شــؤل

زړۀ مــې هــديره ده او پــرې نــوم څکــه د تــا ږدمــه
دلتـه سـتا وعـدې وې سـتا لوظونـه وو چـې خـاورې شـؤل

نــن پــه زړبــوډۍ کښــې راتــه هېچــرې دا مــه وايــه
څــومره دې مهجــوره ارمانونــه وو چــې خــاورې شــؤل

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم چې ستا د مينې نه ښۀ کلک مې وخوړو
شکي شوم بيا مې اوخوړو چې سپک مې وخوړو

ښامار ته د تربور د حسد هيڅ هم پته نه لګي
چې لوی مې اوخوړو او که هلک مې وخوړو

اے کاش د ورور ولې د خلې نه يۀ ځلې دا واورمه
پتې مې ورور ته ورکړو ترے پالک مې وخوړو

غريب وم خو د خان روپۍ واپس مې د زکات کړے
زۀ زمکه وم خو شکر دے فلک مې وخوړو

رحمت شو راته ستا د تورو زلفو په تياره کښې
پېزوان مې په لاس راغے چې تيندک مې وخوړو

مهجوره! خلق تلل چې نن د خان کره دعوت دے
زۀ پاتې شوم د مور د لاس سوکړک مې وخوړو

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ننني سره ويشو مونږ د يؤ بل غمونه
نۀ به وي ستا او نۀ زما د برخې تل غمونه

ستا د وصال سره سره په تصور د بيلتون
ماته له ورايه چينګې داړې خندېدل غمونه

هغه يادونه ستا د شونډو سپين رخسار وو كنه
ماته په سرو سپينو جاموكښې پټېدل غمونه

اشنا د درستې دنياګۍ په غم به اونۀ رسو
راشه چې وګورود كلي چاپېر چل غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېره د ويـر د خوشـحالۍ پـه ډمـامو کښـې هـم وي
پـه يـوه خنـدا پسـې رادرومـي دلتـه سـل غمونـه

ورانـه ويجـاړه دنيـاګۍ د خـوار زړګـي وه دومـره
راتلـل راتلـل خـو پـه راتلو کښـې شـرمېدل غمونـه

نـورې دنيـا تـرې پـه خنـدا خنـدا مـزې اخسـتې
پـه پښـتونخوا چـې لـه اسـمانه ورېـدل غمونـه

هغـه اوس خپـل ګرځـي مـلا ماتـه د غـم پېټـي پـه سر
چـې د هـر چـا د زړۀ پـه زمکـه يـې کـرل غمونـه

مهجـوره! هـر چـا تـه د زغـم پـه قـدر اورسـېدل
پـه وېشـندي شـه آفـرين چـې يـې وېشـل غمونـه

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماليـــاره راوړه خپـــل صـــاحب تـــه ننني ګلونـــه
پـــه ګلدســـته کښـــې يـــې خـــوښ نـــۀ دي پرونـــي ګلونـــه

دې تـــا پـــه مېـــز دي ګلدســـتې د ســـرو ګلونـــو پراتـــې
ماتـــه پراتـــه دي پـــه ســـرو وينـــو کښـــې ځلمـــي ګلونـــه

خپـل بـاغ سـاتي خـو د ګـل چـين دا تـور مخـي تـه ګـوره
پـــردي امېـــل تـــه پښتونخواکښـــې شـــوکوي ګلونـــه

پـــه خصـــمانه د ماليـــار هـــم مقابـــل نـــۀ شـــي کېـــدے
د پښـــــتونخوا د ســـــرو ګلونـــــو پنجـــابي ګلونـــــه

معيـــار د حُســـن انتخـــاب د چـــا وي څـــه د چـــا څـــه
د چـــا ســـرې شـــونډې او دچـــا ســـرۀ اننګـــي ګلونـــه

د ګـــل صـــفت چـــې کـــوې بـــد پـــه ازغـــو هـــم مـــه وايـــه
د کـــس نـــا کـــس د لاســـه ژغـــوري دا ازغـــي ګلونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فــرق د ســپېره رقيــب او خــوږ ربېــار پــه ميــنځ کښــې دا د ے
د يــــو خبـــــرې وي ازغـــــي بـــــل وروي ګلونـــــه

ماتــه بهـــار او خـــزان ســـتا دا پســـتې شـــونډې ښـــايي
دا يـــؤ ســـپړدي ګلونـــه بـــل د ے غوڅـــوي ګلونـــه

کـــړو ســـتا د شـــونډو هـــم رنګـــي ګـــلاب د ګلـــو باچـــا
ګنـــې پـــه بـــوی کښـــې څـــه کـــم نـــۀ دي د ببـــري ګلونـــه

خيـــال کـــوه نـــن پـــه پښـــتونخوا کښـــې چـې تـــۀ څنګـــه ربېـــې
داســـې ربېلـــي تـــــا پخـــوا وو بنګـــالي ګلونـــــه

مهجـــوره! څـــوک خپلـــو ګلونـــو تـــه قبرونـــه کينـــدي
څـــوک پـــه مـــزه خپلـــو غوړونـــو کښـــې ټـــومبي ګلونـــه

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پـــاکې مينـــې پـــه جهـــان اورونـــه ولګېـــدل
پـــه خـــوارو ټکـــي د جانـــان اورونـــه ولګېـــدل

زمـا د ډېـرې خـوږې سـيمې بـدبختۍ تـه ګـوره
پکښـــې ابـــرې شـــولو ځوانـــان اورونـــه ولګېـــدل

د بـل د پـاره مـو چـې خپلـه پښـتونخوا ورانـه کـړه
د خپلـــه لاســـه د نقصـــان اورونـــه ولګېـــدل

تنکـۍ ځـواني کښـې ارمانونـه غرونـه غرونـه پراتـه
پـــه غرونـــو غرونـــو د ارمـــان اورونـــه ولګېـــدل

چـې ژنـې مشـر شـي د کلـي تبـاهۍ لـه بـس دے
ژنـــي د کلـــي شـــو مشـــران اورونـــه ولګېـــدل

مهجـوره! ګـټـې د دنيـا چـا پکښـې ډېـرې وکـړې
د ځينـــو خلقـــو پـــه ايمـــان اورونـــه ولګېـــدل

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وحـــدت نـــه د کثـــرت پـــه لـــور پرېـــږم
خـــدا ے خبـــر چـــې د خلیـــلؑ ســـره ســـمېږم

تـــه پـــه یـــوه خنـــدا قســـم زمـــا نـــه واخلـــه
چـــې عـــالم مـــې ژړوي زهٔ بـــه خنـــدېږم

کـــه دې پـــوے کـــړم پـــه رمـــوز د تـــورو ســـترګو
بیـــا بـــه ســـتا پـــه ړنجـــولي ســـر پـــوهېږم

خپلـــې مـــړې ایـــرې بـــه بلـــې کـــړم چـــې پـــوے شـــم
چـــې د کلـــي نـــه لېـــږدم کـــه پـــاتې کېـــږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقــدس د هــر تــړون دومــره خيــرن شــو
چاتــه ،،خپــل ،،وئــيلے نــۀ شــمه شــرمېږم

يــم ډيــوه تــورو تيــارو د چاپېرچــل تــه
د حــالاتو ســبلۍ تېــرې شــوې بلېــږم

تــه مــې يــۀ ســاعت لــه زړۀ نــه بهــر نــۀ کــړې
وايــه چــرې ســتا پــه زړۀ کښــې هــم غړېــږم

تصــــور د لالـــــي هــــم د ده راتلــــل دي
مهجــور څکــه پــه جــامو کښــې نــه ځــايېږم

«««»»»

يادګېرنــه: دا شــعر د پښــتو د يــوې مشــهورې ټپــې تــر اثــر لانــدې مــا لــيکلے دے -ټپه څه داسې وه:
په سترګو تا راته اونۀ کړل
په رنجولي سر دې زۀ نۀ پوهېدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرد د غربت د چا په ښي ځواني بې وخته لګي
د چا په سر ايښي کرې پګړۍ بې وخته لګي

يو د خزان وچې سپېرې هوا په مخ ورې ته
د سپرلي ډکي د ورمو سيلۍ بې وخته لګي

ليک د دېوال چې اپوته د غرور سترګې ويني
د مات قلم ژبه تتۍ تتۍ بې وخته لګي

په صورت روغ په خندا شنه استعماري ذهن ته
د يو غريب د خوږين بدن سلګۍ بې وخته لګي

چا ته غصه يې ته له قهره چا ته شونډې چيچې
د ګل په پانو پام کوه ږلۍ بې وخته لګي

چې په زړه سرې ويني وي پنډې خلۀ ترخه له غمه
ست د سرو شونډو او خوږې خو لګۍ بې وخته لګي

په سربازي کښې د غيرت مهجوره مخکښې مخکښې
دا دي غلط چې په سينه ګولۍ بې وخته لګي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یادونـــــه دي د چـــا چــــې ژړوي مـــــې
د ځــوانۍ لـــه درانــــهٔ خوبــه ویښــوي مـــې

شــپه د هجــر کښــې ســړې ســیلۍ د ژمـــي
څـــه تیـــرې غونــدې ارې دي غوڅــوي مـــې

پښـــتنې شـــملې مـــې داســـې راتـــه اووې
،،مــه مــې ږده پــه داســې ســر چــې ټیټــوي مـې،،

لېونتـــوب د مینـــې برخـــه د هغـــوي شـــه
چــې مــې ګــرم پــه مینــه بــولي پوهــوي مــې

اننګـــي دې هـــم ګـــلاب دي هـــم ســـکروټې
پـــه یـــؤ دم مـــې ســـوزوي هـــم لوبـــوي مـــې

مشـــورې دي بیـــا تیـــار اوســـه مهجـــوره!
چــې مــې کلــي کښــې پربــږدي کــه لیــږدوي مــې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ویر د وران وزیرستان مې په غزل کښې نۀ وي
لکه چې ذکر د جانان مې په غزل کښې نۀ وي

زمکه د زړۀ هم وي سوکړه سترګو کښې اوښکې نۀ وي
افسوس دعا هم د باران مې په غزل کښې نۀ وي

ردي ټوکرۍ ته یې ورواچوئ او مۀ یې لولئ
چې درد او غم د خپل افغان مې په غزل کښې نۀ وي

خپل یې هم ولولئ او بل ته یې هم اورسوئ
قیصه د قام چې د نقصان مې په غزل کښې نۀ وي

خوند د بې مالګې روټئ هم پکښې نۀ وي مجهوره!
کله چې ذکر د خپل ګران مې په غزل کښې نۀ وي

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيـــا دې نـــوے غـــم راواچـــوۀ زړګـــي تـــه
بـس د ے نـۀ مـې شـي زړۀ نـوره زنـدګي تـه

لاس د خپلـــو پښـــتنو هـــم پکښـــې ويـــنم
پښـــتونخوا چـــې زۀ دې ګـــورم بربـــادې تـــه

کـه دې زړۀ غـــواړي چـــې ګـل مـــومې بلبلـه
نـــو اول لاســـونه واچـــوه ازغـــي تـــه

پـه لاس ورشـي چـې ثـواب مـلا صـاحب تـه
کـړې تيــار يــې تـنکے ځوانــه فـدائي تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اســـلام د یـــوه خبـــره هـــم ونـــه کـــړه
مـــلا جانـــه هســـې لاړې اســـمبلي تـــه

اسلام نشـتـه تـش پـه نـوم اسلام ابـاد دے
اســلام نـئ وايـي پـه نـوم مسـلماني تـه

ځـانمرګي پـردو بچـو تـه ثـواب بـولې
دا سـبق بـه کلـه وايـي خپـل بچـي تـه

پـه الـزام د ترهګـر بـه ګرفتـار شـې
خيـال کـوه مهجـوره! خپلـه شـاعري تـه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نخښـــې مــو د یـۀ ځــا ے د ناســتو ورانــې ویجــاړې شــوې
لارې مـــو د تلـــو او د راتلـــو ورانـــې ویجـــاړې شـــوې

پورتـــه کـــه اوبـــه د زوراور اوختـــې څـــه اوشـــو
مېلـــې د غریـــب د اوســـېدو ورانـــې ویجـــاړې شـــوې

پلونــه چــې د ژرنــدې ګرځــې یــۀ بــل تــه څــه نــۀ وایــې
مــنځ کښــې یــې کــولمې بــس د دانــو ورانــې وې ویجــاړې شــوې

تــور کارغــان چــې راغلــل ګــل ورینــه ســیمه خــړه شــوه
جــوړې ځــالې پرېښــوې ګوګوشــتو ورانــې ویجــاړې شــوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـار نصـیب د هـر ګـل نـۀ وي دا سـې ګـلان شـته چـې یـې
پـانې د مـزار پـه ګلدسـتو ورانـې ویجـاړې شـوې

وه د سیاسـت قیصـه مـلا غلطـه پېښـه کـړه
مېـنځ کښـې خپـل خـانې د پښـتنو ورانـې ویجـاړې شـوې

ګـنځ لکـه ملنـګ چـې پـه یـوه سـپږه پسـې اوسـېځي
مېلـې مـو پـه شـر بـس د یـؤ څـو ورانـې ویجـاړې شـوې

زور خـو لګـوي مهجـوره بیـا بـه لیـونے ګـورې
بـس کـه څـو کـړې د زولنـو ورانـې ویجـاړې شـوې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـا ممکـن دي چـې پـوره شـي ليکـل غـواړي
سـتا صـفت د حُسـن يـاره ليـدل غـواړي

پـه پـردو خلقـو ګمـان د ورور د مـرګ کـړې
دا ګمـان پـه خپلـو خلقـو اول غـواړي

شـنې جـامې د ګلبدنـه دومـره خونـد کـړي
لکـه شـنې پـاڼې ښـکلا چـې د ګـل غـواړي

لاړل سـتا بچـي سـېلونو د لنـدن تـه
شـاګردان دې پـه سـرو وينـو لامبـل غـواړي

تضـاداتو د تـدريس تـه دې حېـران يـم
يـؤ بچـے کتـاب ټوپـک پـه لاس بـل غـواړي

پـه کاغـذ چې د لوسـتونکي اوښـکې تـوی شـي
اے مهجـوره زړۀ مـې داسـې غـزل غـواړي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــار د مينـــې ترنګـــوم پـــه ابـــتلا کښـــې
پټـــوم ســـرې ســـلګۍ زۀ پـــه خنـــدا کښـــې

ارادې مـــــې د تســـــخير د کائنـــــات دي
نـــن کـــه ســـترګې غړومـــه پـــه خـــلا کښـــې

چـــې دې ګـــورم ســـر تاپـــا د وطـــن ځوانـــه
کـوټ پتلـون يـې نـور څـه نۀ ويـنم پـه تـا کښـې

چـــم ګاونـــډ ورلـــه راځـــي تـــه ورلـــه راشـــه
پـــه مړيـــدو د ے ســـتا مـــين ســـبا بېګـــا کښـــې

کـــور محلـــت د عاشـــقانو پکـــار نـــۀ وي
د مـــين ځـــولۍ پراتـــې وي پـــه بيـــديا کښـــې

چـــې دې زړۀ نـــه ژاړي مـــۀ ژاړه مهجـــوره!
زيـــان د ديـــن او دايمـــان دی پـــه ريـــا کښـــې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشـــه نـــن خـــو مـــې د زړۀ ورکـــه ســـودا کـــړه
دا ســـــپېره رقيـــب خـــو يـــاره پـــه ژړا کـــړه

دي روانــــې اوښـــکې ځــــي خفـــا لـــه زړۀ نـــه
يـــــاره راشـــــه مېلمنـــــې ســـــره پخـــــلا کـــــړه

چـــې کشـــمير کشـــمير دي هـــر وخـــت وظيفـــه ده
پـــه دا خلـــۀ خـــو يـــۀ ځـــل يـــاده پښـــتونخوا کـــړه

پـــه دا خيـــال چـــې پـــه دېـــوال پـــورې هـــم غـــوږ دي
د رقيـــب لـــه ويـــرې مـــا دېـــوال تـــه شـــا کـــړه

چـــې زمـــا او ســـتا پـــه حـــال وه رقيـــب کـــړے
وه ترخـــه خبـــره تاتـــه خـــوږه مـــا کـــړه

دمرګـــې فرشـــتې ماتـــه وېـــل مهجـــوره!
زر پـــوره خپـــل ارمانونـــه پـــه دنيـــا کـــړه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه فکر د انجام نۀ کړي جذبې چې لېونی شي
سروي کاندي غټ غرونه ارادې چې لېونی شي

هیڅ غم ورسره نۀ وي د حدیث د پېغمبر بیا
ماتېږي لرې وځي به رشتې چې لېونی شي

پوره پوره ښارونه هم کودري کړي د خټو
مني د سمندر هم نه چپې چې لېونی شي

نظام د کائنات هم خپل په خپله تول چلیږي
منکرې د خالق شي عقیدې چې لېونی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غريب شي د افکارو د څه فکر توان يې نۀ وي
د ژوند کندو ليرو کښې فلسفې چې ليونۍ شي

بېګا سبا ودانې د ګودر غاړې وي عامې
خو ګرانې شي پيدا د چا غرمې چې ليونۍ شي

خبره ده يوه عامه ليونتوب د عام سړي خو ؛
جوړيږي ډېر نقصان غټې ګزمې چې ليونۍ شي

لوګے چې کوي زړۀ نو اسويلي خيژي له خلې نه
مهجوره ابرې هر څه کړي لمبې چې ليونۍ شي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربـــه د للمـــې دا بـــاران خـــو رانـــه مـــه کمـــوه
او زمـــا دا څـــو یـــاران خـــو رانـــه مـــه کمـــوه

پـه ډک محفـل کښـې مـې پـه چا دي چـې دا سترګې خـوږې
پـه ډک محفـل کښـې دا یـؤ ګـران خـو رانـه مـه کمـوه

زمـا پـه زړۀ چـې دي هغـه یـې پـه تنـدي لیکلـي
د خـوار زړګـی دا ترجمـان خـو رانـه مـه کمـوه

غمجـن زړګـي تـه د اظهـار مـې یـوه ټپـه پـاتې ده
دا یکـه زار او یاقربـان خـو رانـه مـه کمـوه

د بـڅه ګرېـوان مـې راتـه بـس دي دا څـو روغـې تنـۍ
دا څـو تنـۍ د بـڅه ګرېـوان خـو رانـه مـه کمـوه

د ایمـان برخـه ده مهجـوره دا رښـتیا وئیـل هـم
ربـه دا برخـه د ایمـان خـو رانـه مـه کمـوه

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشنا چې ماسره نن راغے د څنګزن نه بغیر
رقیب ځان یوړو په نوکارو د پمن نه بغیر

د ناکامۍ په غم چې مات کاندې خپل سر په تېشه
یا به پښتون وي یا بل څوک نه د کوهکن نه بغیر

یؤ پنجابي چې په مورچه کښې هوا خلاصه کړله
پښتون خندل چې ځان له ښۀ وم د ټیزن نه بغیر

پښتنې خورې ستا زړه لوپتۀ ښۀ ښکارېده
مشکنې یې ښکلې وې په خدائے چې د چلمن نه بغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دې سورلۍ ته د غرور نه موټر نۀ خوښېدو
په ګور کښې نن درسره شته څه؟ د کفن نه بغېر

راشي یادونه دې زړګي ته ورسره تۀ نۀ وې
رمې څوک نۀ پرېږدي ځنګل کښې د څښتن نه بغېر

توره لالیه د پښتون وژل اسان دي منم
ګرانه پهانسي نۀ ده چې وي د کلبوشن نه بغېر

مهجوره عشق دے چې یې وده څه موسم نه لري
ګنې هېڅ بوټي نۀ ټوکیږي د سیزن نه بغېر

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خونـــدونو ډک وختونـــو تـــه دې خبـــر وي
ګرانـــه یـــاره ســـتا یـــادونو تـــه دې خبـــر وي

د هجـــران چغـــې مـــې ړنګـــې پنګـــې یوســـې
پـــالو نـــارو ګړنکونـــو تـــه دې خبـــر وي

هـــیڅ اثـــر د یـــار پـــه کـــانې زړګـــي نـــۀ کـــا
د مـــلا ؤ تعویـــذونو تـــه دې خبـــر وي

مـــراد اونـــۀ شـــو اوس تـــول پـــه کـــانو ولـــه
لېونیـــه زیـــارتونو تـــه دې خبـــر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زولنـــې پکښـــې مـــزه د بنګـــړو کانـــدي
د پښـــتون دا مړونـــدونو تـــه دې خېـــر وي

هســې نـــۀ چـــې دې پـــه لاره کښـــې بـــدل شـــي
ســـتا وعـــدو او ســـتا لوظونـــو تـــه دې خېـــر وي

ټـول تـور مخـي او شـين سـترګي درتـه يؤ شـو
پښـــتنې ســـيمې ســـتا غرونـــو تـــه دې خېـــر وي

چـــې ســـبب د پښـــتنو د يـــؤ کېـــدو شـــي
اے مهجـوره ســـتا شـــعرونو تـــه دې خېـــر وي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګـران ټکـي راوړل څـه مشـکل نـۀ دي پـه غـزل کښـې
خـو سـتونزې پېـدا کیـږي د پښـتون پـه پوهـول کښـې

اے ښـکلیه یـاره سـتا د هـرې ښـکلې ادا ځـار شـم
خـو دا مـې نـۀ خوښـیږي د رقیـب سـره خنـدل کښـې

بـد مـه وایـه خپـل مشـر تـه د قـام تـر هغـې پـورې
تـر څـو چـې یـې اونـۀ وینـې د قـام پـه خرڅـؤل کښـې

څـه چـل چـې تـرې د ښـکلو د اوبـو نـه شـي ټانـک تـه
تـر هغـې بـې فائـدې دي زر ډېمونـه پـه ګومـل کښـې

خنـدا کلـه کـوې او کلـه ګـونځې تنـدے ګرځـې
د یـؤ نـه دې قربـان شـم خـو قیصـه ده پـه دا بـل کښـې

فقـط هـم د ماسـتو او د چـونې خبـره نـۀ ده
خـو بـل څـه وو باچـا د وخـت لیـدلي پـه بېربـل کښـې

رقیـب دلـه کـه نـۀ وے زمـا ښـکلیه راتـه وایـه
مـانع دي درتـه څـه د خپـل مهجـور خـوا تـه راتلـل کښـې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جذبې مې ارادې مې ولولې مې شې سېوا
دا خيال چې زړۀ ته راشي رادرومې به ته بيا

کېدے شي چې بيا هره ونه شنه د پښتونخوا شي
د چا د غاړې هار ته د سورګل په تمنا

لګيا يُو نن خو زۀ او ته آ خپله خپله وايو
خبر يې؟ چې به څه وي د وختونو تقاضا

چې جوړ يې په تا نۀ کړم د بابا زنګينې تورې
حېران يم چې به څنګه وي تقدير د پښتونخوا

وختونو پرې ثابته بې غرضي کړه ستا په خپله
مهجوره د کالونو راشه غواړي دې اشنا

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــا دي مشـــــهور مـــونږه ښـــاغلي نـــۀ وے
يـــا پــــه نـــاکړدو دي تـــا غلـــي نـــۀ وے

آ د مـــزري ځپلـــی،،ځـــوت،، مـــو ښـــۀ ؤ
چـــې مـــو بوټونـــه اغوســـتلي نـــۀ وے

د خپـل بيـړي ټيپـک پـه خواکښـې مـړه وے
خـــو مـــونږ لـــه توپـــو تښـــتېدلي نـــۀ وے

زړې جـــــــــامې او دا زړه لوپټـــــــــه
خـــوريې خورځـــه خـــور مـــې ليـــدلي نـــۀ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظالمــه دا تنکــي تنکــي ځلمــي دي
کــور لوبېــدی جنــګ تــه لېږلــي نــهٔ وے

یــا خــو زمــا وس وے د نویــو جــامو
یــامې بچــي راتــه ژړلــي نــهٔ وے

تــوره تیــاره کښــې پــروت پــه وینــو ښــهٔ ؤ
دا نمــر ســپوږمۍ دې راختلــي نــهٔ وے

اســان کــار نــهٔ ؤ پــه دښــمن برلاســے
کــه لــه خپــل سر نــه دې دانګلــي نــهٔ وے

دا د وخــت ســپي پښــتانهٔ نــهٔ شــي خــوړے
کــه ســپي دې خــلاص کــاني تړلــي نــهٔ وے

خنــدا مهجــوره! پــس لــه غــم نــهٔ راځــي
غــم نــهٔ راتــه کــه دې خنــدلي نــهٔ وے

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکي اوښکي دي نعري دي نور څه نشته
د نصيب نه مي ګيلي دي نور څه نشته

په زړګي کښي مي يې تهٔ د زړګي سره
ستا د حسن افساني دي نور څه نشته

په دنيا که چرته نوم د خوشحالو وي
ستا د سترګو ميخاني دي نور څه نشته

تصور د يو خيالي ليلیٰ مجنون هم
ترمطلبه ياراني دي نور څه نشته

که څوک پاڼي د مهجور د زړګي ګوري
د چا نخښي نښاني دي نور څه نشته

«««« »»»»

21م اپریل کال 1971م

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه نظر نن د حالاتو په کتاب کوو
زما خواري او ستا د ظلم به حساب کوو

جینۍ په خپله رضا لاړه د اشنا سره
ورونه یې وایي چې د پلار به څه ځواب کوو

پلار یې وئیل چې خپل صورت خپله مرضي د جینۍ
ورونه د خور په طرف وو دوئي پیچ و تاب کوو

خلق یې ستا د شونډو سیال بولي نو ګورو به یې
باغ ته به ځو او ننداره به د ګلاب کوو

چې داسې اوتې بوتې وایي نو راځه خو کنه
څه انتظام به د رقیب خانه خراب کوو

یا خو مهجوره! ضرورت دے چې ټول یؤ شو سره
یا به تور مخي ته ټول عمرجي ,,جناب،، کوو

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشنا چې ښکلے خدا ے پیدا کړي اوس خاني مهٔ کوه
مدام به نه وي ډېر غرور په دا ځواني مه کوه

د هر پښتون په غم ښادی کښې ځان شریک وګڼه
په ځان هیڅوک هم پوره نهٔ دے ځان ځاني مه کوه

یا خو د وخت د سامري د غوا بچے مه پرېږده
او یا ګیله په خپلو څښتن هاروني مه کوه

چې روا بولي د ورور ویني تویول بې ګناه
د جنت تمه خو په دا مسلماني مه کوه

په زرۀ باچا دے په ظاهره یې غلط چې نهٔ شې
خیال د مهجور په دا بې سرو ساماني مه کوه

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــا واخســتل خوندونــه د يــارانو د محفــل نــه
څـوک ځـان تـه ناست دي اوري د بلبـل قيصـې د ګـل نـه

څـوک کـور کښـې نامعلومـه ګولۍ اوخـوري پـه سـر مـړ شي
څـوک کـور تـه اسـماعيل غونـدې روغ راشـي د مقتـل نـه

زور ډېـر دے امريکـه کښـې ځکـه مـړه بـه افغانـان کـړي خـو
د روس غونــدې بــه دومـــي ټېټـــې ســـترګې د کابـــل نـــه

دا يـــوه درســـره وليکـــه پـــه زړۀ زمـــا د لوريـــه
ســـنګر تـــه ځـــه پـــه نـــره څـــوک خبـــر دي د اجـــل نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغملـــې نـــۀ شـــو نـــوره دا ګرمـــي وزیرســـتانه
ســـره هـــوا بـــه کلـــه پـــه مـــونږ لګـــي د پربغـــل نـــه

چې مړ یو امریکي کاندي بیا خبر که دے شهید شي
ډېـــر لـــرې نـــه راغلـــے شـــابه اوزه لـــه بورجـــل نـــه

ډېر ډېر مـې څـوروي يـوالے نشـته پـه پښـتون کښـې
مهجـوره څـه سـبق بـه دې څـوک واخلـي د غـزل نـه

«««««»»»»

یادګېرنـه : مـا دا غـزل پـه کـال 2009 م کښـې لـیکلے ؤ- کلـه چې پـه خوسـت کښـې د امریکـه د سـی،ائي، اے دا اوچتـې پـایې ووه(7) افسـران پـه یـؤ ځـایې پـه يـوه ورځ مـړه کـړے شـؤل پښتـا ګـون پـه دې جنـګ کښـې تـر ټولـو لويې زيان ؤ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلـــه د غـــم کلـــه د ظلـــم لاثـــاني مشـــقينه
ډېـر پــه خوشــي منــي دا زړهٔ مــې د لالــي مشــقينه

تـو تـه وو يـودوي کـه نـه قبـد پکشـې اتيـا زره شـوې
تورمخيــه بيــا دې دي پېــل کــړي بنګــالي مشــقينه

وسـله دو تولـه تـو پـه لـوس کشـې پشـتين سـير پـه وينـې
تــور مخيــه مــهٔ کــوه نــور دغــه چنګيــزي مشــقينه

پاشـتين چې ژاغ دې خپـل حـق کـوو ورتـه غـدار ويـايي تـه
پــه تورســرۍ د ميـــژه مــهٔ کــوه پــوځي مشــقينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــهٔ چــې پــه خپلــې غريبــونې تــل ظلمينـــه کــوې
درتــه راو بــولي تــهٔ ويــا يــه کــيم مفتــي مشــقينه

زړهٔ مــې تــاڼوکې داى لــژ فکــر د زيــوتي ســره کــه
هـــره تاڼوکـــه بنـــدې مـــهٔ کـــه د ازغـــي مشـــقينه

کلــه شــي مــوت روتــه سـبب دې بـې عزتــۍ وګرځـي
پـه سـپيني لبچې کښـې خـو مـهٔ کـه پـه بنګړي مشـقينه

مېــدون د مينــې کشــې بــې خوفــه بــې خطـره ګرځـي
مهجــوره تــل کــوي بــې تېــرې ننګيــولي مشــقينه

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يؤ ورک غزل پاتې برخه

خبـــــر يمــــه بيـــــا زۀ زمـــــا ژړا بــــه څنګـــــه وي
خـــو وايـــه ګلبدنـــه ســـتا جفـــا بـــه څنګـــه وي

لګيـــا يـــو نـــن خـــو زۀ او تـــه آ خپلـــه خپلـــه وايـــو
خبـــر يـــې! د وختونـــو تقاضـــا بـــه څنګـــه وي

دا وريځـــې د آهونـــو چـــې تـــرې پرخـــه راوريـــږي
خـــو ښـــکې کـــه تـــرې ږلـــۍ شـــوله نـــو دا بـــه څنګـــه وي

مهجـوره د هجـران پـه سـرۀ غرمـه کښـې چـې اونـۀ سـوې
پـه وخـت کښـې د وصـال سـبا بيګـا بـه څنګـه وي

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په یوه خلهٔ به افغانان شي نا هیڅ کله نا
چې به پوره زما ارمان شي نا هیڅ کله نا

فضا د بدر چې امت ځان کښې پیدا نهٔ کړي څو
مدد راکوز به له اسمان شي نا هیڅ کله نا

رقیبه دا خیال دې چې بیا په زړهٔ کښې هم تېرنهٔ شي
دا چې به ستا زما جانان شي نا هیڅ کله نا

دا چا سپېرو ستر ګو خوړلے دے امکان ئے نشته
ودان به خړ وزیرستان شي نا هیڅ کله نا

اوس په ډنډر د ګل بلبله ته چغار مهٔ کوه
چې به سمسور بیا ګلستان شي نا هیح کله نا

مهجوره! زړهٔ چې پرې راتول شي داسې نشته دے څوک
مور نه بغېر که ډک جهان شي نا هیڅ کله نا

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د راتلو يې ما سره کلکې وعدې کړې دي
دا يؤ څو شپې مې چا د پاره شوګيرې کړې دي

چا که خبرې بدنيتې ما ته ترخې کړې دي
خو ما تراوسه د هر چا سره خوږې کړې دي

د زړه کوتېه ته مې وس نه وو د چاپېره دېوال
نو له ناکامه مې دغنو ترې وېړې کړې دي

په باغ کښې نشته دے په خاورو کښې ځلمي ګلونه
سترے يم نن مې څو پېرې د هديرې کړې دي

يؤ جماعت راته پکار دے د پښتو د تبليغ
يؤ څو کسانو ارادې د سه روزې کړې دي

پښتو ساده پښتو سوچه پښتو اسانه ژبه
مهجوره! ما هم د څو ژبو مطالعې کړې دي

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جذبې چې مېړنــۍ وي پــه جـذبو کارونــه کیــږي
د بــڅه ګرېــوان بــې ســتنې پــه ازغــو کارونــه کیــږي

د ژونــد دا خــر ډګــر شــي د همــت پــه یــوم ګلونــه
چــې پنــه شــي کــړي وده پــه خولــو کارونــه کیــږي

زیــاتوب د علــم غــواړي نــورې ژبــې زده کــؤل هــم
لیکــو لولــو او وایــو پــه پښــتو کارونــه کېــږي

لــوی نیت لویه جذبـه او حوصـله چـې پکښـې راشـي
د روغ صــحت پــه تــوره د مــودو کارونــه کیــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـرګـې چـې مغـزـې مـات کـړي نـو هـر څـه پـه تـپـه اودریـږي
اشـــنا پـــه د ې دنیـــا کښـــې د ژونـــدو کارونـــه کېـــږي

ځـــواني چـــې زړبـــوډي شـــي ارادې هـــم زړې کانـــدي
چـــې پېغلـــې ارادې وي د ځلمـــو کارونـــه کیـــږي

صـحت هـم تـل روغ نـه وي مـرګـې راشـي دولـت پـاتې
کـــه خانـــدو او کـــه ژاړو دا یـــؤ څـــو کارونـــه کیـــږي

بـس خبـر د ې ایمـان غـواړه چـاپېر چـل ګـوره مهجـوره!
ترخـــې مـــۀ وایـــه چاتـــه پـــه خـــوږو کارونـــه کیـــږي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــــه ســــترګو نــــه د اوښــــکو قطارونــــه دي وريــــږي
پــه غــم پســي بــل غــم د ے بــس غمونــه دي وريــږي

مــړه زمکــه پــرې ژونــدۍ شــي دا فرمــان د پــاک الله د ے
دا زېــــــر ے د ژونــــــدون د ے بارانونــــــه دي وريــــــږي

لــه ســترګو اوښــکې خــاخي کــه کوتــه د يــؤ غريــب ده
شـــــبو شـــــبو بـــــاران د تـــــا يادونـــــه دي وريـــــږي

زانګــو کښــې ماشــومان نـۀ کــوي خــوب پــه چغــو ســر دي
پـــه ټـــول افغانســـتان بانـــدې بمونـــه دي وريـــږي

پښــتون دې خپــل کتــاب د عمــل اولــولي څــه وائــي
فرقـــې فرقـــې پښـــتون د ے عذابونـــه دي وريـــږي

زمــونږ نصــيب پــه ســمه کښــې ســکروټې او ګرمــۍ دي
پـــه غـــره زمـــونږ د ســـيمې بهارونـــه دي وريـــږي

پــه وران وزيرســتان کښــې لا پاســته نــوي ازغــي دي
مهجـــوره! خلـــق وائـــي ســـره ګلونـــه دي وريـــږي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلبلــه وایــه تــه خفــه پــه غــم د ځــان یــې کــه نــه
او یـا پـه بـاغ کښـې خبـر شـوې لـه خـزان یې کـه نـه

لــه اوښــکو ډکــې ســترګې کرځــې څــه خبــره خــو ده
لــه بمبــارۍ خبــر پــه رنــګ وزیرســتان یــې کــه نــه

پــه هــر غــزل کښــې دې چــې ذکــر د ښــکلا کومــه
وایــه رقیــب تــه چــې فقــط زمــا جانــان یــې کــه نــه

چــې تولــه ورځ دې پــه پټــي کښــې مــزدوري کړلــه
بیــا ټولــه شــپه یــې مجاهــد هغــه دهقــان یــې کــه نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې هــر ظــالم هــر زوراور پــرې طاقــت ؤازمایــه
روس شــو تکــړې اوس امریکــه هغــه افغــان یــې کــه نــه

مــــور د بمونــــو نــــه هــــم اونــــۀ ویرېــــدې ښــــاغلیه
ســتا پــه غېــرت شــه افــرین بهــادر ځــوان یــې کــه نــه

لــه غېرتــې خــاورې پېــدا یــې چــې ســنګر تــه درومــې
پــــه تمنــــا د شــــهادت تــــه ور روان یــــې کــــه نــــه

مهجــوره داســې شــعر لیکــه چــې پښــتون یــؤ شــي ســره
تــۀ پــه نفــاق د پښــتنو خــه پرېشــان یــې کــه نــه

«««««»»»»»

یادګېرنـه: دا غـزل مـا هغـه وخـت لـیکلے ؤ چـې امریکـې پـه افغانسـتان بانـدې
د ,,بمونو مور ،،یؤ بم اچولے ؤ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غم تپوس يې مۀ کړه زيات يې خوند د بې غمۍ شي
چې سر شي په ګډا د چا په غم کښې لېونۍ شي

عاشق د عشق په سر کښې کلے کور د جانان غواړي
چې مينه لېونۍ شي کلے پرېږدي غرځنۍ شي

غوښتنه د خواهش بوډا له زړۀ نه اوس بهر کړه
چې لور يا د نمسۍ د پښتونخوا هره جينۍ شي

ترلي د تقوىٰ سره د دين دنيا هر څه دي
د يؤ درويش په وجه کور وړوکي کورنۍ شي

لمبه چې د ډيوې وي ترې ايرې پتنګان پروت وي
لوګے چې د زړګي وي خپل جانان ته سپېلنۍ شي

مهجوره! د هابيل او د قابيل قيصه شي جوړه
چې ورور د ورور په برخه کښېني جوړه تربګنۍ شي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کور کښې ډيوې مړې وي پتنګان کله راځي
غربت چې تر حد زيات شي نو ياران کله راځي

چې زړهٔ له غمه شين شي نو له سترګو اوښکې څاڅي
په شين اسمان چې وريځ نهٔ شي باران کله راځي

رقيب دله خفا کړو اوس جانان ته جرګې لېږم
د اوښکو بې جرګو خفا جانان کله راځي

د وخت په زولنو تړلي لاس کلک دي د هر شي
بې وخته بې نښتې سر ته ارمان کله راځي

وعتصمو بحبل الله خو ستا امر مني ټول
په يوه خلهٔ مسلمان ستا په فرمان کله راځي

مهجوره! دا په وهم او په ګمان کښې د چا نهٔ وه
چې خړ وخت به په ګل وزيرستان کله راځي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځیګر زخم چې زیات شي پرې دوا خو داسې نۀ وي
مصیبت کښې سترګې واړوي اشنا خو داسې نۀ وي

پنجابے چې ،،سر لښکر ،، ته بد رد وایي غدار نۀ دے
په ژړا پښتون غدار شي چې ژړا خوداسې نۀ وي

په خندا دې کافر وائي خپل کور سوزوه شاباش
*ستا په خله سوځي خپل کور پام کړه ملا خوداسې نۀ وي

چې په یؤ ګزار د بوټ یې ور زما د کوټې مات شو
سپاهي خندل چې ورو ي یاره بیا خو داسې نۀ وي

ماوئیل ګل وزیرستان مې لوټې لوټې شو مهجوره!
په خندا شو وې د ګل وطن ښکلاخو داسې نۀ وي

«««««»»»»

*دفرانس واقعې ته اشاره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مسېد وولهلهجه

پشـــتانې خـــورې ډېـــر دې کشـــلي دي شـــنکي خولینـــه
پشـــتو تـــه کســـه بـــچ کـــوه خپـــل غېرتـــي خولینـــه

خیـــرن نطـــر ؤ ورتـــه کـــو ځونـــاور داســـې هـــن شـــته
پـــټ ســـوته مـــخ او پـــه چـــا مـــه وینـــه بېخـــي خولینـــه

چـــې دې خـــولې روشـــي پـــه مـــخ او بیـــا یـــې ووینځـــې تـــه
داســـې چړکیـــژي کـــه منـــې لکـــه غلمـــي خولینـــه

پـــرده کـــوه چـــې نـــن ســـابو داســـې وژ ســـترګي هـــن شـــته
چـــې حیـــا نـــۀ کـــو ځیـــر ځیـــر کســـې کشـــلاکي خولینـــه

داســـې جینکـــۍ هـــن پـــه اټـــک بنـــدې روپـــورې وتـــې
چـــې دې ځوانـــونې لامـــدورې تـــه ګرځـــوې خولینـــه

پشـــتانې نـــۀ دې اروېـــدلي مـــې پـــه خپـــل غوژینـــه
هغـــه ګلـــۍ پـــه ګلـــۍ ګرځـــي خرڅـــوي خولینـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې د مېونــد نقشــه بدلــه کــو پــه يــوه ســندره
ډېــر نــا يــو دوه دا وي خــو وي چــې ملالــي خولينــه

د ســاکه خــور د ســاکه ليــر خولينــه کســه خېــر د ے
مهجــوره! پــام کــه چــې اونــۀ کســې پــرادي خولينــه

«««««»»»»

اګست کال 1998م

يادګېرنـه: د هـرې ژبـې پـه شـان چې پـه لويـو لويـو علاقـو کښې وئيلې کيـږي او دهـرې علاقـې خلق يـې مخصوصـه لهجـه کښـې وائي پښـتو هـم يـوه داسـې ژبـه ده چـې تقريبـاً تقريبـاً پـه ټولـه پښـتونخوا کښـې وئيلې کيـږي-خـو د لهجـو او الفـاظو د ادائيګۍ پـه فـرق اوس د پښـتونخوا پـه دؤو غټـو برخـو کښـې وئيلـې کيـږي- نـو لـږ شـان د افسـوس خبـره دا ده چـې پـه شـمالي پښـتونخوا کښـې کومـه لهجـه پکـاريږي پـه هغـه د جنـوبي پښـتونخوا خلـق پـوهيږي خـو چـې کومـه لهجـه کښـې هـم دغـه پښـتو پـه جنـوبي پښـتونخوا کښـې (د کـرک نـه تـر ژوب بلوچسـتان) پـورې وئيـل کيـږي پـه هغـې بانـدې د شـمالي پښـتونخوا خلق نـۀ خـو پـوهيږي او نـۀ پـرې د پوهېـدو کوشـش کـوي -نـو مـا ځينـې غـزل او نظمونـه پـه داجنـوبي پښـتونخوا کښـې د مسـيدو پـه لهجـه کښـې ليکلـي دي- چـې دلتـه ترينـه يـؤ غـزل رانقـل کـوم- اميـد لـرم چـې د شمال پښتونخوا وروڼه به هم پرې پويې شي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېره ورځ ته

اے تېــرې ورځــې چــې رڼــا مــې پــه وطــن تېــره شــوې
د ســپين ســپېځلي رڼــا نمــر ســره چــې نــن تېــره شــوې

لا دې ســـرخي د شـــفق شـــته پـــه اننګـــو د اســـمان
د ګــران وطــن پــه هــر صــحرا پــه هــر چمــن تېــره شــوې

چــا پــه خنــدا پــه خوشــحالو پــه چړچقــو تېــره کــړې
او پــه چــا ســختهلکــه وخــت د زنګــدن تېــره شــوې

درنــه کــوم يــؤ څــو پوښــتنې د جهــان پــه حقلــه
يــؤ څــو ســوالونه د دې دهــر د انســان پــه حقلــه

○

څـــومره دې وايـــه تماشـــې پـــه دنيـــاګۍ ولېـــدې
غونــډې دې څــومره د مســتۍ او خوشــحالۍ ولېــدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټول عالم په هر طرف مسته مستي وه که نه
چرته له غریبوه ډک زړګي کښې دې سلګۍ اولېدې

یا دې نظر ؤ په رېښمینو جامو پټ بدن ته ؟
که بږه جامو کښې دې ښکاره د چا پنډۍ اولېدې

تا بس کتې ښکلې بنګلې او محلونه د چا !
که دې بې چته بې تنبې زړې کېږدۍ ولېدې

په عېش کدو د دې دنیا کښې زړېدو ډې وه اوده
که خړې پړې دې خولې خولې ځوانۍ ولیدې

څومره ډاکې د چا په ننګ او په ناموس پرېوتې
څومره دې وایه د بې وسو مجبورۍ ولېدې

څومره حقونه شو تر پښو د غاصبانو لاندې
په ویر ژړا دې وایه څومره پابندۍ ولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایــــه زمــا پښـــتنو ورونــو پـــه خنـــدا تېـــره کـــړې؟
کـــه پـــه ژړا دې پښـــتنې پېغلـــې جینـــۍ ولېـــدې

اودې لیـــدې د لوپټـــو پیخـــې لونـــدې پـــه اوښـــکو؟
کـــه د ځوانـــانو دې کـــږې وږې پګـــړۍ ولیـــدې

ورانـــه ویجـــاړه مـــې پراتـــه وه پښـــتونخوا هغســـې؟
کـــه دې پـــه کنـــدو پـــه لېـــږو کښـــې ابـــادۍ ولېـــدې

خـــوره وره پـــه محکـــومي رضـــا منـــدي وه کـــه نـــه؟
غلـــې خونـــدي دې ولـــولې د ازادۍ ولیـــدې

وایـــه مهجـــوره! تـــه زمـــانې ســـره دیـــون د پـــاره
پکـــار دي څـــه د ژونـــد د نـــوي ســـباون د پـــاره

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زړه مې غواړي

دا چې اوسي د سرحد په تورو غرو کښې
دا چې پلار نيکه يې پروت دي په مورچو کښې
چې مړه ښکاري د ژوندیو په جامو کښې
زړهٔ مې غواړي چې حساب وے په ژوندو کښې

دا فضا چې مې اهونه پکښې شوري
دا فضا چې لري ښکلي ښکلي ستوري
چې د شپې مې توره شپه د قسمت ګوري
زړهٔ مې غواړي چې پراته مې وے په پښو کښې

چې سبب د يؤ څو تنو د راحت وي
چې سبب د يؤ څو تنو د عشرت وي
چې سبب د يؤ څوتنو د خلوت وي
زړهٔ مې غواړي زلزلې د اسې بنګلو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې وړوکـــې د عمـــل بلـــه ډیـــوه وي
چـــې یـــوه نـــوې عقیـــده او فلســـفه وي
چـــې یـــوه نـــوې عجیبـــه غونـــدې تحفـــه وي
زړۀ مـې غـواړي چـې مـې راوړے پـه پښتوکښـې

زړۀ مـې غـواړي د یـو بـل چـې ځنـګ پـه ځنـګ وے
زړۀ مـــې غـــواړي د باطـــل ســـره پـــه جنـــګ وے
مـــونږه ټـــول یـــؤ ځـــایې ولاړ پـــه نـــام او ننـــګ وے
زړۀ مـــې غـــواړي اتفـــاق پـــه پښـــتنو کښـــې

مهجـــور نیـــت لـــرم د داســـې نېکـــې چـــارې
چـــې لار ښـــود وي د عمـــل د نېغـــې لارې
چـــې رڼـــې شـــي پـــرې د غرونـــو پـــالې نـــارې
زړۀ مـــې غـــواړي یـــؤ شـــعور خپلـــو پـــردو کښـــې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وختونه

کله کله مې یادیږي تېر وختونه
ښۀ وختونه خو افسوس په شمېر وختونه

کله کله ازمري هم ګیدړان کړي
کله جوړ کړي د ګیدړ نه شېر وختونه

کله یؤ ساعت مخې شي د کالونو
کله جوړ د سترګو رپ شي ډېر وختونه

کله وخت د خوشحالو راشي مهجوره!
کله غواړي د وختونو خېر وختونه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه

ګرځمـــــه تــــل د لېونوغونــــدې زهٔ
خپلــو تــه ښــکارم د پــردو غونــدې زهٔ

ســـتغو د ژونـــد تـــه اســـتقلال لرمـــه
د پښـــتونخوا د تـــورو غـــرو غونـــدې زهٔ

کلـــه فضـــا کښـــې اواره ګرځمــــه
مهجـــور د چـــا د اســـوېلو غونـــدې زهٔ

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوښتني

اے د موهومـــــــو پوښـــــــتنو بهیــــــره
اے د دلســــــوزو اســـــوېلو بهیـــــره
اےد ســـــتومان انســـــانیت قـــافلې!
او اے د تـــورو تـــورو شـــپو بهیـــره
شـــپه د مـــزل بـــه دې ســـبا کلـــه شـــي؟

○

څـــه خـــوے لـــرې هـــم د لـــوګي؟ لوګیـــه
اے د لوانـــده غونـــدې لرګـــي لوګیـــه
لـوګے لـوګے بـه یـې کـه وریـځ بـه هـم شـې؟
اے دمظلـــوم د مـــات زړګـــي لوګیـــه
تاکښـــې بـــه تنـــدر او برېښـــنا کلـــه شـــي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



باچـا بـې تاجـه د وطـن سـتړے دے
دا پـه خـوارو زارو مـین سـتړے دے
راشـئ اوګـوئ کـه رحـم لـرئ
خـولې خـولې دې تـول کـوهکن سـتړے دے
مـور د شـیرینې بـه رضـا کلـه شـي؟

دا چـې دې بنـدې د سـرکار لـه وېـرې
دا چـې دې بنـدې د خونخـوار لـه وېـرې
لـړه ښـکاره شـه نـامعلومې نېټـې!
دا بنـدې خلـې د اسـتعمار لـه وېـرې
چـې پـه خپـل حـق بـه دوي ګویـا کلـه شـي

چـې د مظلـوم شـي ورځـې شـپې بـدلې
چـې د محکـوم شـي ورځـې شـپې بـدلې
چـې پـاس تـر عرشـه دې فریـاد اورسـي
چـې د قـوم شـي ورځـې شـپې بـدلې
مهجـوره آه بـه دې رسـا کلـه شـي؟

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوس مه راځه لالیه

نۀ یم خبر لالیه
د سترګو رپ شو هغه ټول وختونه
چې حوصلې پېغلې وې
چې ارادې ځوانې وې
نوې غوټۍ غوړېدې
او ولولې ځوانې وې
وخت ؤ تنکے او ارمانونه تنکي
د زړۀ په کور کښې اوازې دې تا وې
نورې دنیا ته دروازې بندې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړې فقط وې ستا د پاره اشنا
استقبالي تنبې په سرو ګلونو
نورې هر چا ته دروازې بندې وې
تهٔ به راتلې په بخملينو لارو

○

اوس مې راځه لاليه
چې بنديوان يمه زهٔ
په زولنو د سامراجي نظام مې
لاسونه بند په بند تړلي دي نن
سترګې مې سرې دې شونډې وچې ګرځم
په چغو چغو مې ژړلي دي نن

○

اوس مې راځه لاليه
هيڅ نهٔ لرم خالي لاسونه ګرځم
تورو تيار کښې مړو ايرو ته ناست يم
نو په دې حال کښې به اونه کړے شم
چې د دې خپلې بېوسۍ په حال کښې
چې د دې خپلې غريبۍ په حال کښې
چې د دې خپلې مجبورۍ په حال کښې
تا هم بېوسه او مجبوره وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

اوس مۀ راځه لاليه
دلته اوس ټوله بې قدري پراته ده
دلته اوس ټوله مجبوري پراته ده
چې تا مجبوره او بې قدره وينم
زما غېرت زما انا نۀ زغمي
اوس مۀ راځه لاليه
اوس مۀ راځه لاليه

«««« »»»»

ټانک کالج 1968م

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پرېغل په تناظر کښې جنوبي وزيرستان ته

چې مې باز د فکر والوت کوز له زمکې نه اسمان ته
د پرېغل په څوکه ناست يم ګورم ګران وزيرستان ته
وينم هره خوا ته ګورم پېوندده، موسیٰ، روښان ته
او دعا له خدايه غواړم سوال کومه زۀ سبحان ته

لويه خدايه په دا سيمه داسې نر ژړے پيدا که
چې راغونډه په يووالي ارته ببرته پښتونخوا که

اے زما د زړګي سره اے له ځانه په ما ګرانه
اے زما د ډېرو ښکليو روايــاتو نګهبانه
اے د کندوليړو زمکې اے عجيبه کوهستانه
چې پرېغل دې هما له دے اے زما وزيرستانه

اے مسکنه د غازيانو اے مورچې د باتورانو
اے زما غېرتي خاورې اے ميراثه د نيکانو
چې پېرزو يې په مونږ نۀ شې د يووالي وروولۍ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې خفا په زړۀ دننه د پښتون په خوشحالۍ هم
نۀ وې خوښ چې د پښتون هم د سیالانو په سیالۍ هم
سموو به دا بد بخته هم په توره په ګولۍ هم

چې مې ګرانې پښتونخوا ته پرې په بد نظر کاته شي
*,,هغه سترګې شه لیچنې هغه کسي دې ړانده شي،،

وختي ماتې په هر چا راځي خفا چې ورته نۀ شي
په ما ګرانه ماته هغه وې چې مات ورته په زړۀ شي
داسې وخت به هم راځي چې به د خپلو خلقو تۀ شي
خدا ے دې نۀ کړي د تورمخیو سره هم چې تۀ سپېره شي

له سرې هوا دې ځار شم ستا قربان له سردرو شم
قرباني غواړي له خپلو هسې نه چې د پردو شم

لور په لور پکښې ویشتل چې میان ښکارزن غرځنې بزونه
زړۀ دړدیږي مې چې وینم لغړ سري هغه غرونه
چرته تول شو کاترې چرته وښې ځنګلونه
په اور اوسوځه که راغلل زمونږ حبیب ته پرمتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـو اوس اے ګرانـه پربغلـه شـابه تـهٔ اتـش فشـان شـه
شـغلې اوباسـه دخلـې نـه پـه دې خلقـو قهرمـان شـه
دا مـنم چـې هغـه خـوار وو وږې تـږې او نهـر وو
دا مـنم چـې نـهٔ کـلا وه نـهٔ لـونګۍ وه سـر ببـر وو
دا مـنم چـې پېسـې نـه وې اونـهٔ دومـره سـره سـپین زر وو
خـو سـاده بـاده ژونـدونۀ د یـۀ بـل پـه غـم خبـر وو

چې جامـه یـې هـم شـړې وه چـې بړسـتن یـې هـم شـړې وه
چـې بـه ځـار تـرازادۍ شـو نـو کفـن یـې هـم شـړې وه

پـوی پـه خونـد د ازادۍ وو وینـه ګرمـه پـه بـدن کښـې
وئیـل داسـې یـۀ شـهید د ،،تـاراکۍ،، پـه زنکـدن کښـې
مـونږه نـهٔ کـوو د غېـرو غلامـې پـه خپـل وطـن کښـې
دا دې پتـه وې انګریـزه سـتا رانـۍ تـه پـه لنـدن کښـې

اے زمـا وزیرسـتانه تـهٔ د داسـې خلقـو کـور یـې
سـتاله خـاورو صـدقه شـم د زړهٔ سـر تـهٔ د مهجـور یـې

«««««»»»»

*دا مصرعه د اجمل خټک صېب ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنوبي وزیرستان ته دعا او خواستونه

سوچ مې یوسي سمدستي ځمه له زمکې نه اسمان ته
د پرېغل په څوکه کښېنم ګورم ګران وزیرستان ته
وینم هره خوا ته ګورم پېونده ،موسیٰ ، روښان ته
او دعا له خدایه غواړم سوال کومه زه سبحان ته

په دا سیمه کښي دې خدایه داسې نرژني پېدا شي
چې راویښي او بېدارې ولولې د پېونده شي

داسې نر چې په دا سیمه هر بد کار ترېنه ترسیږي
هر دښمن د ازادۍ او هرمکار ترینه ترسیږي
لېونے د ازادۍ چې هوښیار ترینه ترسیږي
یؤ لمسے د پېونده چې استعمار ترینه ترسیږي

شي ګمان مې د سکروټو په ظاهره مړو ایرو کښې
زۀ چې ګرځم د غازیانو ړنګو پنګو هدیرو کښې

وایم ګران وزستان مې د پښتو نه خالي نۀ دے
دا ګلشن د ازادۍ مې دغنچو نه خالي نۀ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمار ته دا وطن لا د خطرو نه خالي نۀ دے
وایم کور د پېونده خو د ظلمو نه خالي نۀ دے

هر دښمن چې مې دې سيمې ته په برندو سترګو ګوري
مونږ ويستے شو هغه سترګې خبرداره دې بيا شوري

دا تش غرونه غرونه نۀ دي دلته پټه يوه جذبه ده
دا جذبه د ازادۍ مې دنيکانو يوه ورثه ده
هره لاره استعمار ته چې پرې ځي ګړه ورړه ده
څو څو ځله د ظالم له دې ځاے تللې جنازه ده

اوس دې نۀ ګوري دې خوا ته هر په زړۀ خيرن ته وايم
خاربښتيرې چې پرېغل ته هر هغه پمن ته وايم

زۀ د ګران وزيرستان تعليم يافته ورونو ته وايم
په ښائست د نور د علم ښائسته ورونو ته وايم
زۀ د مينې محبت په واسطه ورونو ته وايم
چې څه درد لري په زړۀ کښې زه هغه ورونو ته وايم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خپلې علاقې نـه زمـا ورونـو بو سـتان جـوړ کړئ
دلتـه امـن امـان جـوړ کـړئ دلتـه امـن امـان جـوړ کـړئ

خـو مهجـوره ښـکلے بـاغ وزیرسـتان هلـه کېـد ے شـي
د دې سـیمې د رنځونـو بـس درمـان هلـه کېـد ے شـي
دا د غرونـو او سـېدونکے ښـۀ انسـان هلـه کېـد ے شـي
زمـا ورونـو دلتـه امـن و امـان هلـه کېـد ے شـي

چې دګـران وزیرسـتان مـې هـر بچے تعلـیم یافتـه شـي
هـر بـوډا تعلـیم یافتـه شـي هـر ځلمے تعلـیم یافتـه شـي

«««««»»»»»

یادګېرنـه: مـا دا دوه نظمونـه د وزیـر سـتان د موجـوده حالـت نـه ډېـر کالونـه وړانـدې لیکلـي دي- ځکـه د وزیرسـتان د اوسـني حالـت نـه مختلـف پـس منظـر کښـې لیـد ے شـي-دې کښـې د ځینـو بنـدونو ټکـي هـم یـۀ رنـګ دي- هغـه وخت بـه دا د بزو ،مېـږو ،او غواګـانو غلـې کېـدې- او ډېـرو بدمعاشـانو بـه دې خلقـو نـه ډاټسـن ګـاډي بوتلـل- او اوبـه یـې تښـتول- د ویـونکي دي دا نظمونه د هغه وخت په تناظر کښې ګوی، ووائی-
یادګېرنـه: دا دواړه نظمونـه مـا پـه کـال 1997م کښـې پـه ډي ائـي خـان کښـې د فقیر ایپي په کانفرانس کښې وار په وار وئیلي وو-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ازادۍ په ورځ

د څوارلسم اګست د نمر د راختو نه مخکښې
سحر وختي له کلي اووتم بېديا ته لاړم
د ښکلي نمر د ازادۍ د مبارکې ورځې
د پلوشو په استقبال ګوشې يو خوا ته لاړم

بهر له کلي نه خو ډېر له کلي لرې هم نه
په يوه جونګړه مې په لاره کښې نظر لګېدو
ناسته په وره کښې د جونګړې مې بوډۍ اوليده
ماته ملا سپين يې د وړۍ په شانې سر لګېدو

دې هم کتل په نمر خاته خو چې يې زۀ اوليدم
ويې د اګست خو زويه نن ده څوارلسمه کنه
دا نن سحر د ګران وطن د ازادۍ سحر دے
ما وې چې هو ګرانې ابۍ دا خو منمه کنه

دا راته وايه چې دا تۀ دلته تنها ولې يې
جدا له خلقو نه پراته تۀ په بېديا ولې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ریبېدونکے لاس دې اونیسي او پاڅوي دې
داسې څوک شته که نا تهٔ ناسته ماته ملا ولې ئې

ابۍ یو سوړ اسویلے اوکړو ویې چې هو بچیه
زهٔ تنها نهٔ یم زما ډېر ښکلے یو ځوان بچے ؤ
د ګران وطن د ازادۍ جنګ ته مې اولیږلو
لا خوراغلے نهٔ دے ښهٔ مرد مېدان بچے وو

خو داسې اورمه له خلقو چې شهید شو هغه
زما پتنګ کړو ځان ستي د ازادۍ په شمع
وائي چې مړه شي نو هغه په دنیا بیا نهٔ راځي
ورکړے سر زما بچي د ازادۍ په شمع

خو نا دا ټول دي په غلطه شهیدان خو نهٔ مري
د ازادۍ په شمع سوي پتنګان خو نهٔ مري
نن ځوارلسمه د اګست ده زهٔ کمځې غوړوم
د ازادۍ جنګ ته وتلي باتوران خو نهٔ مري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـا يقـين دے چـې راځـي بـه نـن سبا بـه راځـي
د ازادۍ بېـرغ پـه لاس کښـې پـه ګـډا بـه راځـي
نـن څوارلسـمه د اګسـت ده پـه خنـدا بـه راځـي
نـن بـه راځـي نـن بـه راځـي او خامخـا بـه راځـي

نـو راشـئ ورونـو چـې لـږ سـوچ اوکـړو او فکـر وکـړو
د ازادۍ پـه ورځ بـه ډېـرې خوشـحالۍ هـم کـوو
څـو څـه خـو بـه خيـال د مـور او پـلار د شـهيدانو سـاتو
څـه خـو بـه خيـال د ننګيـالي د دې ابـۍ هـم کـوو

د ګـران وطـن د ازادۍ خـو ډېـر کالونـه اوشـو
خـو لا خـو لارې د زامنـو ګـورې بـورې مينـدې
پـه انتظـار د خپـل شـهيد دا يـوه ابـۍ هـم نـۀ ده
مهجـوره وې بـه ګـران وطـن کښـې داسـې نـورې مينـدې

«««««»»»»

يادګېرنـه: مـا د نظـم پـه څوارلسـم اګسـت کـال 1964 م کښـې لـيکلےؤ- چـې زۀ پـه ګورنمـټ مـډل اسـکول کړمـه کښـې د اتـم ټـولګې طالـب علـم ووم-او د ازادۍ د بـاتورانو ډېـرې مينـدې ژونـدۍ وې-د دې نظـم معيـار د اتـم ټـولګي د يؤ هلک د ليک په تناظر کښې وګورۍ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلنه

اے خوارانـــو غریبـــانو راشـــئ راشـــئ
اے بـــې کســـو مظلومـــانو راشـــئ راشـــئ

چـــې مـــانړۍ د اســـتبداد کـــړو دړې وړې
رانســـکورې چـــې بنګلـــې کـــړو لـــوړې لـــوړې
ورتـــه اور کـــړو چـــې تـــرې پورتـــه شـــي لـــوخړې
چـــې بنګلـــې شـــي د خانـــانو خـــړې پـــړې

اے خوارانـــو غریبـــانو راشـــئ راشـــئ
اے بـــې کســـو مظلومـــان راشـــئ راشـــئ

نـــن دخپلـــو عشـــرتونو حســـاب ورکـــړئ
نـــن دخپلـــو دولتونـــو حســـاب ورکـــړئ
د مـــزو او د خونـــدونو حســـاب ورکـــړئ
د دې لویـــو محلونـــو حســـاب ورکـــړئ
اےخانـــانو نوابـــانو راشـــئ راشـــئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــن قیمـــت د خپلـــو تویـــو خولـــو غـــواړي
نـــهٔ شـــرمیږي لـــه هیچـــا نـــهٔ چاتـــه ژاړي
حـــق بـــې حقـــه مـــو حقونـــه چـــې څـــوک داړي
وړپســـې شـــئ راشـــئ تـــول لکـــه غوبـــاړي
خـــړو پـــړو مزدورانـــو راشـــئ راشـــئ

ولـــې غلـــي د غریـــب پـــه بـــد حـــالی یـــې
ولـــې خـــوښ پـــه دابـــې خونـــده زنـــدګی یـــې
د اســـلام پـــه تلـــه خامخـــا تلـــی یـــې
حـــق تـــه حـــق وائـــي ښـــکاره بیـــانوی یـــې
امامـــــانو خطیبـــــانو راشـــــئ راشـــــئ

د ســـرو شـــونډو لـــه شـــرابو لاس پـــه ســـر شـــئ
لـــه تیـــارو د تـــورو زلفـــو رابهـــر شـــئ
کـــار پـــه تشـــه وینـــا نـــهٔ کیـــږي خبـــر شـــئ
عمـــل وکـــړئ د غریـــب پـــه چـــارو ورشـــئ
شـــــاعرانو ادیبـــــانو راشـــــئ راشـــــئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترینه کار د تورو واخلې خبردار شئ
بند ترلي مخامخ د استعمار شئ
ټول په نېغه لاره واړوئ په لار شئ
خالي مه کښېنئ اخته د قام په کار شئ
د وطن قلمکارانو راشئ راشئ

ټول به ځار په ننګ غېرت او په پښتو شو
دا پرې جنبې به پرېږدو ټول به يو شو
که يو نه شو نو دا ټول به هم يو څو شو
په دریاب د بې ننګۍ کښې به لاهو شو
زما ورونو عزیزانو راشئ راشئ

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راشه

راشــــه چـــې بـــاغ د زنــــدګۍ تـــه بهارونـــه راشـــي
راشـــه چـــې غـــاړې د ځوانۍتـــه دې هارونـــه ر اشـــي
راشـه چـې تـورې تيـارې شـپې د جـدايۍ شـي ختمـې
راشـه چـې ختمـې بـې کـارۍ شـي او کارونـه راشـي

کــور د زړۀ وران د ے رڼــا نشـــته مـړې ايـرې دي اشـــنا
د هجـران شـپې ډېـرې اوږدې ډېـرې سـپېرې دي اشـنا
زړۀ د ماشـوم غونـدې ژړيـږي سـترګې سـرې دي اشـنا
زر کـړه راځـه چـې مـې زړګـي تـه قرارونـه راشـي
د يـۀ عاشـق د ګرمـو ګرمـو اسـوېلو پـه خـاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یـــؤ مـــین د جـــدایی نـــه د ګیلـــو پـــه خـــاطر
پورتـــه کـــړه جـــام دې د دیـــدن د مېلمـــانو پـــه خـــاطر
چـــې د خنـــدا د عاشـــقانو هـــم وارونـــه راشـــي

دا بـــې قیمتـــه چـــې دي نـــن د غریبـــانو خـــولې
دلتـــه بـــې قـــدره دي زمـــا د مزدورانـــو خـــولې
خـــواره خـــواری کښـــې مـــې بهیـــږي د خـــوارانـــو خـــولې
وختـــه راځـــه چـــې پـــه بـــادارو یـــې پورونـــه راشـــي

چـــې بـــده ورځ شـــي د پښـــتون پـــه دښـــمنانو بانـــدې
چـــې زنکـــدن شـــي د پښـــتون پـــه بـــد خواهـــانو بانـــدې
چـــې ورځ د عیـــد شـــي پـــه خـــوارانـــو غریبـــانو بانـــدې
پـــرې خوشـــحالی دلـــی دلـــی او انبارونـــه راشـــي

زړې قیصـــې چـــې د لیلـــیٰ او د مجنـــون تـــازه شـــي
خونـــد د وصـــال ســـره غمونـــه د بیلتـــون تـــازه شـــي
چـــې ولـــولې د عاشـــقانو د ژونـــدون تـــازه شـــي
بیـــا منصـــورانو تـــه د مینـــې چـــې دارونـــه راشـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا بې خونده ورځې شپې د ژوندګۍ شي ختم
چې دا په ژبه او قلم دي پابندۍ شي ختم
چې دا جېلونه زنځیرونه هتکړۍ شي ختم
په ازادۍ چې د بلبلو چغارونه راشي

د خوشحالۍ ورځې به کله وي خبر نۀ یمه
د سوکالۍ ورځې به کله وي خبر نۀ یمه
چې د سیالۍ ورځې به کله وي خبر نۀ یمه
مهجور خبر کړه چې د ژوند اعتبارونه راشي
راشه چې باغ د زندګۍ ته بهارونه راشي

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راپک

یوه ورځ د اوړي په غرمه کښې په سکنۍ غرمه کښې
کورته راتلمه وم راوړے مجبورۍ غرمه کښې
د اور لمبه وه لګېده په مخ سیلۍ غرمه کښې
خولې خولې وې خوټکېدلې ککرۍ غرمه کښې

چې په جنډوله اودرېدو بس د پاټک په خوا کښې
ولاړ په نمر ؤ زمونږ بس سره راپک په خوا کښې

ګرمۍ اخستے ؤ خولې ؤ سیلېدلو سره
بس ته راوختو د بس د اودرېدلو سره
او مونږ سوارلۍ چې په سیټونو سمېدلو سره
دے ؤ ولاړ چیرړې جامې یو څو کمبلو سره

وې چې سخیانو ته د خېر وې ستړي مه شئ وروڼو
هر څه دې ستاسو کره ډېر وې ستړي مه شئ وروڼو

څوک یوه روپۍ او څوک انه او څوک پیسه ورکوي
هر سړے ده ته بس د پاره د الله ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک اوازې ورته د معاف که معاف اې تره ورکوي
څوک ورته وائي لاره پرېږده څوک ديکه ورکوي

زۀ په سيټ ناست يم د قدرت په قدرتونو کښې غرق
دا د نصيب رنګا رنګې ته په سوچونو کښې غرق

وايم چې دغه وړے تړے ځوان به ورور وي د چا
وايم چې ده کره به ناسته لور او خور وي دچا
دا غريبي د ده به هم چرته پېغور وي دچا
خدايه د ده په غريبۍ کښې به قصور وي د چا

د پلار نيکه ځينې که خدايه څوک خانان کېدے شي
نو دا خولې خولې راپک هم راپاخان کېدے شي

په بدرګه په چا د چا سره ټوپک کرځوي
په هله ځله هر بوډا، ځلمے هلک ګرځوي
چې وي ماړه نو بيا مازغه پاس په فلک ګرځوي
چې شي خالي نو کور په کور خېټه راپک ګرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه هــر مــوټر هــره لارۍ کښــې مــا او تاتــه ګــوري
د ازلــي برخــې پــه تمــه دے هــر چــا تــه ګــوري

څــوک وي خانــان د چــا پــه برخــه مــزدوري وي د چــا
د بــل پــه مخکښــې لاس نيــول بــه مجبــوري وي د چــا
لکــه راپــک وريســې منــډې ضــروري وي د چــا
پــه زر جېبونــو کښــې تقســيم خدايــه روزي وي د چــا

د چــا خنــدا ځــان پــورې نـۀ غــواړي قســم دے وروره
مهجـــوره! زړۀ لـــري د غوښـــې بنيـــادم دے وروره

«««««»»»»

يادګېرنـه: راپـک زمـونږ د علاقـې يـؤ ملنـګ او غريـب سـړے ؤ-دے بـه اکثـر هـره ورځ جنډولـه تـه راتلـو- اول بـه يـې پـه بـس او لارۍ کښـې ناسـتو خلقـو تـه سـتړي مۀ شـې اوکـړل- او بيـا بـه يـې اووئيـل چـې سـخيانو تـه دې خبـر وي-د ملنـګ برخـه اوکـړې- وائـي چـې پـه غـوا کښـې کـه پـے نـۀ وي هـم خـو د ,,بـورکي،، ورتـه هيلـه وي- مـا دا نظـم د دغـه ملنـګ راپـک پـه نـوم لـيکلے دے-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زخمي ګوته

دا نـــن قیصـــه چـــې زۀ لیکمـــه حقیقـــت لیکمـــه
د یـــو غریـــب نـــوکر د خـــوږ ګـــوتې حالـــت لیکمـــه

ده زخمـــي کـــړې خپلـــه ګوتـــه د ســـبزۍ ســـره ده
نـــورو تـــه بیـــا هـــم جـــوړوي دی ترکـــاري لګیـــا دے
جـــوړه یـــې کـــړې ښـــۀ دخپلـــې غریبـــۍ ســـره ده
څنګـــه چـــې دي خـــو د ژونـــد ورځـــې تېـــروي لګیـــا دے
څـــه نـــا اشـــنا یـــې دغـــه ګوتـــه د پټـــۍ ســـره ده
ځکـــه بـــې غمـــه تـــرې ســـرې وینـــې تویـــوي لګیـــا دے
جـــوړې پـــه زړۀ کښـــې څـــه بـــدل لـــه دې ســـماجه اخلـــي
ځکـــه هـــر څـــه پـــه خپلـــو ســـرو وینـــو لـــړي لګیـــا دے

څـوک بـه مـې ګـرم بـولي خـو سـتا پـه دې سـرو وینـو قسـم
چـــې زۀ دا هـــر څـــه چـــې لـــیکم د زړۀ لـــه کـــومي لـــیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايم چې څوک به ستا په وينو کړي دوې اوښکې تويې
وايم چې څوک به د عبرت پکښې څه مومي ليکم
وايم خولو سره به خورو چې د غريب خولې دي
خبر دے روټۍ که څه بې خونده څه بد رنګه وخورو
خو اخر مونږ هم انسانان يو اے د زړۀ سلطانه
ستا په سرو وينو باندې سره چپاتي څنګه وخورو

زۀ سوچ کومه چې مهجوره! په دا ګران وطن کښې
وي به ټيکلې نن د ډېرو مزدورانو ګوتې
سلطانه ډېر دي ستا ملګري چې بې چروته نۀ شې
په وينو سرې به وې د ډېرو سلطانانو ګوتې

«««««»»»»

يادګېرنه: زمونږ يؤ لنګري ؤ- هغه د سبزۍ سره خپله ګوته غوڅه کړې وه –د ده نوم ،،سلطان،، ؤ- ما دا نظم د ده د زخمي ګوتې تر اثر لاندې ليکلے دے-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوک دے؟

ژونده ! ستا د کشمکش په مرحلو کښې
په اوږدو لارو روانو قافلو کښې
چې آه نۀ کوي او پښې ابلې روان دے
د منزل په اسره درومي په ازغو کښې
د غېرت همت نه ډک دا سړے څوک دے؟

د ارام په ښاپېريو مين نۀ دے
د نشو په اور انګار لوغړن نۀ دے
چې يې بار د بل غمونه هم په سر دي
چې په وچه زمکه بار د وطن نۀ دے
د خولو په سمندر کښې مهے څوک دے؟

امارت دے منتظر د چا خولو ته؟
رڼا ورځ ګوري د چا و تورو شپو ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک دے چې يې پروړې په قسمت دي؟
هغه څوک دی چې دانې يې کړې ترڅو ته
د وطن په شنو فصلونو ږلې څوک دے؟

زۀ مهجور يمه خبر له خپل قانونه
د خوږې ليلىٰ خبر يم له مجنونه
د ريا په جامو کله نۀ تېروزم
راته نۀ به ښايي نخښې له پښتونه
ماته مۀ وايه چې خپل او پردے څوک دے

«««««»»»»

يادګېرنه: زما دا نظم په روزنامه شهباز سمتبر کال 1970م کښې چاپ شوے ؤ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کاروان منځې په سر

روان مـــوټر کښـــې د کـــاروان منځـــې پـــه ســـر ومـــه زۀ
رو غونـــدې ماتـــه مـــې زړګـــي لکـــه د چـــا ووئيـــل
،،وکـــړه عظمـــت تـــه د وطـــن د مزدورانـــو ســـلام،،
خـــولې خـــولې شـــومه ملګـــري تـــه مـــې دا ووئيـــل

تـــۀ د تـــک تـــور هـــوار ســـړک خوندونـــه اخلـــه دورمـــه
مـــا دلتـــه پربـــږده چـــې د چـــا تـــويې خـــولې اوګـــورم
،،پـــه اســـوېلو د چـــا تنهـــاکې زۀ تبـــل غـــواړم
زۀ بـــه د چـــا د لاس پټـــوکي دلتـــه پـــرې اوګـــورم،،

چـــې د کـــاروان منځـــې پـــه کلکـــه او ببـــره ســـينه
د تـــور ښـــامار غونـــدې تـــاوېږي راتـــاوېږي غونـــدې
د دې ســـړک پـــه غـــاړه ناســـت يمـــه ســـوچونه کـــوم
خـــوارۍ ځـــارۍ د غريبـــانو رايـــادېږي غونـــدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایــم چــې دلتــه چــې تېریــږې د مــوټر مالکــه
درتــه د چــاټیکلې ګــوتې هــم یــادیږي کلــه؟
دلته وزګـار شـو سـړک جـوړ شـو خـو نـه دے غریـب دے
چرتـه بـل ځـایې کښـې بـه لګیـا وي وزګـاریږي کلـه

چې پـه کلـک غـره کښـې ستا مـوټر لارې تـه لار جـوړوي
وایــه اشــنا د فرهــادي همــت ځښــتن څــوک دے؟
هـوار سـړک چـې پـرې تـک تـور او هـم صـفا جـوړ شـو
پــه دې تــودو تــارکولو ســوے لــوغړن څــوک دے؟

وایــه چــې لاړو پیــاده ســتړے ســتومانۀ کورتــه
ستا عـېش کـدو تـه یـې لنـډ کـړے اسـان کـړے مـزل
ټیکلــې ګــوتې او مــلا ماتــه ټولــه ورځۀ لګیــا
د ټــولې ورځ د محنــت دې څــومره ورکــړو بــدل؟
بــس دومــره څــه چــې وږي تــږي او نهــر بچــې یــې
ډوډۍ د یــۀ وختــي خــو اومــومي او نــۀ وي د بــل
نــو دا غریــب بــه وي لګیــا ســبا بــه بیــا رادرومــې
وي بــه لګیــا او جــوړوي بــه دې شــاندار محــل
اوس راتــه وایــه چــې پــه حــال د دې غریــب اولــیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کــه نغمــې اولــيکم اوســتايمه پــه زلفــې ول ول
اوس هــم صــفت د چــا د شــونډو او رخســاراوليکم؟
اوس دې هــم خيــال د ے ســتمګره چــې بــه لــيکم غــزل؟

نــا کلــه نــا اوس بــه قيصــې ســتا د ظلمونــو لــيکم
اوس بـــه ســـامان ســـتا د ژړا وي خنـــدوم بـــه دې نـــا
اوس بـــه زمـــا د قلـــم ژبـــه وي او ســـتا ظلمونـــه
اوس بـــه د يـــو يـــو بـــدل اخلمـــه پرېـــږدم بـــه دې نـــا

مهجـــور غمجـــن غونـــدې راپاڅېدمـــه راغلمـــه خـــو
مـــا پـــه خولـــو چـــې بـــې قيمتـــه وي قســـم کـــړے د ے
هـــر جـــاګير دار ســـرمايه دار تـــه بـــه پـــه ډاګـــه وايـــم
چـــې د وطـــن پـــه غريبـــانو دې ســـتم کـــړے د ے

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ليوني په مرګ

خلقــو لــږ مــا خــو هــم خبــر کــړی دا غوغــا د څــه ده
ماتــــه هـــم ووايـــئ قيصــــه دا نـــن ســـبا د څــــه ده
څـــه د حســـرت او څـــه د غـــم ډکـــه فضـــا د څـــه ده
ماتــــه هـــم وايـــئ زړۀ مـــې چـــوي دا ژړا د څــــه ده

دا څــوک چــې کلــي تــه او څــوک ؤ هــديرې تــه ځغلــي
ښــکاري خــو داســې څــوک مــړ شــوے دے زمــونږ د کلــي

دومــره پــوهېږم چــې د کلــي څــوک ســړے مــړ شــو
يــا بـــه هلـــک ؤ يـــا بـــوډا او يـــا زلمـــے مـــړ شـــو
د چـــا عزيـــز ؤ د چـــا خپـــل د چـــا پـــردے مـــړ شـــو
خـــو دا ماشـــوم وايـــې د کلـــي لېـــونے مـــړ شـــو

ســـترګې مـــې ســـرې دي ژړوي مـــې نـــن پـــردي غمونـــه
وايــــې رښــــتيا د لېونـــــو وي لېـــــوني غمونـــــه

خــدايګو کــه نــن زمــونږ د کلــي مشــر خــان مــړ وے
هغـــه چـــې ځـــان بـــولي د کلـــي نګهبـــان مـــړ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـــه مالـــک زمـــونږ د ګټـــې او تـــاوان مـــړ وے
هغـــه خښـــتن د ښـــې حجـــرې او لـــوے مکـــان مـــړ وے

نـــو مابـــه نـــهٔ ؤ دا دومـــره پـــه مرګـــي ژړلـــي
څـــومره چـــې نـــن مـــې دي پـــه مـــرګ د لېـــوني ژړلـــي

تـــهٔ چـــې کاواکـــه بـــې خبـــره پـــه کوڅـــو ګرځېـــدې
پـــه رڼـــا ورځ هـــم ګرځېـــدې پـــه تـــورو شـــپو ګرځېـــدې
پـــه ســـر ســـرتوره ګرځېـــدې پـــه ابلـــو پښـــو ګرځېـــدې
څـــوچې ژونـــدے وې واک دې خپـــل وو بـــې جـــامو ګرځېـــدې

اوس يـــې مـــړ شـــوے نـــو پـــه خوښـــه د ژونـــدو کښـــې بـــه ځـــې
اوس تـــورو خـــاورو تـــه چـــې ځـــې ســـپينو جـــامو کښـــې بـــه ځـــې

د هـــر ماشـــوم د لاســـه کـــاڼي تـــا پـــه ســـر زغملـــي
تـــا د ځوانـــانو ګزارونـــه پـــه ټټـــر زغملـــي
تـــا د هـــر چـــا د لاســـه هـــر څـــه لکـــه نـــر زغملـــي
مـــرهم د مـــالګې دي د تـــا پرهـــر پرهـــر زغملـــي

نـــن ليونيـــه ځکـــه ټـــول راغونډومـــه کلـــے
ســـتا پـــه مرګـــي پـــه چغـــو چغـــو ژړومـــه کلـــے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاته پوښتنه چا ونه کړه چې په زړه دې څه دي
څوک پوهه نه شو په هغه هم چې په خله دې څه دي
هرچا ته بد وې چا ونه کتل چې ښه دې څه دي
لېونۍ ستر ګې دې څه وایې په بانه دې څه دي

لاړې زمونږ د دنیا ګۍ نه ګیله من لاړې ته
غمجن دې څکه واړه کلې چې غمجن لاړې ته

تا پورې چا به چې څه ټوقه مسخره کؤله
تا به څواب کښې معمولي شانتې ګیله کؤله
یا به چې چا درته څه سپکه او سپېره کؤله
تا به په خپله هم خبره د هغه کؤله

خوار نه شې تاته جوړې مونږه خندني ښکارېدو
لېونې نه وې درته مونږه لیوني ښکا رېدو

خوار نه شې ستا جوړې زمونږه دنیا خوښه نه وه
مونږ لېونې ګڼلې ستا خو رښتیا خوښه نه وه
د خوار غریب دې بې اثره ژړا خوښه نه وه
د دنیا دارو دې مستې او خندا خوښه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو تا نه خان ته امیري نه غریبي خوښه کړه
تا زندګي په هوښیارۍ د لېوني خوښه کړه

مهجوره دروميي په څه شان د شاه زلمي جنازه
ځي هديرې ته عجيبه غونډې شاهي جنازه
نۀ ايساريږي چرته هم په لاره ځي جنازه
نن په اوږو د عقل ځي د لېوني جنازه

د زندګۍ ستغې سپېرې يې لکه خوب تېرې کړے
ښې په مزه يې ورځې شپې د لېونتوب تېرې کړې

«««««»»»»

يادګېرنه: زمونږ په کلي کښې يؤ لېونے ؤ- هغه په کال 1974م کښې په حق ورسېدو- هسې خو ډېر خلق مري او پېدا کيږي خو د ځينو خلقو مرګ د سړي څه داسې احساسات راولړزوي چې درک يې هغه ته خپله هم نۀ لګي- ما دا مرثيه يا نظم د څه داسې احساساتو لاندې ليکلے دے ځکه چې لېونے زما څه تربور عزيز نه ؤ-خو لېونے ؤ او زمونږ د کلي ؤ- دغه وخت زۀ هائي اسکول وانه کښې ووم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خان جېل

ټـــي وي هـــم ســـتا مخـــامخ د ے درتـــه ا ے ســـي لګېـــدلے
کـه پـه سـور اور کښـې سـوځېږي غريـب ا ے سي څـه ليـدلے
پـــوليس ګـــپ درســـره ولـــي خانـــه دغـــه ســـتا ريمانـــړ د ے
خـو بيـا هـم د جېـل نـه تللـودې تـا هـر وختـې ډيمانـړ د ے
سـتاپه جېـل کښـې اوسـېدل خـو يقينـي چـې ډېـر اسـان دي
ستا په جېل کښې خو راحت د ے خوشحالي ده سهولت د ے
کـه رښـتيا راښـدې وايـې سـتا خـو جېـل نـه د ے جنت د ے
سـتا پـه جېـل کښـې اوسـېدل خـو يقينـي چـې ډېـر اسـان دي
حـــال د هغـــو خلقـــو ګـــوره چـــې التهـــا يـــې اوېـــزان دي

داسې جېل کښې دې تېرکړے کاش چې ټول عمرمهجور و ے
دغـــه جېـــل ســـره د ټولـــو ســـهولياتو زمـــا کـــور و ے

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غمجن اختر

سحر وختي چې خوشحالۍ دلۍ دلۍ راغلې
چې رپوي سرې لوپټې هغه سيلۍ راغلې
ښکليو جامو کښې شو ارمان د هر ماشوم ترسره
سر په سندرو دي د چم ګاونډ جينۍ راغلې
فضا خوشبويه چاپېر چل شو سندريزه غوندې
د خوشحالو ډکې لمحې د زندګۍ راغلې
د خونده ډک دے خوندور او بختور سحر دے
د هرې خوا نه د اختر مبارکۍ راغلې

دا د جذبو د خوشحالو او سرمستو اختر دے
خو که رښتيا وايمه دا بس د هغو اختر دے

د چا چې شپې ورځې بدلې رابدلې نۀ دي
د چا چې کور د قسما قسم خوراکونو ډک دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پــه تنــدي یــې پرخــې پرخــې خــولې نــۀ را درومــي
د چـــا چـــې ژونـــد د عشـــرتونو راحتونـــو ډک د ے
بایــد هغــه دې نــن لاســونه پــه نکریــزو ســره کــړي
د چــاچې کــور د بــې غمــۍ ســپین مړونــدونو ډک د ے
هغـــه خـــو ژاړي کـــه اختـــر د خنـــدا ګانو ورځ ده
پــه غــم لــړلې د چــا ژونــد چــې لــه غمونــو ډک د ے

زړۀ چــې غمجــن وي د خوشــۍ پــه نــن ســحر کښــې څــه دي
څۀ شــو کــه نــوم یــې د اختــر د ے پــه اختــر کښــې څــه دي

نــن زمــا ورونــه بنــدیوان دي پــه پــردي وطــن کښــې
زۀ خبــر نــۀ یــم چــې د دویــي بــه دا اختــر ځنګــه وي
خــو ســوچ کــوم چــې اخــر دوئــي هــم انســانان دي ربــه
دوي هــم پــوهیږي چــې بــه دلتــه نــن ســحر ځنګــه وي
ســر پــه زنګــون بــه څــوک پــه خیــال کښــې محبوبــه یــادوي
او څــوک بــه ژاړي چــې زمــا بــه نــن ټبــر ځنګــه وي
دوي پــه اختــر هــم اغوســتے نــۀ شــي نــن نــوې جــامې
ســوچ بــه کــوي چــې بــه نــن حکــم د افســر ځنګــه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ هـــم ســــپېره يـــم د اختـــــر پـــــه ورځ ژړا کومـــــه
دچـــا پـــــه يــــاد کـبنـــــي دا عبثـــــه مشـــــغولا کومـــــه
اختــر خــو نــوم د خوشــحالو دے خــو هغــو تــه نــۀ دے
څــوک چــې د بـــد نصـيب د لاســـه پـــه بـــد حال پراتـــه دي
څــوک چــې د يــوې يــوې آنــې خبــر غــواړي پــه نــوم د الله

پــه خــاورو خــړ يـــې لاس نيــولي کــوي ســوال پراتــه دي
د چــــا د ژونـــــد ملګـــــري لاړل همېشــــــه د پـــــاره
د چــــا کورونــــه شـــو تــــالا والـــــه کنګـــال پراتـــه دي
د سياســـت د لاســـه کونـــډې د چـــا خوينـــدې لونـــه
او د چـــا ورونـــه ترمــــې ترمـــې پـــه بنګـــال پراتـــه دي

مهجـوره څــه؟ کــه تــش بــه نــوم پــه ټــول وطــن اختــر دے
د ژړا ډک پــــــه غـــــم لـــــړلے او غمجــــن اختــــــر دے

«««««»»»»

يادګېرنـــه: مـــا دا نظـــم د بنګلـــه دېـــش د بېلېـــدو پـــه وخـــت لـــيکلے ؤ-کلـــه چـــې زمـــونږ نـــوي زره(90000)فـــوځ د هندوســـتان پـــه بـــېلا بېلـــو کېمپونـــو کښـــې د جنګـي قېديانو ژوند تېر ؤ-

# یؤ شاعر ملګري ته وصیت

که بیمار یم لږ مې خیال په ماه وسال که
د اویا کالونو تېر شومه تهٔ خیال که
زهٔ د منې زیړه پاڼه یم د ونې
چې در پرېوزم ځناور به مې پائمال که
لکه ډېره ښکلې پاڼه د سیمرغ
د یادونو په کتاب کښې مې سنبال که
د حالاتو له سیلۍ مې مرقد ژغوره
هسې نهٔ چې خاوره یوسي ما کنګال که
د شعرونو مقبره کښې زما قبر
درنه ورک نهٔ شي زیارت یې کال په کال که
که دې وس ورسېد جوړ ترینه کتاب که
ورک شعرونه را پېدا مې له عیال که
دغه کار ته تر مودې مهٔ ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابتــدا یــې کــه دې زړۀ غــواړي امســال کــه
ډېــره ښــکلې دیباچــه پــرې نوشــته کــړه
د یــادونو تــرې چــاپېره یــۀ دېــوال کــه
چــې کتــاب پــرې دګلونــو باغیچــه شــي
هغــه ښــکلي ښــکلي ټکــي اســتعمال کــه
د یــارۍ مــې دومــره حــق دربانــدې نشــته
خــو تــۀ خبــر دغــه کــار وکــړه ماخوشــحال کــه
پــه قیامــت کښــې چــې یــۀ بــل تــه غــاړېوځو
دغــه کــار بــه د یــارۍ هــم اســتدلال کــه
پــه ســلګو د زنکــدن کښــې بــه زۀ وایــم
چــې مهجــور پــه دا ښــېګړه لازوال کــه

«««««»»»»

یۀ شعر

ګــل چــې ســتایې ازغــې هــم بــد مــۀ ګڼــه
دا خــو ازغــې دي چــې ګلونــه ژغــوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بغاوت

وخته چې بیا دې ورځې شپې ځوریږي
وینم او وایمه چې ښې ځوریږي
ستا په تندي اې کائناته ګورم
عن چې وړې وړې ذرې ځوریږي
دې وینو څښکونکي ازمري ته زما
هم د حالاتو ارادې ځوريږي
خبر دے خو توان د دې لیدو نهٔ لرم
چې حیا ناکې پښتنې ځوریږي
خدایه آلېچې فولادي غوا ړمه
چې يې مړوند ته زولنې ځوریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخــــت ظالمـــه ډېـــر منـــت دې کـــوم
بــس کــه بــس نــور مــې پــه ګســو مــۀ وهــه
ډېــر اوشــو ډېــر اے ســامراجي ظالمــه
نــور مـــې کـــاروان د تلوســـو مـــۀ وهـــه
دا وینـــــې زوې د غریــــب دي غتهـــــه
دا شـــراب ګـــوره پـــه کاســـو مـــۀ وهـــه
د زور ګېـــرۍ نشـــه کښـــې مســـت ســـړیه
بـــس د ے نـــور حـــق د پښـــتنو مـــۀ وهـــه

نـــۀ منـــې؟ ښـــۀ ده نـــو اوس خپلـــه ګـــوره
اوس د اوچتـــو بنګلـــو درز تـــه تهینـــګ شـــه
منـــــت زاري تـــــۀ د هیچـــــا نـــــۀ منـــــې
اوس د پښـــتون د توپـــک ډز تـــه تهینـــګ شـــه
مهجـــــوره! اوس دې زغمـــــې وار د پښـــــتون
راغلـــې مېـــدان تـــه اوس دا ګـــز تـــه تهینـــګ شـــه

««««»»»»

یادګېرنــه:ما دا نظــم هغــه وخــت لــیکلے ، کلــه چــې بهټــو صــېب د هغــه وخــت صوبه سرحد (پښتونخوا) او بلوچستان حکومتونه مات کړل-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پرېغل د څوکې بازه

د غلیم د ارادو د زړکو شلې کړه وزرې
شابه بیا په مخه واخله دغه شنې سپینې کونترې
د حالاتو ګڼه وږي ته د هوا مخالف زور ته
چې زړۀ وانۀ چوې ګوره ته الوت کړه لرې لرې
بیا په زور دې وزرو یو فضا کړه ځان سازه
د پرېغل د څوکې بازه

نا خبرې د حملې نه سېل سېل شنې ډېرې ګرځي
وزر جوړ کړه یؤ ګزار ته چې یؤ یؤ شي ډېرې ګرځي
غړۍ چګې دې نیولې مردار خورو په مردارو
زلزله یې په دنیا شه ټپوسان بې ویرې ګرځي
تۀ باچا یې د مارغانو اراده وکړه درازه
د پرېغل د څوکې بازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــهٔ بـــې خوفــه بــې خطــره د پرېغــل نــه تــر شـــواله
د ځـــوانۍ پـــه طاقـــت ګرځــه د جنـــوب نــه تــر شـــماله
اســتعمار د ازمـــري هـــم کـــړه هوســـۍ تـــه بـــې مجالـــه
هــر غــرور هــره مســتي هــم چــې د شــېر اوځــي لــه خيالــه
ســـتا نـــرے غونـــدې اواز د ے زوراورلـــه هـــر اوازه
د پرېغـــــــــــل د ځــــــــــوکې بــــــــــازه

ستا پنجـې دې زمـا خوښـې نـوم دې هـم د ے پـه مـا ګـران
لــه خوښــۍ نــه پــه خنــدا شــم تــهٔ چــې ګرځــې پــه اســمان
دبــدبې تــه دې حېــران يــم بــې وقعتــه کــړې مارغـــان
يــۀ وخــت داســې ؤ چــې وو ســـتا هــر صــفت د مســلمان
خـــو افســوس چـــې هغـــه لاړل نـــا خبــر يـــو مـــونږ لــه رازه
د پرېغـــــــــــل د ځــــــــــوکې بــــــــــازه

ســـتا ګـــزار چـــې تنـــدريز د ے پـــه دنيـــا د شـــنو کـــونترو
ؤ تســـخير د کائنـــات د صـــحابه رض نيـــت بـــې وزرو
تمنـــا د شـــهادت تــــه ضـــرورت نـــهٔ وي د زغـــرو
شـــهبازي ګـــزار تــــه نــهٔ وي وخـــت د چغـــو د خبـــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــاخبر ؤ ابــو جهــل هــم لــه مغــوذ رض او لــه معــاذه رض
د پرېغـــــــــــل د ځـــــــــــوکې بـــــــــــازه

پـه محـل کښـې مناسب نـۀ دي سـتا ځـالې او سـتا ځلـې
ډېـر بـه بـد ښـکاري مـاښو کښـې بـازه سـتا د ځـالې خلـې
اَشِـــد اءُ عَلَـــی اَلکُفـــارِ رُحَمَـــاءُ بیَـــنِهم یا ســـت
بـازان چـا نـۀ دي لیـدلي چـې د یـۀ بـل سـره نښـلي
د مرحـوم امـت صـفت د ے تاکښـې اوس هـم تـرو تـازه
د پرېغـــــــــــل د ځـــــــــــوکې بـــــــــــازه

تـا تـه اوس هـم شـابه یـاده شـهبازي د پـلار نیکـۀ ده
هـای افسـوس زمـونږ نـۀ هېـره نـن ماضـي د پـلار نیکـۀ ده
زنـدګي مـو کلـه یـاده حجـازي د پـلار نیکـۀ ده
تـا تـه یـاده پـه ښـۀ ډول زنـدګي د پـلار نیکـۀ ده
تـۀ د وخـت د تېـر بـدو نـه ځکـه ګرځـې بـې نیـازه
د پرېغـــــــــــل د ځـــــــــــوکې بـــــــــــازه

ژاړم ځکـه نشـانې د تېـر امـت ویـنم پـه تـا کښـې
د بخښـلو او وژلـو وو خویونـه پـه هرچـا کښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــهٔ يـؤ نخښبــه د مرحــوم امــت يــې پــاتې پــه دنيــا کښــې
ســتا جـرات ســتا حوصــله ده پــه امــت د مصــطفیٰ کښــې
ســتا پــه شــان پــه هــر باطــل بــه وه حملــه د دوي ممتــازه
د پربغـــــــــل د ثـــــــــوکې بـــــــــازه

ســتا پــه زور کښــې د وزرو عجيبــه شــان زور ګيــري ده
پــه پنجــه کښــې چــې ســتا راشــي دايــې نخښبــه دمرګــي ده
ســتا صــفت خېبــر شــکن دے ســتا حملــه هــم حېدري ده
د مارغـــانو پـــه ســـومنات دې اراده د غزنـــوي ده
د مهجـــور د زړګـــي ســـره د محمـــود د زړۀ ايـــازه
د پربغـــــــــل د ثـــــــــوکې بـــــــــازه

«««««»»»»

يؤ شعر

اے شـــپونکيه د شـــنو غرونو ستاشپېلۍ کښـــې زنـــدګي ده
اســـويلے پکښـــې غرېـــبې اســـوېلے ســـتا د زړګـــي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دهقان ته

پیغمبر د خوشحالي دې تا محنت دے
د ژوندون باعث د نورو ستا همت دے
د وطن په خړو خاورو کښې لوبېږې
ستا مقام په خړو خاورو کښې اوچت دے
اے دهقانه د خوارو نه دې قربان شم

تهٔ د ژوند عیش و عشرت څه پېژنې
تهٔ خوب ارام د سره نهٔ پېژنې
څه شے چې تهٔ ترټولو ښهٔ پېژنې
هغه ستا کار دے هم یې تهٔ پېژنې
د دې څېرې بڅه جامو نه دې قربان شم

چې سېراب دې پرې فصلونه د وطن کړل
چې پرې زیات د نعمتونه د وطن کړل
چې سېوا دې پرې خوندونه د وطن کړل
خړ پټې دې چې باغونه د وطن کړل
ستړیه وروره د خولو نه دې قربان شم

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون ته

اے بهـــــادره غېرتـــــي پښــــــتونه
اے ننګياليـــه ســــرحدي پښــــتونه
اے د اســــلام او د پښــــتو خاونـــده
چـــې يـــې شـــېدا پـــه ازادي پښــتونه

زړۀ خــو مــې غــواړي چــې دې وســتايمه
خــو دا لفظونـــه بـــه لـــه کومـــه غـــواړم
پښـتونه ځوانـه کـه د پـلار غونـدې شـوې
نــو ســتا پــه پــلار پســې بــه ونــۀ ژاړم

پښـــتونه ځوانـــه ځـــواني ښـــکلې لـــرې
چـې خفـه نـۀ شـې څـو عېبونـه هـم شـته
مـــنم چـــې ژبـــه خـــو د پـــلار وايـــې تـــۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پــلار دې نــور څـو ميراثونــه هــم شــته
د پــلار شــړۍ هــم درتــه پــاتې څــو ده
ګــوره چــې هلتــه پتلونونــه هــم شــته؟

پښـــتونه ځوانـــه ابـــدالي څــوک ؤ
تاتـــه معلـــوم دے ننګيـــالے پښـــتون ؤ
څــه لــرې يــاد شېرشــاه ســوري څـوک ؤ
هــو هــو خبـــر يـــې بريـــالے پښـــتون ؤ
وروره خوشـــحال د اکـــوړي څـــوک ؤ
افـــرين پـــوی يـــې تـــور يـــالے پښـــتون ؤ
پښـــتونه ځوانـــه ګـــوره پـــړ نـــه شـــې تـــۀ
د زمـــري زويـــه چـــې ګيـــدړ نـــۀ شـــې تـــۀ

ځـــان تـــه دنيـــا چـــې کـــوم حېرانـــه نـــۀ کـــړي
دا بـــې همتـــه بـــه پښـــتون څنګـــه وي
خپلـــه لېلـــیٰ چـــې لـــه ســـر ګرانـــه نـــۀ کـــړي
دا ســـې عاشـــق رښـــتيا مجنـــون څنګـــه وي
چـــې د غلـــيم خونـــه پـــرې ورانـــه نـــۀ کـــړي
اثـــر د هســـې ځيګـــر خـــون څنګـــه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې صدقه خپل زر له ځانه نه کړي
دغه قارون دے بل قارون څنګه وي

پښتونه ځوانه پے د مور یادوه
آ غېرتي شوده خو تا څښکلي دي
انجام یې څه شو هغه نور یادوه
کوم چې اوده له دې دنیا تللي دي
ته د نیکانو هغه شور یادوه
چې له دنیا په شور د چا تللي دي
چا کړه اباده غېر اباده دنیا
خو هائے افسوس چې نن د چا ده دنیا
زۀ چې شم ځوان نو ابیاري به دې کړم
د پښتون خاورې دا لوظونه کؤم
کوشش بیا بیا د ابادۍ به دې کړم
لوظ کؤم څو قسمونه کؤم

د حیا دارو په حیا مې قسم
د وفادارو په وفا مې قسم
د عاشقانو په ژړا مې قسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسینانو په ادا مې قسم
د چګو غرونو په هوا مې قسم
او د شنو ونو په نڅا مې قسم
د سروګلونو په ګډا مې قسم
د بلبلانو په غوغا مې قسم
د خوشحالو په شنه خندا مې قسم
او په موسم د پربغل خوا مې قسم
په انتظار د چادچا مې قسم
او د بیلتون په ورځ رڼا مې قسم
په کار نامو د پېوندا مې قسم
په سیاست د شهزادا مې قسم
په دغه خپل بېګا سبا مې قسم
د ازادۍ په ابتدا مې قسم

په بې وسلې کړې غزا مې قسم
او دایمان په ولولا مې قسم

چې لا ترا وسه امزریان پکښې شته
چې لا ترا وسه مومنان پکښې شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـې لا تـر اوسـه مېرنيـان پکښـې شـته
چـې لا تـر اوسـه تـور زنـان پکښـې شـته
دا پـــه مـــونږ ګرانـــه لکـــه ځـــان خـــاوره
زمـــونږ د خپـــل پښتونســـتان خـــاوره

پـــه دا قســـم کـــه دروغـــژن ومـــه زهٔ
پښـــتونه ځوانـــه بيـــا بـــه وژن ومـــه زهٔ
کـــه پـــه ريـــا ســـره غمجـــن ومـــه زهٔ
بيـــا بـــه پـــه خـــوے خصـــلت پمـــن ومـــه زهٔ
اوس يـــم حېـــران کومـــه قيصـــه اولـــيکم
زهٔ ســـتا صـــفت کـــه مرثيـــه اولـــيکم

«««««»»»»

يادګېرنـه دا نظـم مـا پـه کـال 1964م کښـې لـيکلے ؤ- چـې زهٔ د اتـم جماعـت طالـب علـم ووم- دغـه څـه خـاص معيـاري نظـم خـو نـهٔ دے خـو زهٔ يـې بغيـر د څـه اصـلاح او کمـي بېشـي نقـل کـوم- پـه دې خيـال چـې لوسـتونکو تـه هـم د اتـم ټـولګي ډېـر هلـک شـاعر انـدازه اوشـي- او ماتـه هـم د خپلـې ډېـرې لـرې ماضي څه يادګېرنه اوشي-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قطعات

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــؤ امریکــي ؤ بــل تــه وبــل چــې فکــر وړے یمــه
قیصــه جنجــال تــه ورځ پــه ورځ د دې اولــس ســره ځــي

مــا وئیــل چــې دا پنجــابے نــۀ دے چــې تېزونــه کــوي
پښــتون ســنګر تــه چــې ورځــي نــو د اودس ســره ځــي

«««»»»»

ســـوے زړګـــے یـــې چـــې لـــوګے کـــوي
هغــــه مــــین تــــل اســــویلے کــــوي

وختــــه ناتوانــــه بوډاګــــان څــــه کــــوې
تــــا ســــره منــــډه بــــه ځلمے کــــوي

«««»»»»

پــوے د ژونــد نــۀ پــه بېګــا نــۀ پــه ســبا شــوم
ان تــر دې چــې کــم وبــېش اوس د اویــا شــوم

د ځــوانۍ ارمــان ســلګۍ وهــي پــه زړۀ کښــې
د ځـــوانۍ ارمـــان کومـــه چـــې بـــوډا شـــوم

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوځول د پردو زوړونو اسان کار دے
د زخمي زوړونو ملهم پټې مشکل دي

راشه دا کارونه زده کړه چې سړے شي
سرپیتوب د غوځو زړونو رغؤل دي

وانړه کال 1969م

«««««»»»»

بیلوي سره دوه ورونه په بېګا یا په سبا کښې
عجیبه غوندې منظر دے په نقشه د پښتونخوا کښې

دېوال هسک دے ترې دیدن ته دغړي هسکول ګران دي
په ارمان به یؤ بل ګورو د سپوږمۍ ښکلې رڼا کښې

«««««»»»»

ته پرونۍ قیصه هم مه ماته کوه
خو ځار دې شم وعده هم مه ماتوه

دې تا په یوه مسکاماتیږي ګله
ښکلیه زما توبه هم مهٔ ماتوه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاست د پېچ و تاو په مینځ کښې
خبره ورځ په ورځ جنجال ته درومي

د جمهوریت د ناوې ترۀ خفه دے
د اقتدار ډولۍ بنګال ته درومي

جمرود کال 1970م

«««««»»»»

هره ورځ دې چې په نوي رنګ کښې وینم
ستا د حُسن ورځ په ورځ موسم بدلیږي

ګل چې کومه جامه واغوندې خو ګل وي
خوند کوي چې هر سحر شبنم بدلیږي

جمرود کال 1970م

«««««»»»»

چې تا وینم اشنا نو سوچ مې یوسي
ښومره ښکلې دې د سترګو دا بانه دي

تۀ خو یې زما په زړۀ کښې خو تۀ وایه
ښکلیه یاره چې دې تا په زړه کښې څه دي

جمرود کال 1970م

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتر ګې هــــر خـــوا اړوم د چـــا پـــه تمـــه
د زخمـــي زړګـــي زمـــا نـــه درمـــان ورک دے

خـــو ارمـــان دے چـــا تـــه پتـــه نشـــته خدایـــه
چـــې زمـــا نـــه ځـــومره ښـــکلے جانـــان ورک دے

«««««»»»»

اشــــنا دا څـــــه عجـــب ســــړے یمـــه زۀ
شــــومه جــــوت پــــه عاشـــقانو کښــــې زۀ

بیمـــــار دې زۀ یمـــــه خــــو تـــــا غــــواړم
د هســــــپتال پــــه بیمـــــارانو کښـــــې زۀ

نوښار کال 1973م

«««««»»»»

## لیډرانو ته

مـــونږ تـــه لالـــچ د دولـــت مـــۀ راکـــوئ
زمـــــونږ دا خپلـــــه غریبــــي ښـــــۀ ده

خـــو مـــونږ لـــه کـــاره پـــه جلســـو مـــۀ باســـئ
زمـــــونږ دا خپلـــــه مـــــزدوري ښـــــۀ ده

وانه کال 1969م

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سـرې خـو ،،هـو،، او ،،نـا،، وي د سـرې
هـم بېګـا هـم يـې سـبا وي د سـرې

تـش پـه ړيـره پـه بربتونـو هـم کـار نـۀ شـي
چـې خويونـه زنانـه وي د سـرې
وانه 1969م

«««««»»»»

يـۀ تربـور مـې پـه ،،تورمانـدې،، دا خبـره وکـړه
کـور کښـې د مـړه وے خـو چـې دومـره لـرې تللي نـۀ وے

مـا ورتـه اووې چـې لا اوس هـم ډېـر راغلـي نـۀ يـو
وې يې چې کـوردې مرګي ړنګ کړے چې ښاغلي نه وے
ستمبر کال 2004م

«««««»»»»

ځکـه نـه کسـي زمـا د سـترګو کسـي
چـې ړانـده شـو د هـر چـا د سـترګو کسـي

زمـا کسـي دې نـۀ کسـي د چـا کسـي
کـه مـې کسـي د اشـنا د سـترګو کسـي

مډل اسکول کړمه کال1964م جماعت هشتم
«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـې دې پـه زړۀ بانـدې داغونـه راکـړل
بیـا دې رټلـي څوابونـه راکـړل

غلـے سـړے یـم پـه خلـه نـۀ وایمـه
ګنـې تـا څـومره تکلیفونـه راکـړل

مډل اسکول کرمه کال1964م جماعت هشتم

«««««»»»»

عشـق مـې ربښـتونے دے دعـویٰ کومـه
کـه سـربدل د یـؤ دیـدار غـواړي

خـو دا قیصـه خـو راتـه ګرانـه شـوه اوس
چـې د خـان لـور ده مـوټر کـار غـواړي

مډل اسکول کرمه کال1964م جماعت هشتم

«««««»»»»

چـې پښـتو د کلیوالـو پـه شـان نـۀ کـړې
بیـا پښـتون چـې ځـان تـه اونـۀ وائـي ګـوره

د ترلـي مـې د کمڅـو سـره سـم نـۀ دي
سـتا دا ښـکته للیـدلي بریـت تربـوره

مډل اسکول کرمه کال1964م جماعت هشتم

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشـــنا چـــې نـــهٔ منـــې زمـــا خبـــرې
ښـــهٔ ده نـــو خوښـــې مـــې دي ســـتا خبـــرې

خـــدا ایېګو اشـــنا چـــې څـــه خبـــره خـــو ده
چـــا درتـــه کـــړې دي نـــن بیـــا خبـــرې

«««««»»»»

هـــیڅ یـــې هـــم قـــدر د جمهـــور نـــهٔ کـــوي
مســـتر بهتـــو د کرســـۍ وېـــش غـــواړي

د جمهـــوري ګټـــې امیـــد یـــې نشـــته
ځکـــه مجیـــب اوس بنګلـــه دېـــش غـــواړي

«««««»»»»

سیاســت پــه عاشــقۍ کښــې هــم شــروع شــو
مســـاوي تقســـیم د ښـــکلیو هـــم پکـــار دے

څـــوک ســـاړه ســـاړه اهونـــه کـــوي بیـــا هـــم؛
یـــؤ نـــیم کـــس د ټولـــو ښـــکلیو جـــاګیر دار شـــي

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځـې مـې تـل پـه زړۀ کښـې څـه غـواړې
هـن اشـنا در واخلـه زړۀ کـه زړۀ غـواړې

دا بـه لـه مـا هېڅکلـه پـوره نـۀ شـي
تـۀ تنکـي زلمـي پـه وينـو سـره غـواړې

«««««»»»»

پـلار تـه دې وايـه چـې انکـار اونکـړي
پښـتون زلمـے يمـه زۀ مـړي کـؤم

خـو زۀ هغـه پښـتون هـم نـۀ يمـه چـې؛
پـه سـرو منګلـو پـه تـا پـړي کـوم

«««««»»»»

چـې پښـتونخوا پـه وينـو رنـګ شـوه مـا څـه ونـۀ ليکـل
کوڅـه کوڅـه کښـې مېلـه ړنـګ شـوه مـا څـه ونـۀ ليکـل

مـا وې دڅـان سـره بـه تولـه پښـتونخوا ژړوم
خـو دقلـم څوکـه مـې زنـګ شـوه مـا څـه اونـۀ ليکـل

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــــونږ خبــــره بــــه وي بلــــه بلــــه
خـــو تـــرې دنیـــا جـــوړوي بلــه بلـــه

زمــا یــوه بــس ده هغــه نــور دي اشــنا
چـــې هـــره ورځ خوښـــوي بلـــه بلـــه

وانه کال 1969م

««««»»»»

مـــا ورتـــه وېـــل چـــې ښـــۀ د کـــار خلـــق دي
د ښـــۀ کـــردار د ښـــۀ ګفتـــار خلـــق دي

جانـــان مـــې رو غونـــدې پـــه غـــوږ کښـــې اووې
,,دا شـــاعران هـــم ښـــۀ وزګـــار خلـــق دي،،

««««»»»»

مـــدام د ننـــګ او دغیـــرت خبـــرې
او د خپـــل ملـــک او د ملـــت خبـــرې

خلـــق دې خېـــر دے هرڅـــه هرڅـــه وائـــي
مـــونږ بـــه کـــوو د محبـــت خبـــرې

««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



حـــد راکـــوه راتـــه حدونـــه مـــۀ ږده
ډ بــر ښــۀ مــې پېژنــې شــرطونه مــۀ ږده

پــه ظلــم مــۀ ګــوره همــت د پښــتون
پــه دا کــوه کــن دپاســه غرونــه مــۀ ږده

وانړه کال 1969م

«««««»»»»

ښـکلیه سـبا بـه خـدا ے زده کلـه راځـي
لېـــونے زړۀ خـــو مـــې لا نـــن ژاړي

د مـــرګ پـــه غـــم نــۀ ده ژړا د مهجـــور
خـــو پـــه بـــې یـــاره ژنکـــدن ژاړي

وانړه کال 1969م

«««««»»»»

مـــا وې تنهـــاکې بـــه مـــې اووینـــې د پښـــو دلبـــره
ابلـې پښـې سـتا د کـور پـه خـوا کښـې ګرځېـدلے یمـه

د ختهـــو جـــوړ کورونـــه وران د چـــا د لاســـه دي پـــروت
پـــه ړنګـــه پنګـــه پښـــتونخوا کښـــې ګرځېـــدلې یمـــه

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غیرت په سر بازۍ کښې چې شي وروستو
شرموي چې د قام غړي په شرمونو

د ترلې مې حیاداري کمځې ښې دي
که تربور مې څو نازیږي په برېتونو

وانه کال 1969م

«««««»»»»

د دنیا په هر یؤ ښکلي څیز مین یم
زۀ په حُسن مین یم په خلقو نۀ

هر څښتن د تورو سترګو زما یار دے
زۀ په وارو مین یمه په یؤ نۀ

«««««»»»»

ترینه اوري که تروې ترخې خبرې
خو حق تل خوري د باطل سره ډغرې

تاریخ ویاړي د روښان په ملنګانو
که لښکرې د اکبر وې زوراورې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې د وطــن غریبــه پېژنــې څــه؟
ســترګې ســره دې د محنــت ټېټــې دي

دا چــې دې ډکــې ســتاله وینــو زوو
غریبــه ســتا دښــمنې دا خېټــې دي

«««««»»»»

څــوک غمجــن دي چــې بېګــا لــه بــه زۀ څــه خــورم
د چــا نــه خوښــېږي دا چــې بــه څــه څــه خــورم

څــوک حېــران د خوراکونــو انتخــاب تــه
څــوک خفــا چــې بــه ډوډۍ او کــه وابــه خــورم

جمرود کال 1970م

«««««»»»»
بس کښې چې مړ شي پنجابې نو ورکړې لس لکه ته
ځکه چې دا دې پنجابې او پنجابي هم قیمتي دې

چــې پــرې زاړه کوټــه راپربــوځي او پښــتون مــړ شــي
نــو پنځــه لکــه دي ډېــرې پښــتون کــم قیمتــي دې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه کــور چــې اووځــي پښــتنه بــې پــردې
جــامې یــې هــم وي دا ســې ســپکې غونــدې

چاتــه بــه ښــکلې لکــه حــوره ښــکاري
خــو ماتــه ښــکاري د شیشــکې* غونــدې

*شیشکه مسید و کښې نخرې ته وائي-

«««« »»»»

ســړي تــول پــه نــوم ســړي دي خــو ښــاغلي دي تــول چرتــه
دا ازلـــــي برخــــه رســــي یــــؤ نــــیم بختــــور تــــه

لرپښــتون کــه ســترګې پټــې کــړې چــې خبــردے زۀ خــوبچ یــم
د بمونـــو د مـــور بـــوئي بـــه را رســـیږي پېښـــور تـــه

«««« »»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هائیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشـــلې ځـــووني زيـــږه پګـــړۍ دې پـــه ســـر
داســـې کشـــيږی لکـــه وليـــږ دې چـــې
پـــه دوا کـــي جينـــګ د منـــي زيـــړې ګېـــدۍ

«««««»»»»

زۀ تـا پـه خـوب کښـې تـۀ مـاخوب کښـې وينـې
چې زۀ ځـان خـوب کښـې تـۀ ځـان خـوب کښـې وينـې
راشـــه بـــدل کـــړو چـــې خوبونـــه ســـره

«««««»»»»

دا بيـــر ســـر خيـــرې ګرېـــوان يـــې ولـــې ؟
مـــا وې چـــې دا ليـــونے ســـتا مينـــې کـــړم
اشـــنا مـــې وېـــل چـــې دهشـــت ګـــرد ليـــده شـــې

«««««»»»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشــنا چــې زۀ او تــۀ يــؤ ځــا ے شــو ســره
نــو خيــال کــوه چــې بــد باطنــه رقيــب
پــام کــوه ســرجيکل ســټرايېک اونــۀ کــړي

««««»»»»

مــا ورتــه وئيــل چــې دومــره ښــکلے يــې تــۀ
چــې ســتا پــه شــان بــه پــه جهــان کښــې نــۀ وي
اشــنا مــې وېــل چــې چاپلوســي مــۀ کــوه

««««»»»»

خـتم شد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**